منبع الجهاد

علمي او جهادی میاشتنی خپرونه

Ahmad Shah Wahdat Yar

موږ هغو خلکو ته چې
له نجیب او یا دهغه له
بادارانو سره پټې سازشونه کوي
دا په ډاګه وایو هرهغه حکومت چې
دروسانو په خوښه په افغانستان کې راځي
هغه به عیناً دتره کي ، امین ، ببرك او نجیب دګوډاګي رژیمونو په شان وي. «حقاني»

الحاج مولوي
جلال الدین حقاني
دقوماندانانو دشورا
په مطبوعاتي
کنفرانس کې :



بسم الله الرحمن الرحیم

الٰهی فرمان

ژباړه: ای مؤمنانو! د خپلې ډلې نه په غیر همرازه دوست مه نیسئ (ځکه) چې دوی ستاسې په مقابل کې د فساد (ضرر رسولو) څخه ډډه نه کوي، هر هغه څه چې تاسې ته تکلیف درکوي دوی خوښوي.

په رښتیا سره چې د دوی بغض د دوی له خولې (له خبرو) څخه څرګند شوی دی او هغه څه چې د دوی زړونه یې پټوي (د هغه نه) غټ دی. بېشکه چې موږ تاسې ته آیتونه بیان کړل، که تعقل کوئ (له عقل څخه کار اخلئ).)

آل عمران سورة، څلورم سپاره (۱۱۸) آیت

منبع الجهاد

علمي جهادي مياشتنی خپرونه

موسس : الحاج مولانا جلال الدين «حقانی »

دتاسيس کال : ۱۳۶۸هـ ، ش - ۱٤۰۹هـ ، ق

دوهم کال ، شپږمه گڼه . د۱۳۶۹ هـ ش . قوس - د (۱٤۱۱) هـ ق ، جمادي الاول

دهيئت تحرير تر نظر لاندې

مسوول مدير : الحاج شهرت «ننگيال »

مرستيال : سيدمحي الدين «هاشمي»

کمپوزر : احمدضياء «ذهين بابري »

مکاتباتي پته :

پوست بکس نمبر (۱۰۳۳)

يونيورستي ټاون - پيښور

شمير	عنوان	مخ

۱-سرمقاله ....(۲)
۲- هغه پوښتنه چي... (سياسي تبصره).....(٥)
۳- دکمونيزم کاغذي زيرځواک ....(۸)
٤- سياست ضدوحدت ملي ....(۱۰)
٥- بنگله ديش دبحران په ....(۱۲)
٦- ددکتورعبدالله «عزام» شهادت..........(۱٥)
۷-دانتفاضه غورځنگ داشغالي فلسطين......(۱۸)
۸-دافغانستان په جهاد کي ....(۲۳)
۹-ظاهرشاه هغه آسمان ا‌ِيي.. ....(۲۸)
۱۰-دوسپنيزهودخاوند:مولاناجلال الدين حقاني(۳۱)
۱۱- دقوماندانانو مطبوعاتي کنفرانس.........(۳۳)
۱۲-زه دواحد قيادت له پاره دالار..(مرکه)...(۳۸)
۱۳-نظامي ښوونه اوروزنه ....(٤٥)
۱٤-جهاددشعراوادب په پلوشوکي...........(٤۷)
۱٥-بي ځوابه پوښتني(تکل)...............(٤۹)
۱٦-انصارشاعران........................(٥۱)
۱۷- ملکوتي نعره (لنډه کيسه)..............(٥٥)
۱۸-ولسي ادبيات ....(٥۷)
۱۹-راغلي ليکونه ....(٦۳)
۲۰-ابدي ژوندي ....(٦٦)

بسم الله الرحمن الرحيم

سر مقاله

دمجاهدینو ستر پرمختګونه اوداستعمار دزړو حربو نوي تاکتیکونه

دجهاد پر ضد دنړیوال استکبار دناځوانمردانه توطئو اوسازشونو دځنځیر یوه کړۍ هم پدې وروستیو کې ژنیو ته دنجیب سفر اودهغه یو لړ له حقیقت څخه لیرې اودروغجنې ادعاګانې وې چې ويې کولې شواې دڅوورځو له پاره دنړۍ دخبري منابعو اودډله ایزې مفاهمې دوسایلو پام ځانته راواړوي اودنړیوال استعمارله پاره دیوه بل قدم دپورته کولو زمینه برابره کړي.

ژنیو ته دنجیب سفر ناڅاپي ښه لرله، خوداهم یو واقعیت دی چې ددغه سفر له پاره له مخکې دروس امریکا دپخوانیو موافقاتو په بنا ښه زمینه سازي شوي وه.

داداسې وخت ؤ چې له یوې خوا دمجاهدینوعبوري حکومت په هیواد کې دعاموانتخاباتوله پاره دلویې جرګې دغړو دټاکنې له پاره خپل فعالیتونه ښه ګړندي کړي ؤ-

اودهیواد داخل ته دانتخاباتو دنظارهیئتونو دلیږلو مخ په پیلیدو وه اوله بلې خوا دقوماندانانو شورا دپرمختګ سرمنزل ته په چټکۍ سره قدمونه اخستل چې دحل دیوې واقعې لارې امیدونه یې راتازه کړي اوژوندي کړي وو.

موږدلته دعبوري حکومت دانتخاباتو دطرحې په کمزوریو اوخامیو خبرې په خپل ځای پریږدو اولدې سره چې په عملي ساحه کې ددغه طرحې مشکلات خوراجوت دي بیا هم دیوه نسبي توافق پر بنا چې دجهادي تنظیمونه پرې مفاهمې ته رسیدلي وو دروس امریکا له پاره دزغم وړنه ښکاریده.

له بلې خوا دقوماندانانوشوراد يوي واحدي جنگي ستراتيژۍ اودولس اومجاهدينودسرتاسري وحدت په لارکي داسي مؤثر فعاليتونه په لاراچولي چي دنړيوال استعمارد پليتو اهدافو دمخنيوي اوله منځه وړني بشپړ واك اوقوت ورسره دي .

لدي سره دپښوا په نسبت دجهادي تنظيمونوترمنځ داختلافاتو اوزړه بداېو پخواني تاوتريخوالي هم ترېوه حده اوپه نسبي توگه دله منځه تللو په حال کي وو اودمنځ ته راغلي رکود اوبن بست دله منځه وړلو امکانات له پخوا زيات روښانه ښکاريدل.

دشرق اوغرب استعماردعغه اودي ته ورته مانوروپه اجراُکولو کي ځوهدفونه لرل: يو داچي نړيوالو ته داوښيي چي په ريښتيا هم نجيب دسولي غوښتونکي دي اوحتي پدي لارکي له خپل مخ په زوال موقف څخه تيريدو ته هم تياردي اوپدي ډول نجيب ته په اصطلاح دسولي يوداسي ماسك ورواغوستل شي چي دهغي ترشا دي خپله خونړۍ اووحشي څيره پټه کړي شي.

په همدي وخت کي چي نجيب کچکول په غاړه په اصطلاح دسولي دراوستلو له پاره په ژنيو کي په بوه اوبله دروازه کي دڅدوپه هلوځلوبوخت ؤ دهيواد دننه دروسي الوتکو سختي بمبارۍ اودسکډتوغنديو بې دريغه گوله باريو په هيوادکي داوراووبڼوبارانونه اوروول اودبيگناه ولس دمرگ اوبربادۍ په لارکي روسي وسيلي په پوره بې دردي سره چليدلي .

خوبيا هم نجيب په ډيرۍ شرمۍ سره دسولي دراوستلودعواكوله اودايي عنوانوله چي دي غواړي بوه داسي حل ارتوافق ته ورسيږي چي جگړه ختمه اوسوله اوامنيت ټينگ شي خوداهم بوداسي واقعيت دي چي انکارتري ناشوني دي اوهغه داچي په افغانستان کي دجنگ عامل څه شي دي؟ دادلمرپه څيرروښانه ده چي په هيواد کي دجنگ عامل نجيب اودده لاس كينولي اوملحد رژيم دي چي په افغانستان کي دروانو ټولو بدبختيو وژنو اووېنو توبولومسووليت بې په اوږو باردي .

مجاهدين دجنگ ددوام هيله من ندي مجاهدين هم په خپل هيواد کي دواقعي سولي اوامنيت ريښتياني غوښتونکي دي ، خوداسوله هغه وخت منځ ته راتلي اوامنيت ټينگيداي شي چي دجگړي عوامل له منځه ولاړشي اودهغه جريانونواوحوادثومخه ونيول شي چي دجنگ اسباب اوعوامل بې رامنځته کړي اوداښکاره خبره ده چي دجگړي عامل دهغه ملحد اوگوډاگي رژيم اودهغي بقا يادي چي دروسي ټانکونو اوالوتکو په زورپه کابل کي دقدرت په گدۍ کينول شويدي .

ژنیوته دنجیب دسفر پرامې یوه صحنه هم دایران په مشهد کې دده تم کیدل ؤ اوداداسې وخت ؤ چې دمجاهدینو ځنې مشران هم په ایران کې ؤ اوپېدې پول داډرامه دېوې داسې حربې په توګه داستعمالیدو له پاره درخت په سکرین ښودل کیدله چې دمجاهدینو ترمنځ دبې باورۍ اودملت دتشویش اودنړیوالو په سترګو کې دخاورې اچولو کارترې واخیستل شي .

نجیب دادعواهم وکړه چې په ژنیوکې بې دده په وینا دمقاومت دځنویه اصطلاح اعتدال خوښوله استازوسره کتلې اریولړتوافقاتو ته هم رسیدلې دي !!!

خوداواقعیت دي چې هیڅ مجاهد افغان له نجیب سره خبروته نشي حاضریدلې ځکه نجیب دټول افغان ولس دمجرم حیثیت لرې اوله داسې یو سترمجرم سره هیڅوک هم دخبرو اومفاهمې واك اوزړه نشي کولې.

دژنیو له سفرڅخه چې نجیب دراګرځیدو پروخت په کابل کې کومې ادعا ګانې اوڅرګندونې وکړې داخپله دنړیوال استعمارتوطئوڅخه پرده پورته کوي .

نجیب وایې چې حاضردې ظاهرشاه دعبورې دورې له پاره ومنې خوپدې شرط چې دخلق پرچم له غړو سره به دتیرواعمالو په اړه محاسبه نه کیږي .

پدې اړه ښایې ووایو چې تراوسه په نړۍ کې هیڅ یوه قانون اوسیستم کې ددې خبرې ځاي نشته چې یوه مجرم اوجنایتکارته ددې تضمین ورکړل شي چې له هغه سره به دکړیو جنایتونو اوجرائموپه هکله محاسبه نه کیږي.

اوبله داچې په افغانستان کې دحکومت واګې دداسې چاحق دي چې له ولس سره بې په تیرو غملړیو دوولس کلونو ارتباط ټینګ پاتې وي اوپه عملي پول سره دولس په څنګ کې ولاړوي اوملت ته دخدمت اوصداقت مصدرګرځیدلې وي .

لنډه داچې دروس امریکادګډو سازشونو دغې څپې ته چې هغوي څومره هیله من ؤ،هغه بې په زړه کې وچه پاتې شوه-نه بې دنړیوال ذهنیت داړولو په رابطه څه بریالیتوب وګټلې شواي اونه بې هم دمجاهدینو ترمنځ داختلاف په تشدید کې څه موثررول ولوبولې شو.

پدې پول دروس-امریکا داتوطئه له یوه بل داسې شکست سره مخامخ شوه چې غوښتل بې دهغې له لارې دخپلوسازشونو دتطبیق په لاري کې ترې ډیره ګټه پورته کړي.

په پاي کې ښایې ووایو چې دنړیوال استکبارتوطئې رواني دي،خو هغه څه چې ددغو توطئو اوسازشونومخه نیولی شي،هغه پراخې اریاځې اتحاد دي اوبس. راځئ! چې دهغه حرکت ملاتړوکړو چې دولس دسرتاسري اتحاد اوواحدې ستراتیژۍ درامنځ ته کیدو په لارکې په اصولي اومنطقي توګه دقوماندانانو دسرتاسري شوراپه چوکاټ کې پیل شویدي اودابې شکه دټولوله پاره وروستي چانس اوفرصت دي اوبس .

هغه پوښتنه چې خواب غواړي ...!

هدایت الله «هجرت»

واقعیت دادی چې دادیره دردوونکی ده چې یوی لویی امپراطوری ته ترماتی ورکولو وروسته هم دافغان ننګیالی قام سرنوشت اومستقبل لانامعلوم اومبهم پروت دی ،

په وطن کی یی هماغسی دجګړی لوخړی دی ، دهیواد پایتخت یی دپردیو دمزدورانو په لاس کی دی ، په ملیونووطنوال یی له کورکلی نه اواره دی اووطن ته یی دسولی دراتلو په لارکی لاخنډونه اوواټنونه دی .

پدی کی شك نشته چې افغان ولس دروسی لښکروله وتو سره جوخت له یوی نوي وضعی سره مخامخ شو نورلویدیځ په افغانستان کی خپل هغه هدف ترسره شوی ګاڼه ، دکوم لپاره یی چې دروسی پوځ دموجودیت په صورت کی زموږدمقاومت ملاتړکاوه .

دروس - امریکاترمنځ دتفاهم اودیتانت سیاست ډیر پرمخ تللی ؤ-له روسیی نه هغه تصوراوبرداشت چی یوه خطرناکه یرغلګره امپراطوري ده خپل ځای دی ذهنیت اوتحلیل ته پریښود چی هغه یوه ماتی خوړلی اودویش پردرشل ولاړه استعماری قوه ده .

دی خبروطبعاً زموږدقضیې په برخه کی دنړیوالو تودوالی راکم اوه ددی ترڅنګ مسکو په کابل کی خپلو ګوډاګیانو ته خطر ناکی وسلی ورکړی اوهم لویدیځ طاقتونه له روسیی سره په ګډ تفاهم اوتحلیل پدی بوخت شول چی دمجاهدینو دقاطعانه پوځی فتحی مخه ونیوله شی اودنجیب درژیم بقا اوږده شی، خوداټول بهرنی عوامل وو یا زموږدواك اوارادی له ساحی نه په وتلی فضا اوحالت پوری تړلی وو اوبیا هم دنوروپه تصمیم اواقداماتو پوری اړه درلوده .

موږدومره کولای شوای چی مقابلی ته یی ځان چمتو کړو، نه داچی عملی میدان ته یی دراوتو مخه ونیسو ، خودا زموږ بشپړانقلابی رسالت ؤچی له نوی وضعی سره مودخپل انقلاب مخامخ کیدل تحلیل کړی وای اوورته پیشبین وای اوپدی موکارکړی وای چی څه ورکولای شو دزړو اونویو تولوښتونزو اواصطکاکونوله منځ نه ځان دوروستی فتحی پړاو ته ولیږدوو مګر موږ باید پدی خبره اعتراف وکړو چی متاسفانه ، نه

داچی نوی حالت مو په وخت اټکل اوتحلیل نکړای شواودهغه بریالی مقابلی ته مو ځان جوړنکړای شو دخپلو ځواکونوپخوانی شور اوحرکت موهم ونشو ساتلای !

اوددی طبعی نتیجه داشوه چی دزمانی ګراف زموږپرخلاف وخوځید اونن دادی دوه کاله په پوره کیدو دی چی روسی لښکری وتلی‌ځونه یواځی داچی په کابل کی دنجیب بدنام رژیم پروت دی ، زموږپه قضیه کی نوی پیچلتیاوی اونوی کړکیچونه رامنځ ته شوی اودکوم مقتضی ابتکار اواقدام امید ډیره ځنډ منه بنه غوره کړه .

باید داومنو چی په افغانستان کی دروسیی دګوډاګی رژیم دختمولو اوپرځای یی دمجاهدینو دحکومت جوړولو زموږجهادی قوتونه دبهرنیو طاقتونو له بدو دسیسو اوناوړه ځو سره لاس ګریوان شول مګر له دی خبری هم انکارناممکن دی چی دروس لښکرودوتو په وخت موږله خوراښوشرایطو اوښه موقعیت نه برخمن وو دلسو کلونو بریالی جګړی تجربه وه راسره،لوی لوی نظامی ځواکونه مودرلودل هغه چی په نورواساسی مشخصاتو برسیره دیوی تاریخی فتحی په روحیه اوموړال هم سنبال وو.ملت مو په ټول اخلاص ، صداقت ، میړانه ، شهامت اووفا دجهادی جبهو ترخنګ ولاړو ، دښمن مو فوق العاده وارخطا اولړزانده ؤ دیوه مؤمن ملت دقهراوجنګ ضربی یی اعصاب ورګډوډ کړی وو اوورروستی تیښتی ته یی پوره تیاری نیولی ؤ .

که جهادی قیادتونوحالات سم تحلیل کړی وای دنویو شرایطو اونوی چاپیریال راوړاندی کیدو ته پیشبین شوی وای اودهغه په پام کی نیولو سره یی خپل شرایط ، ځواك اوستراتیژی عیاره کړی وای زموږله هیواده به دجګړی دعواملو تغر ورټول ووءمګرعملاً داسی وشول چی موږله نوی وضعی سره دمخامختیا په درشل کی له څه محدودو شکلی اومیکانیکی هلو ځلو پرته دهیڅ اساسی اودینامیك فوق العاده حرکت اوابتکارمظاهره ونکړه اوله همدی امله ؤ چی دیوه پریکنده ابتکاریوه ښه موقع مو له لاسه ووته .

خیرداخو دتیروخت خبره وه !

اوس حالت داسی دی چی متاسفانه نه یی په تحلیلی لحاظ ځوك له ابهامه ایستلای شی اونه په عملی - له تحلیلی لحاظه زما مطلب دادی چی فعلاً چی کوم شرایط اووضعه حاکمه ده هیڅوك نشی کولای دهغی ادامه اواوږدیدل زموږدجهاد دهدف په تحقق باندی تمامیدونکی ثابت کړی اوله عملی اړخه هم داسی کوم ټول اړخیزحرکت نه لیدل کیږی چی منطقی انجام یی دوضعی دمعقول اومطلوب بدلون راوستل وی ، نو په یوه داسی حالت کی هغه ملت ته چی دوولس کاله جنګیدلی ، شهید شوی ، ټپی شوی ، بی کوره شوی،تن یی ګړم کړم دی،

کاملاً طبعی ده چی وپوښتی څه به کیږی ! څه وکړو اوڅه ته

> **که جهادي قیادتونو حالات سم تحلیل کړي وای، دنویو شرایطو اونوي چاپیریال راوړاندي کیدو ته پیشبین شوي وای اودهغه په پام کي نیولوسره یي خپل شرایط ځواك اوستراتیژي عیاره کړي وای زموږله هیواده به دجګړی دعواملو تغرورټول ؤ .**

امیدوارشو ؟»
داپوښتنه دهرمسلمان افغان په شونډو خوره ده اواسانه اوسطحی پوښتنه هم نده دهغه دسرنوشت ، دهغه دمستقبل اودهغه دټول شهید ، مهاجر اومجاهد قوم دهدف اوآرمان خبره پکی نغښتی ده اومنطقی ځواب غواړی ! موږباید ددې خبرې کول پرځانواجب وګڼوچی داهغه پوښتنه نده چی دپوښتنې په حیث به دشونډو دزمزمو اوکورنیومجلسونو په پولو کی بنده پاتی کیږی موږباید متیقن واوسو چی که یې دځواب بندوبست ونشی دابه په یوه لوړغږاوفریاد اوړی اوبیا دیوه عملی اومشهورحرکت بڼه غوره کوی!! بیا به خدای (ج) خبرکوم په کمین کی ناست غلیم په هغه وضعه کی خپل اهداف ترلاسه کوی هلته به په موږدهرڅه ناوخته دی !!

یکارده چی دهغی بدی وضعی ترراتلو دمخه ځوواری په خپل

حالت سوچ وکړو اودخپل مستقبل په لوری وړاندی وګورو.
اوس هم لا دسبه فکراوښه سنبالښت کافی فرصت لرو .
ملت له خپل ټول کړاواومحرومیت سره سره اوله ټولو ورسره شویو جفا ووسره سوه په پوره قاطعیت

داسلامی انقلاب دشعار، نظریی خط اوهدف ترشا ولاړدی ! هیڅ ستونزی اوناخوالی یی دهمت اومیړانی ارادی ته دتزلزل لارنده

موږباید په دې خبره اعتراف وکړوچې متاسفانه . نه داچې نوې حالت مو په وخت اټکل اوتحلیل نکړاې شو اودهغه پریالې مقابلې ته مو ځان جوړنکړاې شو . دخپلو ځواکونو پخوانې شوراوحرکت مو هم ونشو ساتلاې ! اوس دد ې طبعیې نتیجه داشوه چې دزمانې ګراف زموږپر خلاف وخوځید.

میندلی ! جهادی ځواکونه اوجنګی جبهی مواوس هم دپلیتوکمونستانو له کرغیړن وجود نه دوطن دبیخی پاکولوروستی ابتکاراو وروستی معقولی قوماندی ته انتظارباسی له دی امله ددی ټول امکانات پر ځای پراته دی چی دیوه مبتکرانه ...

اومعقول حرکت په رامنځ ته کیدو مو دوروستی منزل دلاندی کولو معما حل شی،خوکه داسی ونشی چی شاید افغان غیرتی ملت ځو سهاره نوره هم پدی پاس صبر اوانتظاروکړی چی له دوی سره مو په لومړی کرښه داسلام اواستقلال جګړه کړی خوکه دوضعی دبدلون انقلابی هاندونشی دقوم دصبراوانتظارکاته به دکیږی ...!!



دکمونیزم کاغذي زبرځواک خیرات تبولوي!

لیکوال: شیرمحمد

دهغه وخت راهیسی چی په روسیه کی دکمونست گوند دقدرت په گدی کښیناست دروسیی پر خلکو په تیره بیا دمنځنی اسیا داسلامی جمهوریتونو په خلکو باندی ددی ملحدی دلی له خوا داسی ناوړه ظلمونه ترسره شویدی چی هیڅ انسان اوسلیم عقل ته دمنلو وړندی .

پدی اویا کلنه توره دوره کی دروسیی په جمهوریتونو پوری مربوط په سلو کی ۹۰ انسانان دغلامانو اومریانو په شان استثماریدل اودیوی خاصی طبقی (کمونستانو) دآرامی اوسوکالی لپاره په خدمت بوخت ؤ ، دوی نه یوازی داچی دکاراوزحمت ثمره یی دجابرانو اوبی دینانو په جیب کی لویدله بلکی ددوی عقایدو ، رسومو اوعنعناتو ته هم سپکاوی کیده.لنده داچی دهرډول آزادی څخه محروم وو، دروسیی له جابراوظالم حکومت څخه دخلکو کرکه اونفرت ورځ په ورځ زیاتیده خوله بده مرغه دکمونستو واکدارانو له خوا داسی قوانین اواحکام نافذ شوی وو چی حتی چا دخبرو کولو جرأت هم نه درلود نوموړو واکدارانو ددولتی ضد غورځنگونو په مقابل کی دوله ایزووژنو اونیونو څخه صرفه نده کړی،په ملیونونو انسانان پدی نامه ددوی دناولو منگلو ښکارشول ، په زرگونو کورنی له خپلی پلرنی خاوری څخه په جبر اوزورسره لیری سیمو ته واستول شول ، اوهلته دډول ډول کړاونو اوستونزو سره په مقابله کی یا خپل ژوند له لاسه ورکړ اویا یی دستم شپی ورځی سبا کولی.که دامظلوم انسانان وږی وواویا تږی ، په تن لوڅ ؤ اویا پښی ابلی خو دویلو اوبیان جرأت ورسره نه ؤ ځکه چی مبادا ددولتی ضد تبلیغاتو په تورسری وژونکو وحشی کمونستانو په لومه کی ونه نښلی .

خلک پدی مجبوروو چی دکمونستو ډلو دهرډول پریکړو پلوی اوملاتړ وکړی اوټول اوامر یی بی له قیداوشرط څخه ددوی په خوښه ترسره کړی دسرغړونی په صورت کی دژوند پایښت ورته محال ؤ ، دکمونستانودقدرت په اویا کلن تاریخ کی ددوی په ټولو غونډو کی داسی نده پیښه شوی چی په یوه مسٔله کی دی څوک مخالفه اویا مستنکفه رایه ورکړی ، عوامو خلکو ته خو دنظردڅرگندولو اجازه هم نه وه .

کله چی په افغانستان کی داسلام

مینو مجاهدینو دسربښندنو اومقاومت په نتیجه کی همدغه زبرځواك کمونست حکومت له شرموونکی ماتی سره مخامخ شو نودروسیی په دننه کی هم دخپلواکی غوښتنی اودکمونیزم دله منځه وړلو لپاره پاڅون پیل شو ، په روسیی پوری تړلی ۱۵جمهوریتونو یو په بل پسی دآزادی اوخود مختاری غږونه اوچت کړل ، خلکو دمظاهرو اواعتصابونو له لیاری دکریملین دواکدارانو داستعفا اودکمونیزم دفاسد رژیم دختمولو غوښتنه وکړه .

دکمونست گوند دمؤسس لینن مجسمی دجمهوریتونو په گوټ گوټ کی دخلکو دقهراو غضب په ځپو کی رانسکوری شوی ، دلوراوځتك غولوونکی سمبول چی په اصطلاح دکارگرانو اوبزگرانو داتحاد نښه وه دخلکو له خوا دکارگرانو او بزگرانو دځپلو اسارت اوښکیل کولو دسمبول په توگه وپیژندل شو .

دکمونست حکومت اصلی څیره بربنډه شوه نړیوالو ولیدل چی افغانانو په تش لاس خودایمان اوعقیدی په زوراودخدای (ج) په مرسته دغه کاغذی زبرځواك داسی په گونډو کړچی اوس دجگیدو توان نلری ، هغه هیواد چی ترپرونه یی دکمونیزم ترعنوان لاندی دمادی نعمتونو دپریمانی اودخلکودسوکالی وعدی ورکولی اوس دنوروهیوادونو مرستی او کمك ته سترگی په لاردی.لدی څخه څرگندیږی چی دوی یواځی اویواځی دخولی اوژبی مداریان وو ، دوی وکولی شو چی دخپل دیکتاتوررژیم پوسیله دروس ۲۸۵ملیونه نفوس پته خوله اوتشی گیډی په سختو اودرندو کارونومجبور کړی .

سره له دی چی په روسیه کی پخواهم په مارکیټونو اومغازو کی دموادو داخیستو لپاره کتارونه دریدل اودځنو موادو درانیولو لپاره یی دری څلورساعته په انتظارکی تیرول خودکریملین دواکدارانو پر ضد دخلکو وروستی دریځ دروسیی اقتصاد ته داسی ضربه ورکړه چی دیوه کال په اوږدو کی له سختی قحطی اوساړه ژمی سره لاس په گریوان شول .

ددی ناوړه اغیزی اصلی علت دادی چی پدی هیواد کی دبډو اخستو ، اختلاس چوراوچپاول مسلهٔ چی دکمونستو واکدارانو له خواد عملی کیده ، هډو بازخواست نه ؤه دهیواد ټوله شتمنی ددوی له خواتالاکیدله چی اوس یی ځانونه پری ښه ماړه کړیدی ځکه دوی پوهیدل چی یوه ورځ به زموږواکداری ختمه شی اوهرڅه به پر موږودریږی .

پداسی حالاتو کی چی خلك له قحطی سره مخامخ دی اودشوروی جمهوررئیس گورباچوف خپل دبهرنیو چارو وزیر شوارد نادزی ته

پهٔ(۲۹)مخ

په روسیه کې د خوراکی مواد له کمښت څخه وروسته وگړي دخوراکي موادو په پلورنځیوکې د سخت انتظار په حال کې لید ل کیږي

سیاست ضد وحدت ملي رژیم کابل

نویسنده :سمیع الله «تازه»

سیاست های استعماری واستثماری همیشه ودرهمه جا همسان ویا مشابه بهم بوده وآنهای که درپیشبرد این سیاست پلید عهده دارهستند نیزتقریباً ازطریق ووسایل مشابه کارمیگیرند .

مردم افغانستان که درطول هزاروچارصد سال بارشته پولادین معنوی اسلام بهم گره خورده اند درطی دهه ها وصده ها دربرابرحوادث وتهاجمات ازبیرون ودرون چون انگشتان یکدست،بهم فشرده گشته وبه مشت واحد علیه دشمن مبدل شده اند .

این حقایق درمجاهده مردم مسلمان افغانستان علیه قدرت استعماری انگلیس درصده نزده اشکارگردید ،انگلیس بخاطرسلطه برخاك افغانستان وادامه حاکمیت برمردم وکشورما ازنیرنگ های مختلف کارگرفت که درسرخط آن «پلان تفرقه بیاندازوحکومت کن» درج بود.

عوامل وجواسیس انگلیس بخاطرتحقق مرام پلید شان درکشورمابراساس پلان یادشده به تفرقه اندازی میان مردم ما به عنوان مذهب ،زبان،منطقه وحتی رنگ جلد اقدام نمودند که نمونه مثال آن رامردم ما بشمار زیاد بیاد دارند وازآنجمله صرف از«تورگوند» و«سپین گوند» متذکر میشوم که مردم ماسالها باین نام علیه یکدیگر سلاح کشیدند .

بعد ازاخذ استقلال افغانستان ازانگلیس ها بخاطررفع عواقب ناهنجار سیاست استعمارگرانه انگلیس ها کاروفعالیت صورت گرفت که بالاخره تفرقه میان مردم ما به عنوان مذهب،نژاد ، زبان ویا محل تاحدی قابل ملاحظه کاهش یافت.

باکودتای کمونستی هفت ثوربرنامه کمونست ساختن جامعه رویدست گرفته شد وتمام مصالح ملی به بیگانگان فروخته شد، کودتای مذکورعملاً زمینه رابرای هجوم عساکر روسی برکشورما مساعد ساخت وروسها بعد ازتجاوز برکشورما برنامه وسیع وقبلاً طرح شده راکه براساس ادامه اشغال افغانستان ودستیابی به آبهای گرم بود ،به نامهای مختلف به اجرا گذاشتند.

هدف اساسی روسها درافغانستان، نخست شکستن ونابود نمودن اتحاد ویکپارچگی اسلامی وملی مردم ما ،کنترول وبالاخره برگرداندن مسیر تمام بخش های اقتصادی سیاسی واجتماعی ازمسیر اصلی نه به منفعت مردم افغانستان بلکه به نفع خودشان بوده است.

روسها باین حقیقت واقف بودند، درصورتیکه اندکترین اتحاد میان مردم افغانستان موجودباشد آنها بزودترین فرصت روس ها راازخاك

خویش بیرون خواهند ریخت، لذا درقدم اول به تطبیق سیاست لادینی ودرقدم دوم به جداسازی اقوام وملیت های برادرساکن کشورپرداختند،که درحقیقت همان سیاست «تفرقه بیاندازوحکومت کن »سیاست انگریزی بود .

روسها بخاطرتعمیق تفرقه ملی که بدترین بدبختی برای ملت ها وممالک ها بشمار میرود ریاست قبایل راکه قبلاً نیزروی اهداف مداخله گرانه روسها درامورسرحدی اساس گذاشته شده بود به سطح وزارت اقوام وقبایل ارتقا بخشیدند .

اگر کارهای انجام داده شده وزارت مذکوررابررسی نمائیم دیده میشود که هدف ازتأسیس آن فقط وفقط ایجاد وتشدید تفرقه میان قبایل وملیت ها ی ساکن کشوربوده است.

وزارت اقوام وقبایل رانیز چندین روسی که یقینناً عمال سازمان جاسوسی بدنام روس کا، جی ، بی بودند رهبری می نمودند ووزیر صرف بحیث ماموراجرای اوامر آنها بوده است .

براساس سیاست خائینانه روسها کمونست های رژیم ملحد کابل نیز ملیت های مختلف رابه شیوه های تحریک امیز تمویل وتغذیه می نمودند ،براساس این سیاست قبایل واقوام مختلف راعلیه یکدیگر تحریک ویا بدون استحقاق بان شکل روی صحنه آوردند که دیگران علیه آن تحریک گردند.

وزارت اقوام وقبایل رژیم کابل برهنمایی جواسیس کا،جی ، بی بخاطربهم اندازی مردم افغانستان برای نخستین باربه ایجاد غندهای قومی وملیشا پرداخت تا بتواند ازاهالی درمقابل مجاهدین شجاع که بخاطر حراست ازارزشهای مذهبی وازادی وطن شان می رزمیدند بحیث سپر استفاده نماید ، ویاهم ازمردم یك منطقه علیه مردم مناطق دیگر به نفع خویش استفاده نمایند .

اموراین وزارت نزدروسهای فاسد که برتمام امورکنترول داشتند آنقدرارزش داشت که وزارت مذکورازیکطرف با وزارت خاد رژیم درتوأمیت وهمکاری مستقیم قرارگرفت وازطرف دیگر یك بودجه کلان رابخاطر فرستادن جواسیس بطرف سرحد وایجاد بدامنی درپاکستان بدست آورد .

این وزارت که ظاهراً منظورخدمت به اقوام وقبایل مختلف کشورراداشت درواقعیت به بذرتخم نفاق وشقاق پرداخت .

کارکنان بالائی بادادن رشوه وبا ایجاد رفاقت با مشاورین روسی ازاختیارات وصلاحیت های وسیع برخوردارمی شدند بناء عملاً هرکس تلاش می کرد تاباستفاده ازصلاحیت مشاورین روسی به قوم وقبیل خویش مساعدت رساند .

که درنتیجه نه تنها وزارت

بقیه درصفحه (٦٥)

با کودتاي کمونستي هفت ثور برنامه کمونست ساختن جامعه رویدست گرفته شد وتمام مصالح ملي به بیگانگان فروخته شد . کودتاي ثورعملاً زمینه رابراي هجوم عساکرروسي برکشورما مساعد ساخت وروسها بعد ازتجاوزبرکشورما برنامه وسیع وقبلاً طرح شده راکه براساس ادامه اشغال افغانستان ودستیابي به ابهاي گرم بودبه نامهاي مختلف به اجراگذاشتند.

بنګله دیش دبحران په منګولو کی

جنرال ارشاد

له بهرنیو منابعو څخه :
ژباړن: شهریار

بنګله دیش تر(۱۹) کالو وروسته یوځل بیا دسخت بحران سره مخامخ دی اودتاریخ له یوی حساسی مرحلی څخه تیریږی.

دجنرال یحیٰی دې کفایتی، دبوټو اومجیب الرحمن دځیر کتیا اوهم ددی دوو ځنځیری کړیو له امله دهندوستان دسازش په نتیجه کی رامنځ ته شوی دغه هیواد، پر له پسی دبحرانونو اوطبیعی آفتونوسره لاس اوګریوان دی اواوس دنړی په وروسته پاتی لسو هیوادونو کی دتاسُف وړمرحلی ته رسیدلی دی . دغه هیواد چی په اسلامی نړۍ کی دنفوس په لحاظ ترانډونیزیا وروسته دوهم مقام لری او۹۵٪ فیصده یی مسلمانان دی دسخت افلاس اوغریبۍ سره مخامخ دی .

سرکال دجولای په میاشت کی دسرکاری بودجی داعلان په وخت کی داسی دردوونکی حقائق څرګندشول چی دځپل هیواددتولیدی وسایلو عایدات یواځی ٪۸ فیصده ښودل شوی وو اوپاتی نور٪۹۲فیصده یی دبهرنیو هیوادونو په پوراومرستو پوری اړه لری چی ددوی دغه اقتصادی تباهی دسیاسی اوضاع دنه تینګښت نتیجه ده اوهم دهندوستان استثماری منګولی دی چی ددوی په ټولو ګټوباندی یی لګولی دی .

همدا وجه ده چی ددی ملک اقتصادی متزلزل حالت ددوی په سیاسی، ژوندانه اواجتماعی اوضاع باندی منفی اغیزه کوی اواوس ددغه کشمکش نه یوبل تازه بحران رامنځ ته شوی چی هندوستان په کی پوره لاس لری .

دبنګله دیش اصلی بدقسمتی داده چی په تیرو (۱۹) کلونو کی یی دخلکو لپاره دمنلو وړکوم قانون اونه کومه دیادولو وړکارنامه ترسره کړی ده .

په بنګله دیش کی هربدلون دپوځ له لاری رامنځ ته شوی دبنګله دیش دبنسټ ایښودونکی اوړومبنی حکومت دپوځی کودتا له لاری پای ته ورسید اودبنګله بند هو ټوله کورنی په کی ووژلی شوه. دمجیب دمرګ نه وروسته خوندکرمشتاق احمد دجمهوری ریاست په کرسی کښیناست، خودری

میاشتی لانه وی تیری شوی چی دده اکی دفرقی جنرال خالد مشرف دهغه دواکمنی ملن ورتوله کره اوپخپله داقتدار په گدی کښیناست.

ده هم دځلوروورځومیاشت ونه لیده په ځلورمه ورځ دده اکی په فرقه کی دوهمه کودتا وشوه اوجنرال ضیا الرحمان اقتدار ترلاسه کړ.

د۱۹۸۱ع کال دمی دمیاشتی په دریمه نیته په یوه بله پوځی توطنه کی ضیاُ الرحمان شهید اودوسله والو پوځونومشر جنرال ارشاد دجمهوری ریاست دمرستیال قاضی عبدالقادرمرسته اوپلوی وکړه اودمړشوی رئیس جمهوردجوړی کړای شوی پارتی(B.N.P) له لاری یی کاندیداوداقتدارواگی یی وروسپارلی.په ۱۵نومبر ۱۹۸۱ کال جنرال ارشاد په یوه اخباری کنفرانس کی په ښکاره تکووویل چی حکومت ته دفوځ خبره اوریدل اودهغی درول تاکل لازمی ده.

همغه وه چی ۱۹۸۲ دمارچ په ۲۳مه جنرال ارشاد هم دیوی پوځی کودتا له لاری اقتدارترلاسه کړاوپه ټول مملکت کی یی نظامی حکومت اعلان کړ.

اوس ۹ کاله وروسته جنرال ارشاد دخپل مطلق العنانی حکومتپه نتیجه کی رامنځ ته شوی سیاسی عکس العمل ښکاره اقتدارې پریښود اوپه یوه پوځی چاونۍ کی پناه اخیستو ته مجبورکړای شو ،دده دحکومت په ماتیدو کی پوځ مهم رول ولوبوه دپوځ مسرلښکر جنرال نصرالدین دخپل سلف په برخه کی دمحاکمه کولوخبری کوی.

پوځ داځلی په ښکاره دول کودتانده کړی اوپه اقتدارپی قبضه هم نه ده کړی خودجنرال ارشاد دملګرتیا نه لاس په سراوهغه یی استعفا ورکولو ته مجبورکړ اودستری محکمی قاضی القضات شهاب الدین یی دانتقالی حکومت دجمهوری ریاست دکفیل په توګه ټاکلی دی چی په ۹۰ورځو کی دننه ، دننه به عمومی انتخابات کوی اوداسی ښکاری چی دغه انتخابات به دراتلوونکی کال دفروری په ۱۷یا ۱۸مه نیټه ترسره شی .

دجمهوررئیس ارشاد حکومت په حیرانوونکی بڼه اود۷ورځو په موده کی په ډیره چټکتیا له منځه لاړ.

په ۲۷ تاریخ دفسادونو اوالوګولو طوفانشروع شو چی محمدارشاد اضطراری حالات اعلان کړ .

دمجیب لوراودعوامی لیګ مشره حسینه واجد اودجنرال ضیا الرحمن کونده خالده ضیاءچی د(BNP) مشره هم ده نظربندی کړای شوی،په نشراتو یی بندیزولګاوه په جلسو مظاهرو اواعتصابونو باندی یی بندیزولګولو مګرپه راروانه ورځ دپولیسو اومظاهره چیانو ترمنځ

> **دبنګله دیش هیواد په اسلامي نړۍ کی دنفوذ په لحاظ تراندونیزیا وروسته دوهم مقام لري ، نوي فیصده وګړي یي مسلمانان دي.ددغه هیواد وګړي دسخت افلاس اوغریبۍ سره مخامخ دي.**

خونړۍ نښتی وشوی ځای پر ځای ډزی وشوی دارګ رابطه دنور هیواد سره وشکیده په احتجاجی توګه یوه ورځپانه هم چاپ نه شوه. په دریمه ورځ یعنی په ۲۹ نومبر دپوځ اودراپاریدلو خلکو ترمنځ جنګونه وشول اوترنامعلومه وخته پوری مارشل لا ولګولی شوه په ۳۰ نومبر دجنرال ارشاد دورکیدو خبرراغی اوپه دریمه ورځ هم کومه ورځپانه چاپ نه شوه .

په اول دسمبر په ډ اکه ، چټاګام ، اوکهلنا کی دسختونښتو اوډزو پیلرکی دمړوشمیر ۵۰ تنو ته ورسید

په دی ورځ هم په ټول هیواد کی کاروباربند وُ .

په ۲ دسمبر هم دمظاهرواوجنگونولړۍ روانه وه اودجمهوریت داستقرارپه خاطر دغربی ملکونوپه نوم دشیخ حسینه واجد له خوا یو پیغام خپورشو .

په ۳ دسمبر جنرال ارشاد پیشکش وکړو چی دانتخاباتو نه ۱۵ورځی وړاندی به استعفی ورکوی لیکن دمخالفو ډلو ټولو گوندونو دده داغوښتنه رد کړه اودده نه یی دسمدستی استعفی ورکولو غوښتنه وکړه .

په ٤دسمبر په د اکه کی دلکونوخلکومظاهره وشوه اوجمهوررئیس ارشاد مستعفی شو ، هغه ددسمبر په ۸ مه پارلمان هم راوغوښت خوپه سبا یې هغه دډ اکی په عسکری چهاونۍ کی په پناه اخیستو اړشو په همدی ورځ یعنی په ٥دسمبر شیخ حسینه واجد اوخالده ضیاءملت ته په راډیو اوټلویزیون وینا وکړه، دغه وینا دپوځ دملگرتیا نه په غیرنه شوه کیدای ددی سره یی اضطراری حالات پای ته ورسیدل اوقاضی شهاب الدین دجمهوری ریاست دوکالت سوگند پورته کړاوسوگند هم جنرال ارشاد له ده څخه واخیست دمحمد ارشاد دحکومت

په پای ته رسیدو په هندوستان کی خوښی روشوی اوپه همدی ورځ جنرال نورالدین دجنرال ارشاد دمحاکمه کیدو اعلان هم وکړ.

سیاسی ډلو دده ددی خبری بشپړ ملاتړوکړکه څه هم دجمهوری ریاست کفیل شهاب الدین تردی دمخه ځان بی طرفه باله خووروسته دی ته اړشو چی ووایی دجنرال ارشاد محاکمه یوه ضروری خبره ده ، ددغو منظموپیښو څخه څرگندیږی چی دڅوند کرمشتاق

گوته کوی چی جنرالانو دجمهوررئیس ارشاد په ضد کودتاکړی وه . که هغه له اقتدارنه لاس په سرکیده نوتخته یی پری اړوله ، داسی ښکاری چی پوځ دی استعفی ورکولو ته اړایستی دی البته په دی لړکی حسینه واجد اوخالده ضیاء نه دگوډاگواولاس پوڅو کاراخیستل شوی دی.دجنرال نورالدین سره دهمدی ورځی دخبرله مخی دامریکا سفیرلیدنه کتنه وکړه اودپوځ مثبتی کړنی

دبنگله دیش اصلي بدقسمتي داده چي په تیرو (۱۹) کلونو کي یي نه خودخلکولپاره دمنلو وړکوم قانون اوکومه دیادولووړ کارنامه ترسره کړي دي

احمد"یا قاضی عبدالستارپه ډول دنمایشی خیروترشا دوړاندنیو دوه کودتا گانو په شان دایوه پوځی کودتاده .

دهندوستان خوښی دحسینه واجد خپره شوی وینا ددسمبر د٤ نیټی اعلان ټول حقائق اوعملونه په ښه ډول څرگندوی چی پوځ ته به هیڅکله دپوځی حکومت داعلان اجازه ورنه کړای شی .

پوځ ته دنړدی منابعو له خوا په جنگ کراچی کی ددسمبر په ۱۰نیټه خپورشوی خبرهم داوضاع داصلي بڼی په هکله داحقیقت په

اوفعالیتونه یی وستایل دجنرال ارشاد عادتونه اوکړنی په خپل ځای - خو دلته داخبره دفکروړده .

په دی سیمه کی چی کوم حالات اواوضاع رامنځ ته کیږی په هغی کی اوس دامریکا اوهندوستان دخوښی اوناخوښی یوشان نږدیوالی اوممائلت لیدل کیږی .

موږ په بنگله دیش کی دجمهوری نظام رامنځ ته کیدوسره خاصه علاقه اومینه لرو خوتشویش مو په دی ټکی کی دی چی هسی نه بنگله دیش دسیکولر جمهوریت ښکاراوتردی زیات دهندوستان

پاتی ٦٤مخ

دشهيد دوكتور عبدالله «عزام» شهادت

امت ته دوحدت پيغام

محمد زبير «شفيقي»

نن موږ ديوپرديس شهيد اومخلص غازي دشهادت ړومبى كليزه لمانځو، نن ديوه هسي اتل په ياد اوښكي څڅوو چي اسلامي امت اودافغانستان سپيڅلي جهاديي لاخدمتونو ته اړ او محتاج ؤ ،

نن دحق دلاري ديوه نه ستړي كيدونكي مسافراونه مايوسيدونكي غازي په باب درسره خبري كوو.

نن دهغه چا په باب يادونه كووچي مسافر هم ؤ اومقيم هم مسافرځكه چي دسليمان (ع) اوداؤد(ع) له تاټوبي نه د «جهاد »او «هجرت» ديارته راغلي ؤ اومقيم ځكه چي هغه د «هرملك ملك ماست كه ملك خداي ماست » دنظريي اوعقيدي علمبردارؤ اوپه رښتيا چي هغه ته دخپل نصب العين اوهدف په لاركي ظاهري پولي اوديوالونه خنډنه شول ، نه دكوم نژاد اوژبي په چاپيريال كي ايسارپاتي شو اونه دژوند لذتونواونعمتونو ته په كرار.

نن موږدامت دنامتو سردارشهيد دوكتورعبدالله «عزام» داتلوال شهادت ړومبى كليزه لمانځو اودامت ددغه ستر ميړه اواتل بچي يادژوندى كوو.

شهيد دكتورعبدالله «عزام» په ١٩٤١ميلادى كال دفلسطين دجنين ښارپه يوه كلي كي نړۍ ته سترگي وغړولي ، لومړى اودمنځني دوري زده كړي يي په خپل كلي اوښاركي سرته ورسولي ، شهيد عزام له وړوكتوبه د ښه استعداد اوفوق العاده ذهانت خاوند ؤ،كله چي دبلوغ پردرشل پښه ږدي دفلسطين اواسلامي امت ټول دردونه ، ربړونه اورنځونه حس

كوي اومؤمن «عزام » دخپل راتلونكي له ستونزو ، ستومانيو اوحادثو ډك ژوندانه ليكي په نبنه كوي ، شهيد عزام ددمشق له پوهنتون نه دليسانس ديپلوم په ١٩٦٦ كال ترلاسه كوي اوپه١٩٦٩ كال كي دازهرله بين المللي پوهنتون نه ماستري اخلي اوبالاخره په ١٩٧٣م كال دمصرله ازهرنه ددوكتورا شهادت نامه ترلاسه كوي .

شهيد «عزام» دفلسطين دهغو

گوتو په شمارخوسترو غازيانو له جملې نه دی چې وخت په وخت يې غاصبو صهيونستانو ته کلك گوزارونه ورکړی دی .

په لومړی ځل چې په ۱۹٦۷ کال کی دمسلمانانو لومړی قبله «بيت المقدس» اودفلسطين ډيری نوری سيمی ديهودی اشغالگرانو لخوا ونيول شوی استاد عبدالله عزام دغه وضعيت ونشو زغملی ، سمدستي يی دځوانانو يوه ډله جوړه کړه داردن په شمال کی يی يو چريکی مرکزجوړاوپر اسرائيلي قواؤيی چريکی يرغلونه پيل کړل ، خوله څه وخت وروسته چی فلسطين ته دتگ راتگ لړی بلکل وتړل شوی ، شهيد عزام له مجبوری نه بيرته دعلم اوفرهنگ په لوری مخه کړه په همدغه فرصت کی يی له ازهرنه ماسټری اودوکتوراشهادتنامی هم ترلاسه کړی دی ، سربيره پردی شهيد عزام په عمان ، اردن اوسعودی عربستان په پوهنتونونوکی داستاد په توگه دتدريس مقدسه دنده هم سرته رسولی چی دشرعی علومو دتدريس ترڅنگ يی دځوانانو دجهادی اوانقلابی روحيی په روزنه کی پوره لاس درلود چی دهمدغسی فعاليتونو په وجه داردن له پوهنتون نه دهغه هيواد دنظامی ځواکونو په پريکړه برطرف هم شو .

استاد چی کله دعربستان دجدی دملك عبدالعزيز په اسلامی پوهنتون کی دتدريس چاری پر مخ بيولی په افغانستان کی دکفراوکمونيزم پر خلاف دجهاد مورچل جوړشو،دشهيد عزام مجاهدانه روح هغه دجهاد اوشهادت له مورچلونونه لری کله پرينبودلای شوای ، همغه ؤ چی شهيد عزام په ۱۹۸۱ کال ځان داسلام آباد اسلامی پوهنتون ته رابدل کړ ، شهيد عزام پخپله وايی چی ما دافغانستان دجهاد غبرواوريدنو ځکه می ځان دجدی له پوهنتون نه اسلام آباد ته رابدل کړاوکله چی شهيد استاد «عزام» په پاکستان کی پښه کيښوده له همغی ورځی نه يی دجهاد اوشهادت له قافلی سره دپيوستون گام اوچت کړ ،پر هغه دجهاد اوشهادت جذبه دومره غالبه شوه چی بالاخره يی داسلام اباد په پوهنتون کی دتدريس اوتعليم چاری پرينبودی اوتهول ژوند اوهستی يی دجهاد په لاره کی وقف کړه .

شهيد «عزام» دافغانستان دمظلوم اومسلمان ملت اومجاهدينو دښه خدمت لپاره د «مکتب الخدمات» په نوم اداره جوړه کړه چی له دغی لاری يی له عربی هيوادونونه دافغانی غازيانو اومسلمان ملت لپاره زياتی مالی مرستی جلب اوپر مجاهدينو اومهاجرينو وويشلی .

ددی ترڅنگ شهيد دوکتورعبدالله «عزام» پخپله داسلام ديوه سرتير اومخلص سپاهی په توگه دجهاد تودومورچلونوکی شپی ورځی تيرولی،عزام شهيد دافغانستان گوټ گوټ ته تللی دجهاد په سپيڅلو مورچلونو کی يی شپی

نن دهغه ځای په باب يادونه کوو چې مسافرهم ؤ اومقيم هم. مسافرځکه چې دسليمان(ع) اوداود(ع) له ټاټوبي نه د، جهاد، او، هجرت، ديارنه راغلي ؤ اومقيم ځکه چې هغه دټ هرملك ، ملك ماست که ملك خداي(ج) ماست ، دنظريي اوعقيدي علمبردارؤ.

ورځې تيرې کړې ، لوړې تندې اوکړاوونه يې ګالل ،هغه ددې ترڅنګ ديوه متعهد عالم اورسالتمند داعي په توګه دافغانستان دمجاهدينو ديوالې اووحدت لپاره ډيرې ستومانې اوکړاوونه وزغمل ، شهيد عزام دافغان جهاد القدس اوفلسطين دآزادې جهاد ګاڼه ، دغه جهادي دټول اسلامي امت دسرلوړۍاودفاع جهاد ګڼلی وُکوڅکه يې خپل ټول مادي اومعنوي توان دافغانستان دجهاد په مورچلونو کې په کارواچاوه شهيد دوکتورعزام دافغانستان اوامت سرلوړي اوسرخرويي په يووالې اواتحاد کې ليده، هغه داسلامي خلافت دجوړيدو داعي اوآرمانجن ؤ زموږدجهادي قيادت ديووالي په لاره کې يې سترړول درلود اوهغه له شهادت نه دوې ورځې وراندې دافغانستان ددوولويوګوندونو «حزب اسلامي اوجمعيت اسلامي» مشران دخپلو اختلافونو پر ختمولو سره سلا اودوحدت په معاهده لاسليك ته چمتو کړل.

شهيد «عزام» وروڼورودافغانستان دمومن ولس دوګړې وګړې زړونو ته لاره خلاصوله ،دغه داسلام ستر داعي اومجاهد په خپله راسخه عقيده ، فصيحه اوله ميني ډکه ژبه اولهجه دزړونو حصارونه تسخيرول اودافغانستان دسوچه اسلامي جهاد ديوه سترحامي ، ملاتړاومخلص ، دردمنداوهدفمند عالم په توګه راښکاره شو ، خو افسوس چې داسلام دښمنانو دهغه ستر ، اغيزمن اوهوډ من وجود نورونشو زغملی اوبالاخره د١٣٦٨کال دقوس دمياشتې په ١٢مه په داسې حال کې چې دجمعې لمانځه ته له خپلو دوو زلميانو زامنو «ابراهيم» او«محمد» سره دبلال جومات خواته روان ؤ دمخکې ځای پرځای شبوی بم دچاودنې په اثر درې واړه دشهادت وياړلې مقام ته ورسيدل اوپه دې ډول دافغانستان په وياړلي جهاد ديوبل ډير ستروياړورزيات شو ، دفلسطين مسافر اودسينا مجاهد دافغان جهاد په لارکې خپله پاکه وينه تويې کړه اوپه خپلووينو يې امت ته ديووالي پيغام اوافغان جهاد ته دټول اسلامي امت دجهاد اودفاع وياړپريښود ، خوشحاله دې وې دشهيد استاد عبدالله عزام اودهغه دمعصومو زامنو «ابراهيم اومحمد» پاکې ارواوې اوروښانه دې وي داسلام اوقرآن په لاره کې دشهادت اوقربانې ډيوه!«والسلام»

د «انتفاضه» غورځنګ داشغالي فلسطین دآزادیدو په لور

ژباړه : سیدمحي الدین «هاشمي»

کلونه یوپه بل پسې تیریږي خوله خپل هیواد نه بې کوره شوي فلسطینیان له اسرائیلوڅخه دخپلې سیمې دترلاسه کولو لپاره هماغسې دلومړیو ورځو پشان تږي دي.که څه هم ددوی دحقوقو په خاطر دملګرو ملتونو زیات شمیر قرارډادونه هم موجود دي،خوپر اسرائیلو اوامریکا باندې دهغې کوم اغیزنه دي پریوتي . داسرائیلو پر خلاف چې هرقرارداد رامنځ ته شوي امریکا هغه بې له ځنډه ویتو کړي دي . په دې لړ کې امریکا یوازې په دې یوکال کې یوولس ځله دویتو حق استعمال کړی اوداسرائیلو دزورزیاتي ملاتړ یې کړي دي،تردې پورې چې دتیر - نومبر په میاشت کې داقصی جومات ته داخل شویو اسرائیلیانو دوزو له امله (۲۲) تنه مسلمانان شهیدان اوپه لس ګونو نورټپیان شول ، چې امریکا دخپل ملاتړله مخې د یهودیانو ددې عمل غندنه ونکړه .

دابیله خبره ده چې ملګرو ملتونو ددغه تیری اوزورزیاتی په اړه دتحقیقاتو له پاره دیو هیئت دلیږلو فیصله وکړه خواسرائیلو ددغه هیئت دورتګ اجازه ورنکړه .

داخبره هم دآزاداوغیر جانبداره مبصرینو لپاره دحیرانتیا وړده چې دعراق اوکویټ دمسٔلې په اړه یوازې په دوومیاشتو کې دملګرو ملتونو دولس قراردادونه صادرشوي دي ، خوپه تیرودوه ځلوینښت کلونو کې پر فلسطین باندې دیهودو دقبضې سره سره له (۱۵) څخه تر(۱۸) پورې قراردادونه صادرشوي چې په هغو کې هم یوازې له دووقراردادونو نه فلسطینیانوته یوڅه په لاس ورغلي دي اونورټول امریکا ویتو کړي دي . په تیرو ورځو کې چې صدام حسین دخلیج مسٔلې دحل لپاره امریکا ته دخبرواترو کوم وړاندیز وکړ په هغې کې دکویټ مسٔلې ترڅنګ دفلسطین مسٔله شاملول هم یوشرط ؤ .

خوامریکاچې دعربو په داخلي چاروکې دزرګونو میله واړندی نه دسیمې دتهانه داررول ترسره کوي اوپر کویټ باندې دعراق د قبضې

دختمولو په پلمه په سعودی عربستان کی خپل پوځونه ځای پر ځای کوی ،دفلسطین پر موضوع خبرو کولو ته چمتو نه دی .

دامریکا په دغه رویه باید ټول اسلامی امت غوروکړی چی عیسویان اویهودیان هیڅکله زموږدخیرخواهی لپاره نه راځی بلکه دخپلو گټو په خاطر په دغو معاملو کی ځان شریکوی .

عراق چی پر کویټ باندی کوم تیری اوقبضه کړی ده هغې ته ټوله اسلامی نړۍ په ښه سترگه نه گوری. څنو په اعلامیو اوځنو همداسی دعراق ددغه ناوړه عمل غندنه کړی اودکویټ دخپلواک حیثیت دبیرته اعاده کولو غوښتنه یی کړی ده لیکن له دی سره سره اسلامی هیوادونه په دی مسٔله کی دامریکا ټیکداری نشی منلی .

په هرحال ترکومه چی خبره فلسطین ته دخود ارادیت دحق دترلاسه کولو اوپه دغه سیمه کی دیو خپلواک دولت جوړولو پوری اړه لری داموضوع دیونړیوال سازش په نتیجه کی یوی خواته غورځول شوی ، دفلسطین دآزادی دتحریک دادی ٤٢ کاله تیریږی لیکن له نن نه دری کاله دمخه ۱۹۸۷دسمبر په

۸ نیټه دفلسطین مسلمانانو په فلسطینی سیموکی خپل جد وجهد ته یو نوی رنگ ورکړاو دانتفاضه په نوم یی یونوی تحریك پیل کړ ، له دی څخه دمخه فلسطینی اولس یوازی دمظاهرو په ذریعه خپل تحریك چلاوه خو اوس یی دی تحریك ته عملی رنگ ورکړاودهدف په لورپه چټکی سره دمخ په وړاندی تگ هوډ یی کړی دی.

تاسی به دتلویزیون له لاری لیدلی او په خبرونوکی مو اوریدلی وی چی فلسطینی نوی ځوانان ، ماشومان اوښځی داسرائیلو پر پوځیانو دلیندو په وسیله کاڼی ورو ی ،خلك ددی کار په لیدلو حیرانیږی چی په نویو وسلو سمبالواسرائیلی پوځیانو پر خلاف دیو څو نویو ځوانانوله خوادلیندو په وسیله کاڼی ورول به څه نتیجه ورکړی ،لیکن په حقیقت کی دانتفاضه تحریك په سرکی اصلی کاردادی چی له دومره کلونودتیریدو وروسته هم نړۍ اواسرائیلو ته وښیی چی دفلسطین دقضیی مساله مخ په سړیدو روانه نه ده اوپه دغه ترتیب یهودی پوځیان پرله پسی اندیښمن کوی ترڅو هغوی ددی احساس وکړی

چی دوی دسیمی خاوندان اوفاتحین نه بلکه ناجایزه قبضه کوونکی دی اویوه داسی ورځ راتلونکی ده چی دغه قبضه پای ته ورسیږی .

دانتفاضه تحریك هغه وگړی چلوی چی هغوی داسرائیلی قضبی په وخت کی پیداشوی دی اوس چی ددغه تحریك دپیل کیدو دری کاله کیږی فلسطینی ځوانان ، ماشومان ، ښځی اوسپین ږیری هره ورځ یو ځای نه یو ځای په اسرائیلی پوځیانو خښتی اوډبری وروی .

موږدلته دفلسطین دلرغونی تاریخ په باب څه نه وایو خودایوه خبره دیادونی وړبولو چی داوومی عیسوی پیړۍ څخه راواخله بیا ترننه پوری دا(۱۳۰۰) کلونه فلسطین دعربی هیوادونودزړه حیثیت لرلی دی اوداتصورکله کیدلی شی چی عربی نړۍ بی له زړه څخه ژوندۍ پاتی کیدلی شی.له همدی امله عربی نړۍ یو ی خواته اوعیسوی اویهودی بلی خوا په دغوتیرودوه څلویښت کلونوکی په جگړی کی ځان ازمویلی دی .

اصلاً دیهودیانوتحریك دفلسطین داشغالولو په خاطردنولسمی پیړۍ په دوهمه برخه کی په اروپایی ټولنه کی دبنسټیزو بدلونونو څخه

وروسته پیل شو هغو ته دافکر ترهغی وروسته پیداشو چی وپوهیدل هغه یهودیانو چی دمخه په غربی ټولنه مسلط اوحاکم وو داثررسوخ اودبدبی دختمیدلو ویره پیدا شوه دوی ویره درلوده چی داسی ورځ هم راتلونکی ده چی داهر څه ددوی دلاسه وځی ، نو په همدی خاطر هغوی دیهودیانو لپاره دیو ځانگړی هیواد دجوړولو لپاره خبری اتری شروع کړی ، ورو وروپه اروپا کی دیهودیانو تحریك عام شو په دی لړ کی دوی لومړی ځل په ۱۸۹۷ په سویزر لینډکی نړیوال صهیونستی کنفرانس جوړکړ چی په هغه کی یی دصهیونی ریاست لپاره دځای ټاکلو پر موضوع غوروکړ چی په هغو کی ارجنیا ، موزمبیق ، یوگنډا ، جنوبی سوډان ،سری لنکا اوسایرس شامل ووصهیونستی

مشرانوپه دغه کنفرانس کی ددی خبری پر ضرورت هم ټینگار وکړ چی باید ددغه منصوبی لپاره دیو سوپر پاورمرسته اوملاتړ ترلاسه کړی ، نوپه همدی اساس ترټولو دمخه برتانوی حکومت له دوی سره ددغه مقصد لپاره هم غږی شو څکه چی بریتانیا په دغه وخت کی ډیر هیوادونه ترخپل تسلط لاندی درلودل ، په دی طرح باندی فرانسی هم غور وکړ . دفرانسی اوبریتانیا مشرانوداااحساس کړه چی په نوروهیوادونو باندی ددوی مستقیم تسلط ترزیاتو کلونو پوری دوام نشی موندلی .

له بریتانیا نه دهند نیمی قاری ته ځمکنی لاروډیر اهمیت لری اوپه دی برخه کی بوازی فلسطین دی چی دری واړه له دغی لاری سره مخامخ کیدلای شی .

دفلسطین په کنترول کی ډیره ښه گټه داده چی په دی ترتیب دآسیا اوافریقا ترمنځ هم رابطه قایمیږی اوپه دغه مرکزکی دیهودیانو اوعیسویانو ترمنځ مفاهمه هم کیدای شی.

یهودیانو اروپا ته داد ورکړ چی دوی به داروپا لپاره دیو حفاظتی دیوال کردارترسره کړی دهمدغه سازش په نتیجه کی یهودیانو دیوځانگړی ریاست جوړولو دخوب شرمناك تعبیر وکړ، هغوی بیا دنسل اونژادپر بنسټ عام یهودیان لوځاری اوزورزیاتی ته وهڅول اودهغوی په ذهن کی داخبره وگرځیده چی په فلسطین کی دصهیونی ریاست جوړول په نوره نړۍ کی دیهودیانو پر ضد دچلیدونکو تحریکونو لپاره اغیزمن ځواب دی اوپه دغه ترتیب موږخپله بقا ساتلی شو.

دبریتانوی حکومت اعلان دعربو مسلمانانو اوافریقایانو پر خلاف لومړنی سازش اوتجاوزوچی دهغی په وسیله په فلسطین کی صهیونستی ریاست قایمیدلای شو.

پر دغه وخت کی دوی په صهیونستی ریاست باندی دفلسطین دبدلولو لپاره هڅی اوجد وجهد چټك کړ دفلسطینیانو له مقاومت سره سره برتانوی پوځونوپه هغه کی دزیات شمیر یهودیانو میشته کول پیل کړل اویهودیان دوسلی په زورپر فلسطین باندی ورځ په ورځ قابض کیدل ، هغوی چی دفلسطینیانو پر خلاف په کومو جنایاتو مرتکب شوی دی په ټولو کی ورسره دغرب پوځی ، سیاسی اومالی مرسته اوملاتړموجودو . دصهیونستی تحریك عقیده نسل پر ستی ، فاشیزم ،زورزیاتی اوتجاوز دی ، دفلسطین پرخلکو باندی دهغوی دحملو زورزیاتی هدف دادی چی دوی فکرکوی چی هرڅومره دفلسطین وگړی وځپی ، اوشهیدان یی کړی هغومره ددوی لپاره ښه ده

، په دغه لړکی هغوی په سلګونو فلسطینی کلی په بشپړه توګه وېجاړکړی په زرګونو کورونه یی سوځولی اوپه زرګونو بی ګناه ښاریان یی شهیدان کړی دی، له دغو حملو او زورزیاتی سره سره فلسطینیان له خپل هیواد څخه ددفاع تحریك خوځنده ساتی اودغه سیمه په دریمه نړۍ کی ترټولو مهذبه اودلکونو مسلمانانواستوګنځی ګڼی.

ملګروملتونو دفلسطینیانو اویهودیانودشخړی دحل لپاره زیات شمیر کمیټې جوړی کړی دی ، خو امریکا اوبریتانیا په منځنی ختیځ ، آسیا اوافریقا کی دخپلو ګټو په خاطردخپل رامنځ ته کړی یهودی حکومت له هری. طرحی سره دمرستی پریکړه کړی ده .

اوپه دی اساس هغوی دملګرو ملتونو پریکړو اواصولو پر خلاف کارکوی .امریکا دخپل دغه شوم هدف اوغرض ته درسیدو په خاطر د(١٩٤٧) ع کال دنومبر ۲۹نیټی په عمومی غونډی کی دغه قرارداد په وړاندی کولو بریالی شو چی فلسطین په دووریاستونو وویشل شی چی یو دیهودیانو لپاره اوبل دفلسطینی عربو لپاره وی .

خوعربانو داویش ردکړاودیو خپلواك هیوادتقسیمول اوداسی خلکو ته چی دمختلفونسلونو څخه دلته راټول شوی دی دهغی ورکولو مخالفت یی وکړ .

دملګروملتونو ددغه قراردادله منظوررولو نه وروسته پانګه والو هیوادونو سمدلاسه له یهودیانو سره خپلی پوځی اواقتصادی مرستی دوه چنده کړی او دبریتانیا دسازش له مخی یهودیانو په ١٩٤٨ع کال دفلسطین په سیمه کی داسرائیلی حکومت دجوړولو اعلان وکړاوغسی دملګروملتونو دقرارداد په وسیله داسرائیلو یوواحد حکومت دنړۍ په نقشه کی منځ ته راغی.

کله چی اسرائیل دامریکا په مرسته اوملاتړ قوی شو ورځ په ورځ یی پر ټول فلسطین دسلطی حاصلولو هلی ځلی چټکی کړی ، دملګروملتونو په قرارداد ونو یی عمل ونکړ، باید ووایو چی په دی ټولو تیریو اوسرغړونو کی امریکا پوره لاس درلود اولری یی .

داسرائیلو دسرغړونواوزورزیاتی پر خلاف دفلسطین وګړی دخپل هیواددحفاظت په خاطر خپل جدوجهد ته ادامه ورکوی .

سره له دی چی اسرائیل دعربو پر خلاف یوی لویی جګړی ته په ځان چمتو کولو بوخت دی د١٩٦٧ع کال دعربو اواسرائیلو ترمنځ جګړی ثابته کړی ده چی پر فلسطین باندی داسرائیلوقبضی عربی هیوادونه څنګه په اسانه زغمی ، خوداسی هم نه ؤ بلکه داسرائیلو په لمسون اوشرارت استعماری طاقتونه دهمدی لپاره راغلی وو په هرحال دغه جګړه کی دفلسطین دعوامو مسایل نورهم زیات شول اوپه نیول شوی فلسطین کی یی دیهودیانو

دعراق اوکویټ دمسئلی په اړه یوازی په دوومیاشتو کی دملګرو ملتونو دولس قراردادونه صادرشوي،خو په تیرو دوڅلویښت کلونو کی پر فلسطین باندی دیهودودقبضی سره سره له(۱۵)تر(۱۸)قراردادونه صادرشوي

پر خلاف دیهودیانو په ظالمانه اقداماتو اوهلو ځلو کی زیاتوالی راوست.

په دغه جګړه کی دفلسطین په پاتی سیمو دقبضي کولوسره سره رائیلو په شام اومصر په ځینو برخو هم قبضه وکړه، اوله دغی جګړی نه دلومړی ځل لپاره دخپل طاقت پته ولګیده چی هغوی هم داخیال نه درلود چی عربی هیوادونه به ددوی په وړاندی دشګودیوالونو په شان وی اودوی ته به صرف په شپږو ورځوکی

وجهد سره ملګری شی ځکه چی اسرائیل پخپله دوی ته خطر جوړیږی.

اسرائیلیانو د۱۹۶۷کال له جګړی نه دانتیجه اخیستی چی هغوی دعربانو دمقاومت تحریک په بشپړه توګه ختم کړی دی خودفلسطینی عوامو حملواودمقاومت اوسنیو کارنامو دهغوی داخوب غلط ثابت کړ.

د۱۹۶۸کال په فبروری کی اسرائیلو په اردن باندی په بیا حملی کولو سره دتل لپاره

او۱۹۶۸کال دمارچ په ۲۱داسرائیلو پر خلاف عربو لومړی فتح حاصله کړه.

د۱۹۷۳ع کال په اکتوبر کی مصر اوفلسطین په ګډه بیا داسرآئیلو په خلاف مقاومت وکړ خو امریکا په اسرائیلو باندی دعربو لړه فتحه هم قبوله نکړه دامریکا ټولی هڅی اوهلی ځلی دی ته متمرکزی وی چی عرب له دی فتحی څخه ګټه ترلاسه نه کړای شی له بدمرغه چی امریکه اواسرائیل دواړه دمصر جمهوررئیس انورسادات له ځان سره په ملګری کولو کی بریالی شو اودکمپ ډیوید په معاهده کی مصر له امریکا سره اتحاد وکړ اودفلسطین ملګرتیا یی پرینبوده له دغه ستر ټکان سره سره دفلسطین عوامو پر ځان دامریکااواسرائیلو له برلاسی اوتسلط له قبولولونه انکاروکړ ځکه هغوی دافکرکاوه چی ټول عربی هیوادونه په دی پوهیږی چی داسرائیلو دحکومت جوړونکی امریکا دهغوی دوست نه بلکه هغه ددوی یو ښکاره دښمن دی نو پکار ده چی دهغی پر خلاف ښکاره جګړه وکړی.



دومره څه په لاس ورشی. په هرحال دی جګړی داثابته کړه چی عربان باید په هرصورت کی دفلسطینی عوامو دوسله وال جد-

دفلسطین دخلکو دمقاومت دختمولو پلان جوړکړ. خوفلسطینی مسلمانانو ددوی دغه حملی بیرته په شا وتمبولی

دافغانستان په جهاد کي داسلامي نړۍ دمطبوعاتو نقش

ليکوال : مجاهد منصوري

ژباړن : مسلم

دروسانودیرغل په مقابل کی دافغان مجاهدینو یولس کلن برحقه جهاد دومره پراخ جنگ ؤ چی یوائحی دجنگ دډگرونو اووسلو پوری محدود پاتی نشو بلکی دهغه سیوری په ټولو برخو کی غزونی وکړی.روسان دیرغل سره جوخت دنړیوالو دسخت مخالفت سره مخامخ شول ، دوی خپل یرغل ته دبرحقه صبغی ورکولو په خاطرپراخ تبلیغات پیل کړل او په دی کی هیڅ شك نشته چی دروسانو دیرغل پر خلاف دغرب تبلیغاتی وسایلو دنړیوالو دذهنیت بدلولو په لاره کی مهم رول ولوباوه ،خوداحقیقت پر خپل ځای دی چی دروسانو دمخالفت اودمجاهدینودملاتړ سره سره دغربی نړۍ په سترگو کی په افغانستان کی دیوه اسلامی حکومت جوړول دازغی حیثیت لری په دی خاطر دی چی دافغانستان دجهاد په اړه دخپرونو په لاره کی دی نشراتی مؤسسو دوه مخی پالیسی غوره کړی چی په هغی کی دکمونیزم دخپراوی په وړاندی دمجاهدینو دجهاد او هلو ځلوملاتړاو تائید یی کاوه خو دهغوی په پالیسۍ کی داټکی بیخی جوت ؤ چی غوښتل یی خلك دافغانستان دجهاد له اصلی هدف څخه گوښه اولری وساتی دمجاهدینو داسلامی هلو ځلو اوداسلامی حکومت جوړیدو پر خلاف دغربی نړۍ دتبلیغاتو حساسیت ورو په ورو زیاتیږی اواوس دروسی پوځونوتړتیښتی اودیوه اسلامی حکومت دجوړیدو دامکاناتو دزیاتیدو ترڅنگ دغربی نړۍ دتبلیغی وسایلو منفی عکس العمل بیخی واضح اوروښانه شوی غربی تبلیغاتی اداری دخپلی آزادی ددعوا ترڅنگ په ټینگه توگه دخپلو هیوادونو دپالیسو پیروی کوی اوپه افغانستان کی دظاهر شاه دبیا راوستو، داسلامی حکومت دمخنیوی اودمجاهدینو ترمنځ داختلافاتو دزیاتیدو لپاره پراخ تبلیغات کوی اوروښانه خبره ده چی اوس دجهاد دروحیی دژوندی ساتلو اودیو اسلامی حکومت دجوړیدو لپاره مجاهدین داسلامی نړۍ تبلیغاتی مؤسسو ته زیاته تمه لری ، خوداتمه ترکومه حده پوری شوی ؟ اود ۱۹۸۰او ۱۹۹۰ کالونو ترمنځ دافغانستان دجهاد په اړه داسلامی نړۍ دنشراتی مؤسسو رول څومره ؤ ؟ ددی ټکی دمعلومولو څخه دمخه موږدغربی اوغیر اسلامی نشراتی ادارو په

مقابل کی دهغو نشراتی ادارو په باب باید لږه رڼا واچوو چی داسلامی نشراتی تبلیغاتی مؤسسو په لیکه کی راځی دافغانستان دجهاد په اړه اسلامی نشراتی اوتبلغاتی اداری په دریو ډلو ویشو:

۱- هغه نشراتی اوتبلیغاتی اداری چی پرمسلمانانو پوری اړه لری دهغوی په لاس کی دی اودوی ورته پخپله پالیسی جوړوی ، په دی کی تقریباً داسلامی هیوادوټولی نشراتی اداری اخبارونه اوجرائد شاملولی شو چی یا دحکومت ترکنترول لاندې دی یا یې شخصی خلك چلوی .

۲- دجهاد په دوران کی پخپله مجاهدینو هم خپرونی پیل کړی خوددوی زیاتره برخه په اخبارونو اومجلو پوری محدود پاتی شوی ، په دی ډله کی هغه اخبارونه ومجلی راځی چی دمجاهدینو دبیلابیلو گوندونو لخوا خپریږی که څه هم چی اوس دافغان نیوزایجنسی اومیدیاهم په فعالیت لاس پوری کړی خو داهم په همدی ډله کی راوستی شو داسلامی نشراتی اوتبلیغاتی ادارو په دریو ډلو ویشلو وروسته اوس دهر یوه په باب جلا ، جلا غږیږو:

ننی نړی دتبلیغاتو اوساره جنگ نړی ده ، په دی برخه کی دتکنالوجیه پرمختگ نړی ته بل رنگ ورکړی نن دتبلیغاتو اوخپرونو له لاری هغه کارکیږی چی مخکی به دپوځی طاقت له لاری کیده ، اواوس دتکنالوجی دپرمختگ دی قوت یو « تبلیغاتی استعماریا امپریالیزم » زیږولی استعماری قوتونو به مخکی خپل مقاصد پر هیوادونو دیرغل په وسیلی لاس ته راوړل او اوس دوی خپل مقاصد دمداخلی پرته ،دهمدی تبلیغاتی اونورو مکاروسیلو له لاری لاس ته راوړی ، اوس دوسلی اوتکنالوجی په ډول داتبلیغاتی قوت هم دغرب په لاس کی دی، دوی غواړی ددی لاری ددریمی اواسلامی نړی فرهنگ ، مذهب ، اونسل ته خپله جامه ورواغوندی دالټول هغه مسایل دی چی موږته دیوه اسلامی تبلیغاتی اداری دجوړولو او اهمیت احساس راکوی په دی خاطر چی دلته زموږبحث دجهاد په دوران کی داسلامی نړی دتبلیغاتی اونشراتی مؤسسو اووسایلو دنقش په باب دی اوس راځو چی دوی ددی جهاد په دوران کی څه نقش لوبولی اوپه دی اړه یې څه ډول نشرات اوخپرونی کړی ترکومه ځایه پوری چی داسلامی هیواد ونو دحکومتی تبلیغاتی او نشراتی مؤسسو او ځانگو پوری اړه لری په نړیواله سطحه ددوی کارډیرمحدود دی.په اوسنی وخت کی دنړی ټولی معتبری نشراتی اداری او مهم-مهم اخبارونه او جریدی په غربی اروپائی هیوادونو او امریکا پوری اړه لری رویتر -ای ، پی ، ای- یو ، پی ، ای او ای ،ایف ،پی هغه دخبر رسولو مهم آژانسونه دی چی دغرب په لاس کی دی ددوی خپرونی دغرب څخه ، ختیځ لوری ته په دی اندازه زیاتی هم دی چی دختیځ په باب خبرونه خلك په خپلو هیوادو کی دغرب له لاری اوری په دی ډول دوهمهبرخه کی د تاس ماسکو راډیو -دچین خبری اژانس دهندرادیو، او نوری غیر اسلامی نشراتی او تبلیغاتی اداری راځی په دی معنی چی په نړیواله سطحه داسلامی هیواد ونو دتبلیغاتی او نشراتی ادارو تأثیراو نقش ډیر کم دی[illegible] په [illegible] اسلامی هیوادو کی زیاتره نشراتی اداری دحکومت په کنترول کی دی [illegible]

اسلامي دجهاد په دوران کې په
مجموعي ډول ددې نشراتي ادارو
او خپرونو د حکومت دپالیسۍ او
د مسلمانانو دغوښتنې او جذبوسره
سم دافغانستان جهاد په تبلیغولو
کې رول لوبولی دی.نشراتي ادارو
دافغانستان له جهاد څخه داسلامي
امت دباخبره ساتلو او ددې جهاد
سره دهغوی دروحي او ذهني
پیوستون دپیداکولو په لاره کې
دشک پرته مهم رول لوبولی خو لکه
چې مخکې موږویل په نړیواله
سطحه داسلامي هیوادونشراتي
ادارونقش ډیر محدوددی او دوی په
نړیواله سطحه د افغانستان د جهاد
د اسلامي هویت څخه د نړیوالو
دخبرولو او د غربي نشراتي ادارو
منفي تبلیغاتودمقابلې کولو په
برخه کې څه دیادولو وړ رول نه دی
لوبولی خو داسلام ترحده ددوی
نقش گټور دی اوکه داتبلیغاتي
اداری آزادي وي اودهغوی پام پر
اسلامي امت اونوري نړۍ باندې
زیات وي نوبیا به یې ډیر ښه رول
لوبولی وي .

دافغانستان په جهاد کې داسلامي
نړۍ دتبلیغاتي ادارو دنقش
دمعلوموولوپه ترڅ کې دپاکستاني
ادارو دنقش په باب څکه باید
علیحده خبري وکړوچې یوخو
پاکستان تقریباً دجهاد سره بیخي
تړلی اودې هیواد کې دمجاهدینو
مراکز دي اوتریوې اندازې دانشراتي
اداری آزادي هم دي.

کله چې په ۱۹۷۹ کال کې
روسانو پر افغانستان یرغل وکړ په
اسلام آباد کې ډیرکم دبهرنیو
هیوادو ژورنالستان موجودؤ په دې
خاطر په پاکستان کې ددو معتبرو
اخبارونو(نوای وقت، جنگ) کې
خپریدونکی خبرونه دغربي او
امریکا یې نشراتي ادارو لپاره
داطلاعاتي وسیله او ذریعه وددې
دوارو اخبارونو څخه به دنړۍ
زیاترو خپرونو او تبلیغاتي
ادارو استفاده کوله خو ډیر ژر
دمجاهدینو تررا تگ وروسته اسلام آباد
او پیښور دنړیوالو خبري
اژانسونو تر ټولو مشهور او قوي
مرکزونه جوړشول په دواړو ښارونو
کې ډیر ژر دنړیوالو خبري
اژانسونو خبریالان ځای پر ځای
شول او تردې وروسته به دې
تبلیغاتي ادارو خپل رپوټونه
دخپلو ژورنالستانو او نماینده گانو
له لارې لاس ته را وړل چې په دې
توگه دې خبري زیات عمرونکړ چې
نړیوال خبري آژانسونه دې د
افغانستان د جهاد په اړه دپاکستان
خپرونو څخه استفاده وکړي
لابدبخته چې د پاکستاني
تبلیغاتي ادارو او خپریدونکو
ورځپانو باندې دپیل څخه سیکولر
ستانو او سوسیالستانو قبضه
لگولې وه خو دوی پر افغانستان

باندې دروسانو د يرغل وروسته د
پاکستان قوم دجذباتو پر عکس
دڅه شي دخپرولو جرئت ونکړ خو
ددې سره سره هم داسلام اباد څخه
يوه خپريدونکې انګريزي اخبار د
(۱۹۸۰) کال په فبروري کې
دخپلې سرمقالې په ترځ کې
ليکلې ؤ « دروسانو دبيرته تګ
فکرددې سره مترادف دی چې
احمقان دې په جنت کې وي» په
تدريجي ډول په پاکستان کې
يونوي سياسي عنصر رامخې ته
شو چې غوښتل يې دروسيې ديرغل
پرضد حساسيتونه کم کړي او
دمهاجرينو او انصارو ترمنځ
اختلافات راوپاروي .دبلې لورې
پراخبارونو حکومت پابندي نه وه
لګولې په دې خاطر پا کستان کې
دچپي نظرياتو درلودونکو
ژورنالستانو او ليکوالانو
دمجاهدينو او مهاجرينو پرضد
دليکنو سلسله پيل کړه چې دې
کار ته دپاکستان انګليسي اخبارونو
بيخي قوت ورو باښه دانګريزي
اخبارونو په ليدلو سره اردو
اخبارونو هم دڅوردکرغيږنې کودتا
پرملاتړ نشرات پيل کړل او
مجاهدينواومهاجرينو پرضد يې
دکرکې راپيدا کولو يوه سلسله
پيل کړه .په خبرونوکې به يې هم
لاسوهنې کولې او خبرونه به يې
غلط خپرول او خبره يې دې ته
ورسوله چې دمجاهدينو ملاتړ
کوونکي پاکستاني قوم يې پر
دوډلو تقسيم کړ خو دمجاهدينو
ملاتړ کوونکو ژورنالستانو
اوليکوالانو دمخالفينوسخته مقابله
وکړه اوداردو آزادو اخبارونو ددې
فکر خپرولو ته ښه موقع مساعده
کړه خو انګليسي اخبارونويوالحې
يوټکې ډير روښانه کاوه چې
دمهاجرينو اومجاهدينوسره مخالفت
ؤ . ترکومه پورې چې دپاکستان
راډيو ، تلويزيون اوآژانسونو پورې
اړه نيسي دافغانستان دجهاد په اړه
هغوی په خپل دريځ ټينګ پاتې
شول ، ددې سره ، سره چې
دپاکستان حکومت دافغانستان
دجهاد پوره ملاتړ کاوه
خودتلويزيون اوراديو دخپرونو
کاردومره نه ؤ لکه چې دحکومت
ملاتړؤ ، غالباً ښايي ددې دوه
دليله وي يو دا چې دپاکستان
حکومت نه غوښتل چې دروسانو
تبليغات پرځان امبارکړي دوهم
داچې داسې وښيي چې
موږدافغانستان په جهادکې مداخله
نه کوو ، په دې خاطريې دراډيو
اوتلويزيون تبليغات په عادي ډول
پرمخ تلل که څه هم چې راډيو
اوتلويزيون دمجاهدينو پرملاتړ
خبرونه تل خپاره کړي حتی داچې
دبينظير بوټوحکومت هم
دروسانوترتلو وروسته داکار جاري
وساته اودوی دجهادپه اړه دخبرونو
خپرول زيات هم کړل خصوصاً
دجلال آباد دجګړې په دوران کې
دپاکستان دراډيو اوتلويزيون
خپرونې داطمينان وړوي .

غربي تبليغاتي ادارې دخپلې آزادۍ دعوا ترڅنګ په ټينګه
توګه دخپلو هيوادونو دنړيواليسيو پيروي کوي او په افغانستان کې
دظاهرشاه دبيا راوستو ، داسلامي حکومت دمخنيوي
اودمجاهدينو ترمنځ داختلافاتو دزياتيدو لپاره پراخ تبليغات
کوي اوروښانه ده چې اوس دجهاد دروحيې دژوندي ساتلو اوديو
اسلامي حکومت دجوړيدو لپاره مجاهدين اسلامي نوعه تبليغاتي
مؤسسو ته زياته اړه لري.

خوترکومه ځایه چې اسلامي نشراتي ادارو پورې اړه لري په هغوی کې هغه اخبارونه اوجرایدراځي چې دهغوی په پالیسي کې اسلامي عنصرغالب وي دوی دمجاهدینو دملاتړ اومهاجرینوځخه په دفاع کې هیڅ ډمبلي نه دي کړي خو ددې ادارو په لاس کې یواځې اخبارونه اوجریدې وي داډول اخبارونه دپاکستان پرته نورواسلامي هیوادو کې هم شته چې یکې ځنې آزاداخبارونه شاملولی شو په پاکستان کې دهغوی بیلگه موږجسارت، تکبیر، زندگی ،اردو ډایجست ، قومي ډایجست اوبیدار میاشتنۍ مجله ښودلی شوو.دی اسلامي خپرونو په رینښتیا سره چې دمجاهدینو دملاتړاوپاکستاني ملت دحقیقي جذباتو په عکاسۍ کې مهم رول لوبولی خودبده مرغه چې په اسلامي هیوادونو کې داسې راډیو نشته چې په حقیقي توگه دمجاهدینو ملاتړوکړي اوپه سمه توگه دمجاهدینو غږ نړیوالو ته ورسوي .

که څه هم چې دروسي تراغیزي لاندې دغو اسلامي هیوادوپرته نورټولو اسلامي هیوادو راډیو گانو اوتلویزیونونو دافغانستان دجهاد په باب خبرونه خپاره کړي خو دجهاد په دوران کې پرنړیواله سطحه دداسې یوې راډیو اوتلویزیون مرکز ضرورت محسوسیږي ترڅو دروسیې اوغربي تبلیغاتي اونشراتي ادارو دمنفي پروپاگندومخه یې ونیول شي.

دمجاهدینو گوندونودجهاد په دوران کې دخپلو مجاهدینو دفعالیتونو څخه اسلامي نړۍ اوپاکستان دباخبره ساتلو په خاطر ځانته جلاجلاتبلیغاتي اونشراتي مراکزجوړکړل چې دمجاهدینو له خواخپریدونکي اخبارونه اومجلې یې ښې بیلگې دي .

خودمجاهدینو ددې خپرونو یو کمزوری اړخ دادی چې څومره اخبارونه اومجلې چې خپریږي دهغوی دکار دایره ډیره تنگه ده اودوی داسې یو اخبار یا جریده خپره نکړه چې په ټولو مجاهدینو اومهاجرینو کې محبوبیت ولري دمجاهدینو دگوندونو ترمنځ دیووالي دراوستلو په خاطر داسې یوې ورځپاڼې یامجلې ته زیات ضرورت محسوسیږي .

داسې اخبار چې مجاهدین دگوندونو په مسٔله کې دخاصې خواپلوی ونکړي اوهغه دخپل کاردائره دومره وسیع کړي چې یواځې افغانستان ته متوجه شي اوحتی په نړیواله سطحه داسلامي هیوادو اواسلامي غورځنگونو لپاره کاروکړي .

ليکوال: عبدالله

ظاهر شاه: «هغه آسمان» چې غوريږي

خو هيڅکله به ونه وريږي

څوورځې مخکې په نړيوالو نشراتو اوجرايدو کې ظاهرشاه ته دامريکا لخوا ددفترپرانستلو اوپيسو ورکولو خبرخپورشو ..

داخبرژنيو ته دنجيب دسفر ، هلته دظاهرشاه ډپلوياتو سره دهغه دليدلو، ايټالياته دروسيې دمشر سفراو روم ته دامريکا يې مامورينو دمنظم تګ راتګ څخه لږه موده وروسته نړيوالوته اعلام شو ، ددې اعلان له مخې امريکا نژدې يوسل اوپنځوس ميليونه ډالره ظاهرشاه ته ورکړې اوتصميم يې نيولى ترڅو په روم کې ده ته سکرتريت اودفتر پرانيزي. همدارنګه پيټر ټامسن چې مؤقت حکومت ته دامريکا خاص استازى دى مؤظف شوى چې په عين وخت کې چې په پېښورکې دمجاهدينو دموقت حکومت سره تماس ساتي ، په هماغه اندازه به په روم کې دظاهرشاه اودهغه ددفتر سره په ارتباط اوتماس کې وي .

روښانه خبره ده چې دادظاهرشاه دراوستلو اوهغه ته دافغانستان په مسئله کې په مصنوعي توګه دمؤثريت ښئلو لومړى هڅه نه ده له ډيرى مودې راهيسې کله چې متحده ايالات اوغربيان په دې امر وپوهيدل چې دمجاهدينوپه لاس جوړشوى حکومت به دخارجي قوتونو غلام اوګوډاګى حکومت نه وي نو په دې لټه کې شول څودجګړې دختميدو وروسته کله چې دواك اوقدرت نيولو اوبالاخره حکومت جوړولو دورراځي بايد ظاهرشاه رامخې ته کړاى شي ترڅو دهغوى لاس دافغانستان نه لنډ نه شي ، تراوسه دظاهرشاه دمطرح کولو دپاره ډير کوښښونه شوي اوحتى دهغه دراوستلو پلانونه جوړشو ي ، خولکه څنګه چې وينو دامنصوبې هرواردماتې سره مخامخ شويدي .

په بيلابيلو حساسو شيبو کې چې زموږجهادبه دمرګ اوژوند په

تاکونکی مبارزاتی پړاوکی قراردرلود قومی جرگی اوغونډی جوړی شوی ، چی زیاتره دپخوانیو بیروکراتانو دظاهرشاه دوخت دیو شمیر لوړرتبه مامورینو نه به جوړی شوی وی ، دغه کسان چی ښه اوسانه ماضی نه لری اواوس یی په افغانستان کی دنوی مجاهد قیادت په راتلو سره خپل پخوانی موقف له لاسه ورکړی ، هیڅکله په جنګ ، جګړی اوجهاد په سختو شیبو کی په میدان کی حاضرنه وو ، خودداسی غونډو په جوړولو اوبهرنیو راډیو ګانو سره دمصاحبو له لاری یی تل پر مجاهدینو انتقادونه کړی اوغوښتی یی دی مجاهدین دحکومت دجوړولو اواداره کولوداهلیت نه محروم وښیی .په دی ترتیب دخلکو ذهنونه ورو ورودی ته آماده کړی چی دپخوانیو حاکمانو بیا حکومت کولو ته ذهناً تسلیم وی .

دظاهرشاه دراوستلو دپاره دغیوبل خطرناك اقدام هم وشو چی حتی خطرناکه بڼه یی هم غوره کړی وه خوهغه هم دناکامی سره مخامخ شو ،هغه داچی دکابل حکومت څخه دکندهار والی اودمجاهدینو څخه ځینو کسانو دهمدغه پخوانیو بیروکراتانو په ګډون یو نمایشی پروګرام جوړشوی و، داسی چی ګویا دکندهار والی به تسلمیږی ، خپل ټول قوت دظاهرشاه پلویانو ته په اختیار کی ورکوی بیابه دظاهرشاه پلویانو اودکندهاردتسلیم شویو ملیشه اوپوځیانو په ګډون یوستره غونډه جوړیږی داغونډه به دظاهرشاه دراتلوغوښتنه کوی ، بیا به ظاهرشاه ددغه دعوت په اساس ، کویټی ته راځی اودهغه ځای نه به کندهار

> افغانستان نورهغه دظاهرشاه ددوران افغانستان نه دی ، افغانان نورهغه کسان نه دي چې دولسوالي یا علاقه دارې پوتن پولیس به یوکلي ترمخ کړي او په نوهیتولو اوکتلو به یې ولسوال صاحب ته وروستل ، بلکه افغانان دڅوارلسوکلنې سره جنګیدلي اوپرې غالب شوي چې امریکایي دمقابلې جرأت نه درلود.

اوبالاخره دکابل په لوربه دیوستر جلوس اومارش په شکل روانیږی ، نجیب به ګویا له داره کابل پریږدی اومسکو ته به تښتی په دغه شکل دروس اوامریکا په ګډتفاهم ددوی دخوښی حکومت به جوړیږی چی په رأس کی به یی ظاهرشاه وی .

خواساسی ټکی چی باید تل ورته پاملرنه وشی اودافغانستان په قضیه کی دیو مهم فکتو ریه حیث وجود لری هغه دادی چی ، افغانستان نورهغه دظاهرشاه ددوران افغانستان نه دی ، افغانان نورهغه کسان نه دی چی دولسوالی یا علاقه داری پوتن

پولیس به یوکلی ترمخ کړی و، اوپه توهینونواوکنځلو به یې ولسوال صاحب ته وروستل ، بلکه افغانان اوس هغه کسان دي چې دنړۍ دداسې مدرن ، قوي او مجهزپوځ سره جنګیدلي اوبری غالب شوي چې امریکا یې دمقابلې جرأت نه درلود .

ددغه ملت سره اوس داشعورپیداشوی چې حداقل داقضاوت وکړی چې دهیواد دچارو واګې دي هغه ځوك په لاس کې واخلي چې دادولس کاله یې په جهاد کې برخه اخیستې وي .

ظاهرشاه دایوه لسیزه چې دافغانانو مبارزه دوام لري اودافغانانو وینې توییږي په جهاد کې هیڅ کوم رول نه دي لوبولی،ددغه جهاد دتقویې دپاره یې حتی ډیرو اوړ حرکت هم نه دی ترسره کړی ، ظاهرشاه شاته هیڅ کوم جهادي قوت نه لري ،دده پلویان هم په جهاد کې موثریت نه لري، نوکه دی دکوم خارجي توافق په نتیجه کې راځي په لومړي قدم به ځان دخپلو مخالفینو دګوزارونو نه په څه ډول په امان کې وساتي حد اقل دي به حکومت کولواوځان ساتلودپاره دکوم قوت نه کاراخلي اوکه دده سره هم خارجي پوځونه بدرګه وي اودکارمل اونجیب په شان دخپلو ولي نعمتانو! دعسکرو په زورحکومت چلوی،نو دده اونجیب فرق په څه کې پاتي شو ، اواصلاًنړیوال استعمار به ددغه عمل نه څه ګټه واخلي ځکه بیا به هماغه ګوداګي وي او دهغه دساتلو مصارف اوجنجالونه همداعلت دي چې دظاهرشاه بیرته راتګ تردیره حده ګران اوحتی ناممکن بریښي .



دوسپېنيزهودخاوند : مولاناجلال الدين «حقاني»

له کراچۍ نه خپرېدونکي مياشتنۍ (صداي مجاهد) د(۱۹۹۰) ميلادي داکتوبر په گڼه کي دښاغلي محمد مسعود اظهرپه قلم د(مردآهن : مولاناجلال الدين حقاني) ترسرليك لاندي يومضمون خپورکړي چي موږيي پښتو ژباړه درنولوستونکو ته وړاندي کوو . «اداره »

دمولانا جلال الدين حقانی په نوم اخيستو د ذهن په پرده ديوه داسی شخصيت تصوردسری زړه روښانوی دچا چی دعلم اوسلوك دټولو پړاوونوهلو سره سره سنگرونه او دجنگ دگرونه خپل استوگنځی غوره کړی وی. سره بخونه گڼه اوښکلی ږيره ،غنم-رنگه با وقاره څېره ، ولول غټه پګړۍ په سره‌ميانه قد ، متناسب بدن ، پرتهتر هميشه دكارتوسوګراوپه څنگ دتل له پاره وسله .

مولانا جلال الدين حقانی داوسنی وخت دهغو نابغه شخصيتونوڅخه دی چاچی ترټولو دمخه دكمونيزم اوروسانو دظلم اوناروا پرضد غږ پورته کړاودهجرت اوجهاد ددرسونو اوعبرتونو په راژوندی كولو سره يی دنړۍ لوی استعماری اومادی ځواك له شرميدلی ماتی اوړسوايی سره مخامخ کړ.

مولانا جلال الدين حقانی يوخدای(ج) ترسه انسان ، ددين متبحرعالم ، دميړانی اواسلامی اخلاقو پيکر چی دزړورتوب اوميړانی نښنی يی له څيری څخه له ورايه ځليږی دعبادت اوبنده گۍ اخلاص يی دروميي پيړۍ دمسلمانانو يادونه تازه کوی ، دجنگ دډگر دکارنامو اوحماسو په اوريدوسره يی دخدای(ج) پر نصرت اوفتحی نورهم دانسان باورپيداکيږی آن

تردی چی دمولاناجلال الدین حقانی دجگړه ایز مهارت او میړانی په کارنامو گرده عربی نړۍ دده احسان منده اوجهاد پر کراماتو گروهمنه شویده - له همدی امله هغوی له مولانا حقانی سره ډیره مینه لری .

مولاناحقانی خپل جهادی سفر له خپلو پوځوتنوملګرو سره دپکتیا له ولایت نه پیل کړ او په ډیرو ستونزووشرایطو کی یی دخښتن تعالی دغه فریضه راژوندی کړه ، اووحشی دښمن یی داوسپنو چنو چیچلوته مجبورکړ - حقانی صاحب دگوتو په شمیر له خپلو پوځوتنو ملګرو سره دپکتیا په غرونو اومورچوکی دحق دمعرکی لومړنی گولۍ وچلولی - اوس دغه جنگیالی اومجاهد دزرگونومسلمانو مجاهدینو منل شوی اومدبر قوماندان دی اوپر خوست برسیره په غزنی ، وردگو ، هرات ، اوجلال آباد کی هم دهغوی مجاهدین ددښمن مقابلی ته ولاړ دی ، په یو ځوځړوتوپکو له روسی مجهزپوځ سره دغه راسخ العزمه جنگیالیُ اوس له روسانو څخه دومره وسلی په غنیمت نیولی چی یواځی په یوه مرکز کی یی پنځلس روسی ټانکونه موجوددی.

دمولانا حقانی دجنگی بصیرت اومشرتابه اتکل دتوری غاړی له فتحی نه په ښه ډول څرگندیږی، توره غاړه دکابل حکومت هغه پوځی قرارگاه وه چی هغه یی نه تسخیریدونکی گڼله. نوموړی قرارگاه له تیرو لسو کلونو دمجاهدینو لپاره یوه غټه ستونزه اوخنډو . دمولانا جلال الدین حقانی په همت اومیړانی دغه قرارگاه په ډیره اسانی سره فتحه شوه اودکابل حکومت پر خوله یی یو داسی سوک ورحواله کړ چی ترمرگه به یی هیرنکړی .

دیادولو وړخبره داده چی کله توره غاړه فتحه شوه نو دفتحی په وخت کی نیول شووکمونستو پوځیانو دداسی کراماتو لیدلو اقرار وکړ چی هرمسلمان بې له څه ځنډه اقرار کوی چی الله (ج)زمونږ مل اومرستندوی دی . څه موده وړاندی دمولانا جلال الدین حقانی کشر ورورقوماندان محمد اسمعیل ذبیح الله چی دخپل مشروروروپه لاربنوونه یی دیوی سیمی قوماندی په غاړه درلوده ، شهید شودخپل زلمی اوزړه ور ورورپه شهادت دمولاناحقانی صبر اواستقامت دیادولو وړ ده هغه په ډیره واړمنه لهجه ویل چی الله پاک پر ما یوبل فضل وکړ یوبل احسان راباندی وکړ چی زما وروریی

پاتی په(۹۵)مخ

الحاج مولوي جلال الدین حقاني دقوماندانانو شورا په مطبوعاتي کنفرانس کی:

له نجیب سره مجاهد افغان په هیڅ صورت نشي کتلي او هر څوك چی ورسره ګوري ز موږ د جهاد او مسلمان ملت دښمن دي

دیکشنبی په ورځ دقوس دمیاشتی په اتلسمه دقوماندانانو دشورا لخوا ددغه شوری په نمایندګۍ کی یو مطبوعاتی کنفرانس جوړشوی ؤ ، کنفرانس ته مولوی جلال الدین حقانی ، مولوی ارسلان رحمانی اوقوماندان انورخان وینا وکړه. دکنفرانس په پیل کی مولوی ارسلان رحمانی ددغه خبری کنفرانس دجوړیدو په باب داسی وویل :

بسم الله الرحمن الرحیم

محترمو ورونو ! تاسو نن دلته ددی لپاره راغونډتل شوی یاست چی له یوی خوا دکابل دمزدوررژیم مشر نجیب دوروستیو ادعاګانو په باب چی وایی له ځینو جهادی مشرانو اوقوماندانانوسره یی کتلی اوموافقی ته سره رسیدلی یو ، دقوماندانانو دشورا ددریځ په باب وضاحت کوو. ورونو ! دغه شوری اصلاً ددریو بنیادی مشکلاتو په اثر جوړه شوه دلومړی حٔل لپاره دسږکال په دوبی کی دمولاناجلا ل الدین حقانی صاحب په مرکزژوره کی دشورا لومړۍ مقدماتی جلسه وشوه هلته په دې غورروشو چی دټول هیواد دقوماندانانوپه سطحه یوه شورئ جوړه شي، داسی یوه شوری چی دسنی ، شیعه ، پښتون ، تاجك ، هزاره اونورتبعیضو نه پکی نه وی، دټو ل هیواد ټولی طبقی اوقوماندانان بیله تبعیضه برخه پکی واخلی همداسی وشول. په مقدماتی شوری کی فیصله وشوه چی دافغانستان دری سوه قوماندانان باید په دی شوری کی برخه واخلی ، همغه ؤ چی دری سوه تنو قوماندانانو دهیواد له مختلفوبرخو نه په دی شوری کی برخه واخیسته اوبیا په دی دری لویو ستونزوخبری وشوی :

لومړی : په ټول هیواد کی په

یوه قومانده منظم سرتاسری عملیات اوجنگی عملیات منظم کول.

دوهم : دمجاهدینو په منځ کی دجګړو اواختلافاتو مخنیوی اودداخلی جګړو ختمول .

دریم : په هیواد کی دلارودامنیت ساتل .

موږته دشوری له خوا دلارو دامنیت دساتنی وظیفه راسپارل شوی وه چی ترډیره حده په خپله وظیفه کی دخدای (ج) په فضل کامیاب ووموږدهیواد داخل ته ، مرکزی ولایاتوته ، دقندهار له لاری داخل ته اوسمت شمال ته هیئتونه واستول ، چیرته چی چا لاری بندی کړی وی هغه بیرته خلاصی شوی،چیرته چی چا دعبوری حکومت یا مؤسسو اویا هم دکوم تنظیم موټراومالونه ګرځولی وو هغه بیرته مسترد شول ، لاری خلاصی شوی امنیت یی تامین شو اوپه ډیرو ځایونو کی خپلمنځی جګړې ختمی شوی ، دقوماندانانو دشوری په ابتکار په غزنی اوارزګان کی دسنی اوشیعه ورونو ترمنځ سختی جګړی چی ډیری خطرناکی وی ختمی شوی اوانشاالله بیا به هیڅ کله نه پیښیږی .

دنظامی عملیاتو په برخه کی چی تراوسه کوم فعالیتونه شوی دی اودشوری له خوا کوم پرمختګونه شویدی دهغو په باب به مولوی صاحب «حقانی » خپل تفصیل درته واوروی .

وروسته بیا دخبرو لپاره مولانا جلال الدین «حقانی » ځان چمتو کړ.هغه له حمد او صلوة وروسته داسی وویل :

ورونو! دشوری په وروستی مجلس کی دری مهمی فیصلی شوی چی مختصراً مولوی صاحب ارسلان «رحمانی »هم وویل هغه پریکړی داوی :

لومړی : یوه منظمه جنګی ستراتیژی غوره کول ، په ټول هیواد کی په یوه قومانده اویوه وخت سرتاسری منظم عملیات چی په دریو ډوله هدفونو باید داسی اجرا شی چی په ټول هیواد کی ددښمن ټول ضعیف مرکزونه باید دتعرضی عملیاتوپه نتیجه کی فتحه شی،هوایی میدانونه اولویی مواصلاتی لاری تروقفه یی ضربو لاندی راشی چی لاری باید قطع شی اوهوایی میدانونه ددښمن دالوتکو له پروازنه بیکاره شی ، بل داچی لوی مرکزونه اولویی قواوی بایدډوامداری محاصری

اوعملیاتو په نتیجه کی ضعیف شی ترڅو بالاخره فتحه شی .

دوهم : دمجاهدینو ترمنځ داخلی جنگونه ختم شی .

دریم : دآزادو سیمو جهادی لارو امنیت باید ټینگ شی .

زه اوس دقوماندانانو دشوری ددغی فیصلی نه تراوسه پوری چی دعقرب له پنځلسم نه دقوس تر (۱۸) پوری کیږی دهغو عملیاتو تفصیل وراندی کوم چی دشوری له پریکړی نه وروسته ترسره شویدی :

دتاشقرغان تنگی مهمه لاره بنده ده اودښمن نشی کولی له هغی لاری څه اکمالات وکړی ،په شمالی سالنگ ، بغلان ، پلخمری اوجنوبی سالنگ کی سختی جگړی پیښی شوی ،همدا اوس هم هلته جگړی روانی دی.دسالنگ لاره ددښمن په مخ تړل شویده اودایوه میاشت ددښمن یو موټر په دی لاره کابل ته نه دی داخل شوی داخلور ورځی وراندی مجاهدینو په بغلان کی ددښمن یوه پوځی قافله ځپلی،« ۱۵ » عرادی ټانکونه اوموټرمجاهدینو ژوندی غنیمت کړی او په لسگونو نوریی سوځولی دی ، هلته دفیصلی له ورځی نه تراوسه پوری جنگ جریان لری .

په جنوبی سالنگ کی له پنځوسونه تر(۷۰) ټانکونو پوری له منځه تللی ، داډیره موده دبگرام هوایی میدان ددښمن دطیارو په مخ تړلی دی هلته ، اته الوتکی ویجاړی شوی همدارنگه ددغی هوایی اډې دوی لویی پوځی ډیپو گانی له منځه تللی دی . دغه هوایی

پاتی په (۴۰) مخ


رشیم الجهاد الیم
MRC



الحاج مولوی جلال الدین « حقاني » له منبع الجهاد سره په مرکه کی:

زه دواحد قیادت لپاره دا لارغوره گڼم چی دیني علماء دقوم راوړي، داکار به زموږ دسیاسي ډگراوجهادي مشرانو

پوښتنه : محترم حقاني صاحب هیله ده چی عربی هیوادوته دخپل سفر او دهغه په اهدافواو نتائجو څه ووایئ؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم
نحمده ونصلی علی رسوله الکریم
امابعد:

زما دسفراصلی مقصد دعمری اداءکول وو، وروسته مادخپل سفر په دوران کی دعربی هیوادونوله رسمی اودولتی مقاماتو، علمی شخصیتونو اوپه عربی هیوادونوکی استوگنوافغانانو سره هم وکتل .

ما ددغو لیدنو کتنو په ترڅ کی په ځینو غونډو او رسمی محافلو کی ویناوی هم وکړی اودافغانستان دجهاد اودمجاهدینوداوسنی وضعیت او حالت په هکله می هغوی ته پوره ځرگندونی وکړی .

ما هغوی ته واضح کړه چی دمؤمنوافغانانو جهاد اوس هم دروسانو دمزدورانو (خلقیانو -او پرچمیانو) پرضد هماغه شان ادامه لری لکه څنگه چی دروسانو په مقابل کی جاری ؤ. داجهاد دمخه هم دالحاد او فساد پرضد دټول عالم اسلام جهاد ؤاو اوس هم د ټول اسلامی امت جهاد دی او لکه څنگه چی دمخه دنړۍ په ټولو مسلمانانو ددغه جهاد مرسته او ملاتړ فرض ؤ اوس هم فرض دی . موږ په دی هیله یو چی اسلامی امت به موږیوازی نه پریږدي اوپه هرلحاظ به زموږ مرسته او ملاتړ کوي .

ماچی له نژدی نه ولیدل دخلیج موضوع پر کویټ باندی دعراق یرغل او ددغه هیواد دشتمنی تباه کولو او هغه دخپل هیواد دیوی برخی په توگه اعلانولو دعربی هیوادو پرخلکو ژوره اغیزه کړی اووگړی یی له پوره اضطراب اوتشویش سره مخامخ ښکاریدل.

موږچی په کومو غونډو اومحافلو کی گډون وکړ دخپلو خبرو په ترڅ کی می هغوی ته داواضح کړه چی تاسی باید دافغانستان دمؤمنو خلکو دجهاد اومقاومت نه دعبرت درس واخلی . افغانانو په تش لاس خو پر خدای (ج) دتوکل اوقوی ایمان له مخی دروس په څیر دیو لوی طاغوتی ځواك مقابله وکړه . دجهاد په پیل کی موږوسلی اووسیلی نه درلودی خودخدای (ج) په نصرت، قوی

مشران اوقوماندانان په جهادي مشرانو فشار دوحدت سبب وګرځي

ایمان او لوړعزم اواراده مو اتکاء کړی وه ، په ډیر لږ وخت کی مو دومره وسلی او وسیلی په غنیمت ونیولی چی ددښمن مقابله مو پری وکړای شوه اوچی روسانو په افغانستان باندی یرغل وکړ په مقابل کی یی زموږ مقاومت نورهم پیاوړی شو ترڅو چی هغوی مو له خپلی خاوری څخه تیښتی ته اړ کړل اواوس یی مزدوران یوازی په څو لویو ښارونو اومرکزونوکی دمجاهدینو په محاصره کی راګیر دی اوهغه ورځ لری نه ده چی هغه ښارونه اومرکزونه هم دمجاهدینو په لاس فتحه شی .

تاسی خو زموږپه شان بی وسلی اوبی وسیلی نه وئ ، ډیره شتمنی مو درلودهٔ اودهغی په وسیله مو ځان په هرحالت کی چمتو کولی شو . خوتاسی خپله شتمنی په غیر ضروری شیانو اودعیش اوعشرت په چارولګوله اوپه پوره غفلت کی مو ورځی شپی سبا کولی .

تاسو کولی شول چی دملت پر همدغه شتمنۍ مو یوه قوی په هر ډول وسلو اووسیلو سمبال اردو جوړکړی وای چی دضرورت په وخت کی یی له اسلام اواسلامی خاوری او حدود څخه دفاع اوساتنه کولی . خو تاسی خپله شتمنی دبلډنګونو په جوړولو اوپه غیر ضروری شیانو اوسیل اوسیاحت مصرف کړه ، که چیرې تاسی داکار کړی وای اویوه منظمه اوتربیه شوی اردو مو درلودای نونن به تاسی دی ته نه وای مجبورشوی چی دجګړی دخطر په وخت کی له امریکا ، انګلستان ، فرانس او ... څخه داسلامی خاوری اومقدسو ځایونو دساتنی لپاره پوځونه راوغواړی . نن چی تاسی ته دجګړی خطر متوجه شوی ددی خطر ددفع کولو اوداسلامی خاوری دحفاظت لپاره باید تاسی داسلامی هیوادونو خصوصاً دافغانستان دمجاهدینو، مصر ، پاکستان ، ترکیی ، او... څخه اسلامی پوځونه راغوښتی وای ، نه داچی تاسی کفری طاقتونه اوپوځونه راوبلل چی له دغومقدسو ځایونو څخه دفاع وکړی . کفری طاقتونه خو دخپل ځان په مقابل کی یوازینی دښمن اسلام اومسلمانان ګڼی ، نوهغوی

بیا کله بی غرضه اوبی هدفه دمسلمانانو سره مرسته کوي ، بلکه هڅه کوي چی دمسلمانانو ترمنځ دبی اتفاقۍ اورته لمن ووهی شخړې اولانجی رامنځ ته کړي، اوځانته دمداخلی اولاسوهنې زمینه برابره کړی .

پوښتنه : په دی وروستیو وختونو کی ژنیو ته دنجیب سفراوبیا دهغه دغه ادعا چی ددی سفر په ترڅ کی یی له ځنی جهادی رهبرانوسره لیدنی کتنی کړی دی ددغی کتنی په باب ستاسی نظرڅه دی اودنجیب دسفر انګیزه څه وه ؟

ځواب: سره له دی چی زه هغه وخت دلته نه وم اوپه حالاتو پوره خبرنه یم ،خو مخکی هم داآوازی خپری وی چی روسانو ددغسی لیدنو کتنو لپاره کومه زمینه سازی کړی ده اوایرانی کونسل دروسانو دمزدوررژیم اودځینو ضعیفو اوبی ارادې مسلمانانو چی ځانونه دجهاد په صف کی ولاړبولی ، ترمنځ دمنځګړیتوب دنده درلوده . ویل کیږي چی داسی طرحه موجوده وه چی که امکان ولری دوی مستقیماً سره وګوری اوکه نه ددوی نمایندګان دی یوله بل سره خبری وکړی، بنایی ایران ته دځینو مشرانو سفر هم دنوموړی طرحی یوه کړی وه ، خوداچی دهغی عملی اړخ څنګه ترسره شو پوره حالات نه دی څرګند . ترکومه چی خبره دپیر سید احمد ګیلانی اونجیب دلیدنو کتنو پوری اړه لری له نښونښانو نه داسی ښکاری چی پدی رابطه یو څه شویدی. داخبره له بی ، بی ، سی سره ددواړو له مرکونه هم تریوی اندازی معلومیږی . کیدای شی چی له نوروسره یی خپله نه وی لیدلی اوله نمایندګانو سره یی لیده کاته شوي وي .

په هرحال جینوا ته دنجیب دسفر اوبیا بیرته افغانستان ته دستنیدوپه لارکی ایران تللو هدف واضح دی نجیب غواړی چی له یوی خوا په دغو منډو رامنډو اوهلو ځلو دخپل ځان په نسبت نړیوال ذهنیت بدل کړی اوبل داچی هغه شمیر افغانان چی له افغانستان نه بهر ته تللی اوپه جهاد کی یی برخه نه ده اخیستی اوکه یی څه ناڅه برخه اخیستی خو ایمان یی کمزوری وی راضی کړی، چی افغانستان ته لاړشی اودغسی بیانجیب ته ددی پروپاګند زمینه برابره شی چی دملت ملاتړ له ماسره دی اودغه دی فلانی اوفلانی له ماسره په حکومت کی همکاری کوی. همدارنګه هغه له بلی خواغواړی چی په دغو ادعاګانو دمجاهدینو ترمنځ دشك اوبدګومانۍ فضا رامنځ ته کړی .

اوس روسان په دی ښه پوه شوی چی ددوی له دومره مرستو اووسیلو اووسلو سره سره نجیب نوردمجاهدینو په مقابل کی مقاومت نشی کولای اودوی په هیڅ شان دهغی دبقا تضمین نشی کولی نوپه دی لټه کی دی چی نجیب له قدرت څخه گوښه کړی اوپرځای ئې دقدرت واگی داسی چاته وسپاری چی په هغه دوی مطمین وی اویوداسی ائتلافی اومخلوط حکومت جوړکړی چی ددوی مزدوران (خلقیان اوپرچمیان) هم محفوظ پاتی شی او په آینده حکومت کی دوی ته دلاسو هنو اومداخلی کولو زمینه هم برابره شی اوپه افغانستان کی داسی حکومت رانشی چی دوی ته خطروی. روسانو ته ددغسی حکومت دمشری لپاره ظاهرشاه مناسب ښکاري نوځکه داهلی ځلی کوی چی هغه ددی کار لپاره راضی کړی اوهم یو شمیر هغه ضعیف مسلمانان چی پر خدای توکل اوقوی ایمان نه لری ، دڅوکیو اوشخصی گټو اوغرضونو په خاطریی دیو څه وخت لپاره په جهاد کی هم برخه اخیستی وی ، تیر باسی اوپه هغه ائتلافی حکومت کی یی شامل کړی چی مشر یی ظاهرشاه اویا کوم بل فاسد انسان وی .

خو هغه چاچی خاص دخدای (ج) درضا ،اعلای کلمة الله ،دالحاد اوفساد دله منځه وړلو اوپه افغانستان کی دیو ریښتنی اسلامی حکومت دجوړولو لپاره وسله وال جهاد پیل کړی هغوی به هیڅکله هم دی ته غاړه کښینږدی چی له هغو کمونستانو سره چی دافغانستان دمؤمنوخلکوپه مقابل کی یی له هیڅ ډول جنایت څخه ډډه نه ده کړی ،تر یو نیم ملیون زیات افغانان یی په شهادت رسولی په لکونویی معیوب کړی،تر پنځو ملیونو زیات یی په هجرت کولو مجبوره کړی اوټول افغانستان یی ویجاړ کړی دی له هغو سره گډ اوائتلافی حکومت جوړکړی . هغوی دکمونستانو په دی دومره جنایاتو کله سترگی پټولی شی چی هغوی بی محاسبې اوبی محاکمی پریږدی .

موږهغو خلکو ته چی که له نجیب سره اویا دهغه له بادارانو سره پټ سازشونه کوی او ډول ډول طرحی ورسره منی داپه ډاگه وایو چی هرهغه حکومت چی دروسانو په خوښه په افغانستان کی راځی هغه به عیناً دتره کی ، امین ، ببرك اونجیب دکوډاگی رژیمونو په شان وی له هغو سره به دومره توپیر لری چی له هغوی سره روسان ترځنگ ولاړ وو اوس به ددغه حکومت ترشا ولاړوی .لکه

کفري طاقتونه خو دخپل ځان په مقابل کی یوازینی دښمن اسلام او مسلمانان گڼي ، نو هغوي بیا کله بی غرضه اوبی هدفه دمسلمانانو سره مرسته کوي ، بلکه هڅه کوي چی دمسلمانانو ترمنځ دبی اتفاقی اورته لمن ووهي ، شخړی اولانجی رامنځ ته کړي اوځانته دمداخلی اولاس وهنی زمینه برابره کړي .

چې پر هغومخکنیو رژیمونودملت باوراواعتماد نه و ، دهغه درانسکورولو او له منځه وړلو لپاره یې جهاد کاوه همداسې به دغه رژیم هم بې اعتباره اوپر ضد به یې وسله وال جهاد ادامه ولري مخلص مجاهدین په افغانستان کې دمجاهدینو په لاس دجوړشوي اسلامي حکومت څخه پرته بل هیڅ ډول حکومت نشي منلی .

نویوځل بیا تکراروم چې دافغانستان مجاهد ملت به ترهغه پورې خپل وسله وال جهاد جاري وساتي ترڅو چې په افغانستان کې یو اسلامي حکومت جوړاو له افغانستان څخه په تمامه معنا دالحاد اوفساد تغر ټول شي .

رامخې ته شوي اودهغې دعملي کولو لپاره داخل ته هئیتونه لیږل کیږي ، داکار موږته عبث اوغیر عملي ښکاري .دوی په دې کارکې له قوماندانانو سره مشوره هم نه ده کړې او ددغې طرحې دعملي کولو په مخکې دستونزو اوناوړه عواقبو

شوي ؤ اودتنظیمي شخصي اړیکو اومنافعو په نظرکې نیولو سره شورا ته داسې کسان انتصاب اومعرفي شوي وو چې دجهاد سنګرونه یې هم نه وولیدلي خو فقط،ددې لپاره چې هرتنظیم خپل سهم پوره کړې وي ،چې څوك ورته

زه دواحد قیادت لپاره دالارغوره ګڼم چې دیني علما ، دقوم مشران ، جهادي قوماندانان اوپه دین مین روشنفکران سره راټول شي ، په جهادي مشرانوفشارراوړي ،کیداې شي چې داکاردسیاسي ډګر اوجهادي مشرانو دوحدت سبب وګرځي .

. پوښتنه : په دې وروستیو وختونو کې دعبوري حکومت له خوا دانتخاباتو دپخواني طرحې عملي کولو په خاطر داخل ته یو نظار هئیت ولیږه ترڅو دټاکلي لایحې له مخې دشورا یا لویې جرګې لپاره غړي انتخاب کړي ، تاسې له دغې انتخاباتي طرحې سره موافق یاست اوکه کومه بله خاصه طرحه لرئ ؟

ځواب : دانتخاباتو کومه طرحه چې دعبوري حکومت له خوا

سنجش یې هم نه دې کړی . زما په عقیده ترکومه چې ما ددغو انتخاباتو لایحه لوستې هغه طریقه چې دوی په مخکې نیولې هغه انتخاب نه بلکه انتصاب دی اوداکار پرته له دې چې دمجاهدینو اوهمدارنګه ولسې خلکو اومهاجرینو ترمنځ . اختلافات اومشکلات راپیښ کړي مطلوبه نتیجه ترې لاس ته نه راځي ، داکارپه مخکې مشورتي شورا کې هم په بوڅه شکلي بدلون سره

نږدې اوددوی په طبع برابروو هغه یې مشورتي شوراته ورمعرفي کړل ، په هغه کې ډیر داسې کسان ووچې تزکیه یې هم نه وه شوې کله چې مشورتي شورا جوړه شوه اودعبوري حکومت دمشرۍ لپاره انتخابات سرته ورسیدل بیا چا دهغې مشورتي شورا دغړو پوښتنه هم ونکړه اوکوم علماء ، جهادي قوماندانان اومجاهدین چې په دغه شوراکې یې برخه درلوده هغوی په کابینه کې هم رانغلل

اوټوله کابینه دجهادی تنظیمونو دسهمیی په اساس جوړه شوه اوداسی اشخاص په کابینه کی شامل شول چی دجهاد سنګر یی هم نه دی لیدلی اونه دمجاهدینو له حال څخه خبر دی . په هرحال هغه مخکینی مشورتی شورا خوبیا هم مطلق انتصابی وه دغړیو په راټولیدو کی یی دومره ستونزی اومشکلات پیښ نه شول خو داځل چی دوی دانتخاب نوم هم ورپوری تړلی چی له هری ولسوالۍ څخه به نظار هیئت دعلما و، قوماندانانو ، سپین ږیرو اوولسی مشرانوسره دمشوری په نتیجه کی لس-لس تنه معرفی کوی دلته به راځی اوهغه به بیا دلته له خپل منځ څخه یو تن شورا اوبیا اسلامی لویی جرګی ته انتخابوی اوهمدارنګه به دلته له کمپونو اوتنظیمونو څخه هم نمایندګان دغی شوراته انتصابیږی،

لومړی خوداچی دغه لس تنه به څنګه له داخل څخه دعلماؤ قوماندانانو ، سپین ږیرواوولسی مشرانو سره دمشوری په نتیجه کی دنظارهئیت له خواانتصابیږی، دنظار هئیت غړی به یوه خوا، قوماندانان به بله خوا اوعلما اوسپین ږیری به بله خوا هریو به داهڅه کوی چی دخپل تنظیم په خاطر اودخپلو ارتباطاتو اوګټو په خاطراشخاص انتخاب کړی . اودغسی به دټولو ترمنځ یوه لویه شخړه روانه وی بله داچی ددوی په دغه لایحه کی داخبرهم شوی ده چی هغه قوماندان چی دیرش میله وسله ولری نظار هیئت ته داشخاصو دانتخاب په هکله مشوره ورکولی شی،دغسی خودیر داسی خلك هم شته چی دیرش میله اوحتی تردی زیاته وسله یی په یوه اوبله طریقه دخپلی شخصی دفاع اونورو مقاصدو په خاطر ترلاسه کړی،جهادهم نه کوی -هغه ته هم دانتخاب حق پکی حاصل شوی . په دغه برخه کی باید دقوماندان سابقه ، جهادی فعالیتونه اواهلیت په نظر کی نیول شوی وای نه داچی دوسلی تعداد ته اهمیت ورکړل شی.

ترکومه ځایه چی خبره دکمپونو اوتنظیمونو څخه دشورا لپاره دنمایندګانودراغوښتلو پوری اړه لری داطرحه هم نیمګړی ده ، ځکه چی دلته خو په دی هئیت کی دهری سیمی داسی خلك نشته چی هغوی ټول اشخاص وپیژنی اودهغه دتقوی اواهلیت په نظر کی نیولو سره یی شورا ته راوغواړی.دلته بیا هم هئیت اوراغوښتونکی اشخاص دخپلو تنظیمی ، قبیلوی اونورو اړیکوله مخی خلك راغواړی اوداهلیت مسئله له پامه غورځیږی

همدارنګه کله چی له داخل نه له هری ولسوالۍ نه لس-لس تنه اوبیا دتنظیمونو اوکمپونو څخه نمایندګان راټولیږی اوبیا به له خپل منځ څخه یو یو تن دشورا اویاداسلامی لویی جرګی لپاره انتخابوی اونوربه پخپله مخه ځی ، دغسی به دشورا لپاره دهغه یوتن په انتخاب کی کشمکش روان وی اوهر څوك به خپلی خواته زورکوی چی ددوی له ډلی اوتنظیم څخه هغه یو تن وټاکل شی نو ویلای شودغه طرحه به په عملی ډګرکی خامخا ستونزی اومشکلات ولری اوهلته په سنګرونو اودلته په کمپونو اودفترونوکی بهداختلافاتو سبب وګرځی.

پوښتنه : دقوماندانانو دشورا دتشکیل په باب په عربی هیوادونو کی څه ډول برداشتونه موجود وو؟

ځواب : داخو معلومه خبره ده چی دقوماندانانو شورا دهیواد په

داخل کی دجهاد دبهبود اودجهادی فعالیتونو دهمآهنگ کولو لپاره جوړه شوی ده ، داشورا په خارج کی دچا په رسمیت پیژندلو اودهغوی تائیدولو اویانه تائیدولو پوری څه اړه اوضرورت نلری .

ددغی شورا درامنځ ته کیدو اوفعالیدو لپاره همیشه ضرورت ؤ اوله ډیری پخوا څخه ددی کارلپاره دجهادی قوماندانانوله خوا هلی ځلی روانی وی چی دهمدغو هلو ځلو په نتیجه کی قوماندانان دیوی داسی شورا په جوړولوبریالی شول چی په هغه کی دافغانستان دهری سیمی ، ژبی اومذهب نمایندگان برخه واخلی ،دوی سره راټول شی غونډی وکړی، دجهاد دمنظموالی بهبود اوښه والی لپاره تصمیمونه ونیسی ،اوپر دښمن باندی دهماهنگو اوګډو عملیاتو پروگرامونه جوړاویوه مشترکه ستراتیژی رامنځ ته کړی اودمجاهدینو ترمنځ چی په ځینو سیمو کی دبیلابیلو عواملو له کبله اختلافات راپیداشوی هغه هم ددغی شوراله لاری ختمیدلای شی. هغو اسلامی هیوادونو اوخلکو چی دافغانستان دجهادملاتړ یی کړی اوکوی یی هغوی ته ددغه شورا رامنځ ته کیدل یونیك اومؤثراقدام ښکاری.

پوښتنه : دافغانستان دراتلونکی لپاره دیو واحد قیادت اویوی واحدی اداری جوړولوپه هکله ستاسو په نظر کومه طرحه عملی اواسانه ده .

ځواب : سره له دی چی په اوسنیو حالاتو کی دواحد قیادت په اړه پیشبینی کول مشکله خبره ده ، دلته له یوی خوادجهادی تنظیمونو دمشرانو ترمنځ اختلافات موجود دی اویوبل ته له قدرت نه نه تیریږی اوهلته دروسانو مزدوررژیم لا په ځای پاتی دی .

خوبیا هم دیوواحدقیادت درامنځ ته کیدو لپاره زما په عقیده یوټلاره داده چی علماء ، مجاهدین اوقوماندانان سره متحد شی اوپرجهادی مشرانوباندی فشارراوړی چی خپل منځی اختلافات پریږدی له خپل منځ څخه یوواحد قیادت رامنځ ته او ټول یی اطاعت وکړی .

په نوره نړۍ کی هم دادستوردی کله چی سیاسی مشران اولیډران پخپلو منځو کی داختلافاتوله کبله ددولت په چارو کی بی نظمی رامنځ ته کړی اوپه یوواحد قیادت نه راټولیږی ، پوځ اواردو دهیواد دبهبود اوملی منافعو په خاطر مستقیماً مداخله کوی چی دامداخله اکثر دکودتا په بڼه وی اودهغی په نتیجه کی پر ټولوسیاسی لیډرانو فشارراوړی چی هغه واحد قیادت ومنی اواطاعت یی وکړی . زموږدجهاد په اوسنی حالت کی چی جهادی مشران په اختلافاتو اخته دی قوماندانان مجبوردی چی دیو

پاتې په(٦٥)مخ

مـوږهغو خلکوته چی له نجیب اویا دهغه له بادارانوسره پټ سازشونه کوي اوډول ډول طرحی ورسـره مني داپه ډاگه وایو:هرهغه حکومت چی دروسانو په خوښه په افغانستان کی راځي هغه به عیناًدتره کي،امین،کارمل اودنجیب دگوډاگي رژیمونو په شان وي.له هغوسره به دومره توپیر لري چی له هغوي سره روسان تر ځنگ ولاړو اواوس به ددغه حکومت ترشا ولاړوي

نظامي ښوونه او روزنه

محمدعمراخګر

دجزوتامونو تبديلي

په مدافعه کی دجزوتامونو تبديلی اودموضع مبدا اشغال دتعرض په مقصد اجراکیږی. تبديلی قاعدتاً دشپی لخوا سرته رسیږی،تبديلی دقيقه احضار سریع اوپه مستوره توګه اجراء،اوتبديل شوی جزوتامونه مخکی له رنا یی څخه محل دتجمع ته ورسیږی .

ترتیب اوزمان دتبديلی دمافوق قوماندان لخوا تعین اودتولی تول جزوتامونه په یوه وخت کی تبديلی اجراء کولی شی .

هغه تولی چی دمحل اویا موضع تسلیمی اخلی ترشروع - دتسلیمی پوری دتبديلی مبداء په منطقه کی موجود وی،هغه تولی چی موضع اویا دمحل تسلیمی ورکوی دهغه څخه یوه افراد په ګینوموارددو کی افسران دراه بلد په توګه مؤظف کیږی اوهم په لارو کی لوحی، اشاری اودعیار پوستی ځای پرځای کیږی .

دتسلیمی اخیستونکی تولی په تعین شوی زمان دمستوررولاروڅخه دتبديلی ځای ته ځان رسوی.جزوتامونه درسیدو سره سم په خپلو محلاتو اومواضعو کی چی ورته تعین شوی تیتیږی اوپه سرعت سره تبديلی شروع کوی .

هغه تولی چی موضع اویا محل تسلیموی دتجمع مستورمحل حتماً باید ورته تعین شی ترڅو داجزوتام هلته ځای پر ځای شی اودپرسونل سلاح،وسایطو دکنترول څخه وروسته دکندك دتجمع محل ته ولاړشی .

قوماندان چی محل یا موضع تسلیموی باید ددشمن دناڅاپی حملو دمخنوی لپاره پوره احضارت ولری علاوګی مترصدین أتشداره وسایط موظف دنوروجزوتامونه بالخصوص دتوپچی سره دومداره ارتباط ولری .

تبديلی دمحرمیت ساتلو لپاره دستورواخفا تدابیر باید په جدی توګه په نظر کی ونیول شی اودموجوده پروګرام «رژیم » دتبديلی په محل کی شدیداً مراعات شی .

که چیری دتبديلی په وخت کی دشمن تعرض وکړی دجزونامونو تبديلی معطل تول جزوتامونه ددشمن هجوم دفع طرد پدی صورت کی سوق اداره دتسلیم ورکونکی قوماندان پغاړه وی اودده پر امر په نوی جزوتامونه محل اوموضع ته داخلیږی تبديلی ددشمن دفع طرد څخه وروسته سرته رسیږی .

تسلیم ورکونکی قوماندان مکلف دی چی دتبديلی امراخیستلو وروسته ددشمن په باره کی معلومات اودهغه طرزدحرکت شیمه

دمدافعی تسلیم اخیستونکی قوماندان ته ورکړی محل «موضع» دمواصلت لاری اوپه اراضی کی دلاندی څیزونو سره یې اشنا کړی ددشمن موقعیت دفعالیت خصوصیت ، داتشداروسایطو موقعیت تدافعی تأسیسات اوموانع دخپلو جزتامونو موقعیت ، داورسیستم اوتعین شوی رژیم دفعالیت اوهم دمینونو کشت زار اوپه هغه کی موجود مصبرونه .

دتبدیلی اواحضارت په وخت کی باید لاندی څیزونو ته پاملرنه وشی:

ـ دحرکت لاری دتبدیلی محل تر(دچا لخواچیرته) لوحی اشارات اودعیار پوستی توظیف کیږی.

ـ په کوم ځای کی څه وخت دراه بلدانو سره ملاقات کیږی.

ـ تسلیم ورکونکی قوماندان خپلو تحت امر قوماندانانو ته لاندی اوامر ورکوی :

ـ موضع چا ته تسلیموی ، کوم شیان باید تسلیم کړی محل دتبدیلی اوترتیب دفعالیت.

دکوم جزوتام څخه په کوم تعداد راه بلد درهنمایی په مقصد څه وخت کوم ځای ته راځی دکومولارو څخه تسلیم اخیستونکی جزوتامونه دتبدیلی ځای ته راولی .

په کوم ځای دچا لخوا اشاری، لوحی ، اودعیارپوستی باید ځای په ځای شی.

ـ دتبدیلی شروع اوختم اووخت یې طرزدتبدیلی په وخت کی ددشمن تعرض اوطرزدفعالیت.

ـ تسلیم ورکونیك جزوتامونه باید دمکملو احضاراتو سره په خپلوځایو دتسلیمی لپاره حاضروی .

تسلیم اخیستونکی قوماندان لاندی مواد خپلو تحت امر قوماندانانو ته ابلاغ کړی:

ـ دکوم جزوتامه څخه موضع تسلیمووا وکوم شیان باید تسلیم کړو .

دمحل مبداء څخه دوتلو زمان اوترتیب دحرکت دتبدیلی محل ته اودراه بلدانو سره ملاقات کوم ځای کی لوحی اشاری دعیارپوستی ځای پر ځای کیږی ،

دتبدیلی شروع اودختم وخت یې ترتیب دحمایی اوارتباط دتبدیلی په وخت کی.

دتبدیلی په اثنا کی ددشمن تعرض اودفعالیت اوترتیب تسلیم اخیستونکی قوماندان دتبدیلی په وخت کی دتسلیم ورکونکی قوماندان دترصد په محل کی موجودوی اودتبدیلی څارنه اواداره په کوی .

کله چی قوماندان دتحت امرقوماندان څخه دتبدیلی څخه راپورواخلی موظف دی دمواضع صحیح اشغال دجزوتام احضارت داتشدارو وسایطو کنترول اوجزوتامونه ته محاربوی وظایف ورکړی ، پس له تبدیلی څخه نوی جزوتام دپخوانی جزوتام داجراتو طرزالعمل شدیداً مرعات کړی په هغه صورت کی چی تبدیلی دشپی لخوا صورت نیولی وی .

قوماندان مکلف دی رڼا څخه مخکی محاربوی وظایف جزوتامونه ته ورکړی اوسیستم داورکنترول کړی .

ای دستر قوت افغانه!

عرفاني ...

دابدال دویني څرېکې　　دغزني دهیبت کړېکې
دشېرشاه ننګ واقباله　　په غیرت لکه خوشاله
دنیا تاته دې حیرانه
ای دستر قوت افغانه!

هسک بیرغ به داسلام کړې　　سر به پورته په اقوام کړې
دغلیم زور به تمام کړې　　ځان به ورپه داحترام کړې
راته خوږ د درست جهانه
ای دستر قوت افغانه!

کفرتانه په لړزان دی　　درنه شرک هم پرېشان دی
ستا دوېرې ځني رپي　　څوک قوي که پهلوان دی
داسلام په نوم قربانه
ای دستر قوت افغانه!

ته پخپله خاوره غواړې　　خپل اختیار هم اقتدار خپل
اتحاد ـ خدمت منشور ستا　　یې تابع دکردګار خپل
امان غواړې له شیطانه
ای دستر قوت افغانه!

دوحدت په دې ګلشن کې　　ته لیدی نشې الحاد
خدای نزلوي لوی غواړي　　دروسي رجیم هبواد
شم لوګی دې له ایمانه!
ای دستر قوت افغانه!

ستا تقدیر کې نښته ماتې　　تاجداري دې په قسمت کې به
ته جهاد په هغه نوم کړې　　سرچشمه چې د قوت ده
دالله ددین پاسبانه
ای دستر قوت افغانه!

هلته ناکام شي د ناکامی ورځې
دلته راوتښتي چکر جوړ کړي
هلته مسکو کې به جارو ورکوي
دلته دځانه خاص لښکر جوړ کړي

سعید رهبر

څوک چې نادان شي د نادانه ورځې
په هر قدم به وبېږي ځان غرقوي
داتش په نوم انقلابیان د وطن
دوی خو ملګرو ټول جهان غرقوي

دجهاد خاطره:

دخاورې ارزښت

ترياله غني

دخونکارو سرو لښکرو په دوران کې
دوطن دښتې درې په وينو سرې وې
ټول هيواد ديرغلگرو له ستمه
سره تبې و، په زړو سوې پرګنې وې

* * *

چاوی کډې له وطن ځنې بار کړې
دخونکارو سرو لښکرو له ستمه
څوك وتلي وو له کوره تاوده موړچل ته
دوطن د آزادۍ په ښکلې تمه

* * *

ميږ خپل ځای خوښې کړی و کينې ته
له کسانه ايښې دل دخلکو زړونه
دهرچا زړه به دغچ نشتريو ن لو
چې به کله اخلو موږ خپل بدلونه

* * *

په دې ترخ کې يوه ورځ دکابل ښار کې
يو افسر چې يې خپل ځان گڼه ښاغلی
په ډېر کبر د ټپنگ مخې ته ودريد
له پلوړونکی يې تپوس وکړ لوغلی

* * *

دا ميوه ولې قيمته پلورې څوا سنه؟
يې تراوسه لا غافل له انقلا به»!«
هغه سور شو له غوسې نه ژړې وويل:
ماته غوږ شه چې دې پوه کړم ای جنابه:

دا ميوه ده په سختی لاس ته را غلې
خاورې نه ده چې يې وپلورم ارزانه
شرمنده شو ځنې ستون ځان يې بيا کړ
په پوښتنې افسر ډېر و پښېمانه

* * *

دوطن دفاع وه فرض په افسر باندې
شو يې دينه وطن ولاړ ترې پر اسانه
د پلورونکی لوړ همت کې چې ايمان و
ورته خود وه دوطن معامله گرانه

* * *

چې په خدای[1] دچا ايمان وي همت لوړ وي
رسالې يې واړه لاندې تر قدم شي
«دغيرت ناوې ته سم کتلی نشي
هغه سر چې بې له خدايه چا ته خم شي»[1]

(۱): داوروستي بيت دظاهر کلاجوي دی چې دلته تضمين شوي دي.

دخزان سپېره بادونه

اسعد الله حنيفي

راځه بهاره دچمن گلونه وغوړوه!
دشهيدانو په قبرونو پسې خې وغوړوه!

مس مخبت خزان دی بوټی دی خرگړ دوي کې
يو ځل راځه خزان ځپلي زړونه وتخوه

داستا رنگونه مو بهاره شوگېږ کړيدي
راځه را دروبه دخزان بوځپلي ونړوه

لږ دماليار کړيکو ته غوږ شه څپېر کړيکو ته
داکړيدلي ماليار بيا په کر ښسار وخندوه

ټوله نړۍ کې گوټ په گوټ دا بهارونه گوره
افغانستان کې دخزان سپېره بادونه گوره

* * *

څه ناکرې دي چې افغان اولس گاللي نه دي
کوم يو کړاو دی چې په هغه کړيدلي نه دي
څومره تاراک څومره بربادونه ووچې ويې زغمل
کوم يو ډگر دی چې په ځغرده جنگيدلي نه دي؟

دروس گولو ترې غوټيني سيني سپر نيولې
کوم يو سنگر دی چې يې هلته ورد انگلي نه دي؟

کوم استعمار دی چې د زامنو ته ماته نه کړه؟
کوم يرغلگر دی چې يې ښاته تمبولي نه دي

حنيفي مات او گوړ ترې تللي زړبوځونه گوره
دافغانانو داسلام په دين جنگونه گوره

وصيت

داکټر په داسې حال کې چې ناروغ ځه
ليکل هغه ته ووېل: زه تا ته نسخه
ليکم ته دځه پر ليکلو بوخت يې؟
ناروغ ځواب ورکړ: خپل وصيت ليکم

ككوره ككوره وايه خوله خوږه ساته
نور دې هرا رمان سينو ونو وړی دی
خدای بنوکه تشرب راځي ووهي
ثور انقلاب ښېپو لاندې مونږ کړی دی

تکل

بې ځوابه پوښتنې

لیکوال: [illegible]

خدای (ج) خبر دی چې زه به دماضي په کوم دالان کې ګرځېدم که مې دحال غمونه اودردونه شمېرل چې په سترګومې له شانه دوی خپرې وغوړېدې ، دلاسونو حرارت ددوستی اومحبت پیغام زما دزړه ګوټونو ته ورساوه ، خو نه پوهېدم چې څوك دی ، زمادکوم مورچل اومحاذ آشنا دی زما دکومو کومو دردونو اورازونوهمرازاو ملګری به وی، اوبیا چې په خپله دغه عجز په ټولو سترګو خپل نالېدلی دوست ته ښکاره کړم هغه زماله سترګو نه لاسونه بیرته کړل مخامخ راته ودرېد پخواتردی چې زه یې په ځای راوپېژنم دواړه راسره غاړه غړې شو.

له مینی اوخلوص ښکاره ولونه وروسته مې مخامخ سترګو ته ودرید هغه زما په سترګو کې دنا پیژندویی اویا حسرت څه نښې لیدی نو په ګیله منه لهجه یې راته ووېل: ودی نه پیژندلم !! هیر دی شوم !!

اوبیا زه ریښتیا هم دحیرت اوپریشـانۍ څپـــو پـــــــې واخیستم، زما مخې ته څوك ولاړ؟ هغه چې ددښمن ګوزار ته یې تندی اوټټر سپر کړی ؤ ، زما ددولس کلنی قربانۍ ژونـدۍ نمونه زموږ دملت داتلوال مقاومت یوه پولا دی ستنه او لکه هندوکش غرندی دسره سېلاب په وړاندې یو ستر اومقاوم غر.

دهغه په تندی دتېرو دوولسوکلونوستـــونـــځو او رنځــونو، لوږو ، تندو ، هسکو، ټیټو اودمبارزې اوجهاد دسپېڅلی او افغزنی لاری دمستقبل حال اوانجام تصویرونه اوتعبیرونه ووزما مخې ته دجهاد اومقاومت اتل ولاړ ؤ ، زموږ دملت دقربانۍ اوایثار ژوندی مثال اونمونه ، ساده وطنی جامی یې په غاړه وې ، دتندی ځلا اودسترګو رڼا یې دخپل ملت ، دخپل با شهامته او سر لوړی ولس دلوړوارادو اولوړوحوصلو ترجمانی کوله ،

زمامخې ته یو وچ ډنګر بنیادم ولاړ کوم چې دمیرانی داستانونو یې له آسمانه سره سرلګاوه ، مخې ته مې هغه څوك ولاړ ؤ چې دازه ، ته اومورتول یې دتورې اوتکبیر له برکته په نس ماره اوتن پټ یو ،

په مخ کې یې دعزم اوارادو دریاب څپې وهې اوپه تندی کې یې له ستروسترو حادثو سره دټکر تلو سې ،

دهغې قافلې یو سر لارې مې په مخ کې ولاړ دی چې دتګ په بهیر دخپلو وینو ډیوې بلوی او پړاو په پړاو دشهادت څلې دروی ؛ هغه څوك چې دعظمتونوکیسې یې په درست جهان خورې دی مخامخ راته ولاړ دی ، په مخ کې یې دفتحې زیرې وینم دربنتیانی فتحې او ابدی سعادت ، هغه تنه وینم چې روسی ټانګونه یې ترقدمونو لاندې دی ، هغه سینه چې دستم تیغونوته سپر وه اوهغه تندی او څېره چې دبمونو له پا رچو سره لوبیدلې اودایمان اوباروتو دمقابلې نښې نښانې اوژورداغونه یې لا په تندی ځلیږي .

عادې انسان دی خو دغیر عادی ارادو خاوند ، دوه لاسونه لرې دوه غوږونه اودوې سترګې ، همدغسې زما اوستا په شان نه ،نه ! پر موږ دلتې او یې کارې غوښې انهاردې هغه له دې سرو غوښو نه هم یې برخې دي ، وچ کلك هډوکې همغه زما پخوانی یاردی ، خو په دومره تفاوت چې دځوانۍ پر بن یې دعمر دژمې واوره اوریدلې اوداسې ښکارې لکه پوره دیرش کاله وروسته یې چې وینم . .

دسنګر په روایتی جاموکې دی ، په څېره یې دبرکت ګردونه لویدلې اوچې لږ په خپلو اعصابو قابو شم په جامو یې دوینو خاپونه اوداغونه وینم زه ځان خبرو ته جوړوم خو لکه چې شونډې مې ګنډلې وې ، غزمې په مرۍ کې ایسار شې اوهمدغه وخت چې زما په زړه کې ډیرې پوښتنې ، هیلې اوتلوسې راوپښې شې ، یو شیك اولوکس ځوان په یوه وروستی ماډل موټر کې سپوردې رابنکاره شی آشنا مې چې ورته ګوری ناڅاپه یې په غوریدلې تندی دخواشینۍ ګونځې جوړې شې په زوره وایی هغه دی ! هغه دی زموږدوینو تجار زموږدوینو معامله ګر اویو شغ شی موټر دسترګو په رپ کې زموږترڅنګ تیر شی ، دوری اوګردونه زما اوزما دآشنا ترمنځ حایل شی زه سترګو ته لاس نیسم چې لاس بیرته کړم هغه نه وی شاوخوا ته ګورم هیڅ نښه یې نه ښکاری زما په زړه راپیدا شوی پوښتنی ټولې بې ځوابه پاتې شی بیا یوه جتکه خورم او چې ځان ته مې پام شی په یوه کوټه کې ناست یم مخې ته مې دمحمد الله نعمتی تصویردی -هغه تصویر چې دشهادت په یاد یې چاپ شوی اونن دیوی جهادی خپرونې هیرشوې باب

په (۶۵) مخ

انصار شاعران

سعید رهبر دافغانستان دجهاد خواخوږی اودپښتو ادب خوږژبی شاعر

ننګیال

کله چې دهجرت قافلې خپل یون پیل کړ - کله چې دزورظلم اوتیرې په مقابل کې دمقاومت اومبارزې توغ پورته شو - کله چې دحق اوباطل ترمنځ دمعرکې اومقابلې ګولۍ وچلیدلې-کله چې داسلام قهرمانو سربښندونکو پر خپل دین دغیرت په لارکې خپل سرونه په تلۍ کې ونیول - کله چې دوینو اورونو اوویرونوخپې توپانی شوې اوکله چې دحق اوباطل - غلامۍ اوآزادۍ-اسلام اوکفر ترمنځ دجګړې هنګامه پورته شوه اوکله چې دهجرت اوجهاد دکاروانونو بهیرونه په غورځنګوشول اودانصارواومهاجرو تاریخ راغبرګ اودهجرت اوجهاد باب پرانیستل شو، نو ورسره دمدینې دمهاجرواوانصارو تاریخ اوعظمت راژوندی شو، داسلام دصدریادونه تازه شول اودانصارو اومهاجرو پیوستون داسې یوه بنه اوقوت غوره کړلکه دیوه عقاب دوه وزرونه، دلته ؤ چې ادبی حرکت راولاړشو ،دغه حرکت دحق اوباطل دروانې معرکې سره پل په پل مخ پروړاندې رهی شو پیاوړی شو، پراخ اوتوپانی شو. هو! کله چې

ګولۍ وچلیدلۍ نودقلمونو توری هم له
تیکی راووتلی اوویرقیدی-اوداسلام
ددښمنانو په سینو کی ښخه شوی
دټکواوتورویه توروډوحشت تیاری
خیری شوی-زموږانصارو شاعرانو
اوادیبانو دخپلو افغانی وروڼو په
برحقه مبارزه اوجهاد کی دقلم توری
داسی وچلولی اودګډ دښمن پرسینه
یی دخپل قلم په توره هماغسی
پرهرونه جوړکړل لکه چی خوشحال
بابا دمغلو په سینه جوړکړی
وواواحمدشاه بابادمرهټیانو پر ټټر.
کږهلته مجاهدینودخدایٔ درضا په لارکی
، خپلی وینی ښندلی اودسرونو قربانی
یی ورکولی،نودلته لیکوال وینه په قلم
کی اچولی وه اودخپل مجاهد
وروردا تلوالی ، شهامت ، مبارزی
اوقربانیو یادګارونه اوداستانونه یی
پری ابدی کول .

داقلمونه - دافکرونه اودانظرونه
یوبل ته نژدی کیدل دیوبل په څنګ
کی دریدل-یوی خوایوه هدف اویوه
لوری ته متوجه کیدل اودیوه متعهد
اسلامی ادب سنګرونه یی جوړول .

داسی چی نن موږګوروچی دغه
متعهد اسلامی ادبی تحریک دخپل
تکامل اوبشپړتابه منزل ته
رسیدونکی دی .

دغه ادبی تحریك دداسی ادبی انقلاب
اوانقلابی ادب بنیادکیښود چی دتشو
شعارونو اواستخدام شویو پوچو
اویکنواخته نارو لمن یی ټوله کړه
اودښتو دژوندی اوژوندنی ادب انقلابی
تګلاره اوتګ لوری یی وټاکه اودهغه
تش په نوم انقلابی ادب چی په حقیقت
کی دلفاظیو اوشعارونو یو مرکالبوت
اوصنعتکاری وه تفر یی ورټول کړ.

اودغه وړدمهاجرو اوانصارو دادینی
اوادبی رشتی سره وغزیدی اوټینګی
شوی-ګډسنګرونه اومشترکی
موضعګیری - دریځونه اوپیغامونه یی
رامنځ ته کړل .

اوس ددغه متعهد ادبی تحریك لمن
دومره پراخه شوی چی داسلام
اوپښتنو دښمنان یی دشکست په
غارونو ننه ایستلی دی .

موږغواړو له افغانانو سره ددوی په
اسلامی جهاد اوبرحقه مبارزه کی
دپاکستانی انصارو شاعرانو اوادبیانو
دقلمی جهاد تلپاتی حماسی اوادبی
فنپاری دخپلونشراتو له لاری خپلو
مجاهدینو - مهاجرینو اوانصارو ته
ورسوو،پدی هکله به دشاعرپر ژوند ،
ادبی مصروفیاتواو فرهنګی فعالیتونو
باندی خبری کوو دجهادی شعرونو
نمونی به یی وړاندی کوو اوخپل
قهرمان ولس ته به یی ورپیژنو
څودغه اسلامی ادبی غورځنګ
لاپیاوړی شی،نورهم پراخ شی اولدی
زیات دولس دهیلو ارمانونو اوژوند
ترجمان اوښکارندوی وګرځی .

پدی ګڼه کی موږددغه ادبی تحریك
یونوماند مخکښ پواوړژبی اوخوږ
ژبی شاعر اودیو پیاوړی لیکوال دژوند
فن اوشخصیت په هکله خبری کوو .

دغه تکړه لیکوال اوخوږژبی
شاعرمحمد سعید ږهبرډی چی
د۱۹۵۷ میلادی کال د ستمبر په ځیمه نیته په
کوهاټ کی زیږیدلی دی له وړوکوالی
راهیسی یی له شعر اوادب سره مینه

وه دشعر ژبه یی خوږه خو په عین حال کی تیره ده.رهبر متعهد شاعر دی ددوی شعرونه اولیکنی په آباسین ، هیواد اودپاکستان په نورومعتبروپښتو خپرونو کی خپریږی - اردوهم لیکی له اردوژبی مشرق ورځپانی سره قلمی همکاری لری اولدی سره دلاچی په یوه ښوونځی کی استاد هم دی .

کله چی افغانانو ددین اووطن په لارکی هجرت ته مخه اودجهاد اوقربانی په ډگر ودریدل رهبر صاحب ورسره دخپل قلم په توره په دغه برحقه مبارزه کی فعاله برخه واخیسته له لومړی ورځی یی خپل فن ددغه مقدس جهاد اهدافو ته وقف کړ- په مشاعرواوادبی محفلونو کی یی دافغانانو دجهاد اوقربانیو ترجمانی اونمایندگی وکړه دشعر په ژبه یی له افغانانو سره ددوی پوپیراوماتم وژړل اوپه ویاړنو اوحماسو یی وویاړید .

ښاغلی رهبر په ډیرجرئت اوشهامت له افغان جهاد سره دپیوستون اعلان وکړپه وارکومی اعلان، دصوبه سرحد په گوټ گوټ کی یی په ادبی محفلونو کی دافغان جهاد دتائید اوحقانیت غبرپورته کړ- رساغږداسی غږچی دجهاد دښمنانو غوږونه یی کاڼه کړل دده لدغه غږسره دنوروپښتو ادیبانواوشاعرانو غږونه هم مله شول اوافغان ولس ته یی ددوی دوینوپه بهیر کی دسپېڅلی زیری وکړ اوداورترانی اودژوند شعرونه یی وویل دبارودوپه مقابل کی یی دایمان دبریمن مقابلی داستانونه انځورکړل او...

دهغو تولو تش په نوم پښتنو مخونه وړتوراونیتونه رسواکړل چی پښتو یی دپیسو له پاره وه اوهغه چی نن یی دهمدغو پیسو په لالچ کی دافغانانو اوپښتنو مخالفت کاوه اودروسانو اوهندوانو دول ته یی نڅا کوله .

رهبر دخپل هنر په برکت همدغو تش په نوم انقلابیو نو له ځیرودریاء اوتزویر پردی لیری کړی اودهغوی په ناځوانیو یی دتولو پښتنو دپیغوروړوگرځول .

پدی توگه درهبرصیب فن دژوند دسترو مقصدونو اودانسانیت دلوړواقدارو حامل اومدافع دی. دی دشعرپه ژبه دژوند حقایق اوواقعیتونه راسپړی اودحق اواسلام په معرکه کی په ډیره میړانه دقلم توره چلوی، دی دهر مظلوم ترخنگ اودهرجارح په مخالفت اودښمنی تینگ ولاړاوظلم اوتیری سره چی په هره بڼه اوهرځای وی لاس اوگریوان دی .

رهبر صیب له جهادی خپرونو سره هم خپله قلمی همکاری جاری ساتی دجهادی اوانقلابی شعرونو یوه مجموعه یی د(توره اوقلم) په نوم ترچا پ لاندی ده٠ راځی ددوی دخوږواوپاروونکو شعرونه سره ولولو

دحیاء غرونه

سامراجیانو ته مرگونه افغانـــان دي
دپښتــو اوحیــا غرونــه افغانـــان دي
دملــــت دغـلبــي دعــــروج لارکــــي
ځـــي په بره شنه بـازونه افـغانـان دي

دالحاد دډېرانو نوخس وخارته
دعبرت تند سیلابونه افغانان دي
چي دحق په نامه تیر دي سرومال نه
دملي تاریخ نازونه افغانان دي
دوطن دهرغلیم دبردپاسه
راپریوځي تندرونه افغانان دي
دادب اوسیاست په دنیاګي کې
درنا دك میناره ونه افغانان دي
دکریملن دنحوست سپیري ماني ته
زلزلي دي توپانونه افغانان دي
دخوشحال نیکه دخوب تعبیرپوره شو
دروند فطر ته رون مخونه افغانان دي
چي بچي داشتراك يي په لړزان کړل
دوطن دنازمړونه افغانان دي
دتیټ سترګي استعمارورځي پوره شوي
ورغوټه پري هسك سرونه افغانان دي
اي «رهبره» دقلم اوتوري باب كي
دزرین وخت یادګارونه افغانان دي

چې خوارو زارو انسانانو له
زړونو کې پټ داسې غلې ګرځوي
نوتش په نوم انقلابیان به داسې
تل خړې سترګې تشې خولې ګرځوي

شهید

ستادپاکي ویني دسرخي اورنګیني په سر
مونږته دژوندون دبهارونو غيږي خلاصې شوي
ستاپه وینو سوررخمي زخمي پښتون تتریه مخ
مونږه ته چاپیره دګلونوغيږي خلاصې شوي
ستایوه نعره چي ستادخولي نه رابهرشوله
لاړه دغلیم په کوردتندریه مثال شوله
ستایوه نګاه دشوخ فطرته پښتني نظر
خدايږو پیش خیمه دغلیمانو دزوال شوله
ستاهره جذبه چي ستاپه زړه کي راوچته شوه
سمه ورسره دسامراجیانودنیا ورانه شوه
اي داسلامي دنیاباتوره ستایوغږسره
لاړه دملت ددښمنانو دنیاورانه شوه
ستاهریوتکل دخپلي خاوري عظمت په نوم
سبخ لکه دغشي استعمارته په تترشولو
ستااستقامت اواستقلال دپښتني وجود
کوم خوانه چي هم‌وشو یلغارنوورته غرشولو
ستادمرام مینه په وازکومي دستايلوده
داچي سره اوسپین تول سامراجیان يي په لړزان کړلو
ستارنګینه وینه خدايږو څومره زوروره ده
داچي غاصبان يي تول اخته په ویردځان کړلو
ستادشهادت په طفیل موږته تورتمونو کي
خدايږو درنا دمنزلونو لاري خلاصې شوي
ستادقرباني اودایثارثمر موومندو
مونږته پل په پل درفعتونولاري خلاصې شوي
خودخوددوران دبام دسره په قدم قدم
اي خوږه شهیده! ستامراني ته سلام کیږي
خودخودوطن ذره ذره فخریه تاکوي
خودخوستادپاکي وینې دومره احترام کیږي

نه خو نامه د سیاست پېژني
نه په مفهوم د ژوندانه پوهيږي
دا د سورمخي استعمار اجنټان
دا نقلاب په معنا څه پوهيږي

لنډه کيسه

ملکوتي نعره

«صديقي»

په هغه ورځ لمرهم وړانګو خوررولو ته زړه نه ښه کاوه پر مخ يي وريځو يوه خړه پرده راکش کړي وه تابه وی چی نه غواړی په بربند مخ له شهيدانوسره سترګه په سترګه شي ،په اسمان کی به خړی وريځی کله يوه خوا شوی کله بله خوا ، داسی ښکاريدی چی دوی هم دمجاهدينوپه شان ناکراره دی .

کلی خپل رنګ بدل کړی ؤ ، دچا په مخ کی دخوشحالي اثار نه ليدل کيده ، دټولو رنګونه الوتی ؤ ، تابه وی چی وينه يی تری زبيښلی وی ټول ګونګ سنګ ؤ شونډی وچی خړ پړ اووارخطامعلوميدل ، دچا لنګيږنه وه ځوك پښنی يبله ؤ ، دچا واسکټ نه ؤ اودچاپټو نه ؤ ټول ديوه ديواله مخی ته درول شوی ؤ ، چا دخبرو کولو جرئت نه درلود هر يوه به دسترګو لاندی يوه بل ته کتل ، په سترګو کی يی داوښکو څپنی راخوټيدلی وی خو ځځيدی نه ، دهر يوه سترګو ته ، ورور، تره ، وراره ، پلار اوزوی دريده ، خو يو هم نه پوهيده چی دکوم يوه دورور، زوی او ... تمر به ددی وحشيانو په مرميوغلبيل غلبيل شوی وی ، هر يو دهمدی غمونو په ځولی کی زنګيده اوچی بيا به يی ملاصيب ته پام شو سترګو کی به يی اوښکی راغلی خوملاصيب بيخی فاتحانه ښه غوره کړی وه سر يی هسك نيولی ؤ ، چی ښه به ورته دقيق شوی په څيره کی دخپګان اثار ترنظر نه راتلل بيخی ددی شعر مصداق ګرځيدلی ؤ چی :

نشان مرد مومن باتو ګويم
که چون مرګ اش رسد خندان بميرد

پر شونډو به يی دموسکا ځپه راغله ، دځان سره به مسك شو اوځير ځير به يی دروسانو ټانکونو اوتوپونو خواته وليدل ، دموسکا ځپه به يی پرشونډو اوږده شوه تابه وی چی دروسانوپرټانکونو اوتوپونو پوری خاندی ،دکلی دسپين ږيرو اوماشومانو خواته به يی وليدل سربه يی وښوراوه دځان سره به وبوګنيد :

بی غيرتو ! داسپين ږيری اوماشومانمو په دی يخه هوا کی دځه لپاره درولی ...

سر به يی ښکته واچاوه په عميق چورت کی به ډوب شو سترګوته به يی وركوټی زوی وزړه لوراوخليخانه ودريده ، بيا به يی سر وښوراوه :

خدايه ! تاته مې سپارلی ...

لنګی يی پر سر سمه کړه ، پر ږيره يی لاس راکش کړ،ترځنګ يی يوه افغانی صاحب منصب تير شو ، ځير ځير يی وروکتل ، شونډی يی وښوريدی :

بی غيرتو ! هيوادخومو خرڅ کړ ... شرميږی نه ،داسی نيغ نيغ روان يی ...

مخ یې ترې واړاوه ، ټنده یې ورته تروه کړه ،دمخابرې غږ.ته یې پام شو چې :

بزمچي !!... بزمچي !!... یادوې ، سریې وشړاوه :

بې غیرتو ! داسې بزمچیان !! مو نیولي ... دمردارو شمار مو وکړی ... الوتکې په وړلو پسې نه رسیږي ... سر یې نیغ کړ ، دکلي دماشومانو اوسپین ږیرو خواته یې وروليدل ښه ورته ځیر شو ، گوری چې احمد جان کاکا دسپین ږیرو دمنځ نه راووت :

وه ضابط صیب ! ته خو زموږدخپل وطن سړی یې ، دې روسانو ته ووایه چې زموږملا صیب راپریږدي ...

ضابط احمد جان کاکا تېل واهه :

څه کاکا ! په ځای کې ډوډریږه ...

ملاصیب دوه درې گامه مخکې ورته راواخیستل :

احمد جان کاکا ! زما دخلاصې په باب څه ورته ونه وایې ، چې شهادت به مې خراب شي ... مه کوه چې شهید مې کړي ... روسان په خپلو منځو کې سره وبوگنیدل ، یوه بل ته په غوږوکې څه وویل ، یو افغاني ضابط رامخې ته شو ملاصیب یې له لاسه ونیوه اودمخامخ پوڅې پر سریې کیناوه ملاصیب یو وار بیا لنگۍ پر سرسمه کړه پرږېره یې لاس راوواهه سر یې نیغ کړ پر شونډو یې دموسکا څپه راښکاره شوه او ورو ، ورو یې دایتونو لوستل پیل کړل .

دکلي سپین ږیرو اوماشومانو سلگۍ پیل کړې ، داوښکو مخې ته پروت بند یې ولوید اودټولو پر مخ داوښکو رودونه راروان شول ، هریوه سترگو ته څادر نیولی ؤ ، دملاصیب خواته به یې څیرڅیر وکتل اوبیرته به په سلگو شول .

روسان په خپلومنځو کې سره وبوگنیدل ،دوه تنه یې لږ مخکې شول اوملاصیب ته مخامخ دیو ټانک مخې ته ودریدل ، یوه یې ملاصیب خواته دکلاشینکوف خوله سمه کړه او ماشې ته یې گوته ورکړه ، دکلاشینکوف له خولې دگولې دوتلو سره جوخت دملاصیب له خولې دالله اکبر...

ملکوتي نعره ووته ، گولې یې په ټټر ولگیدې اودلگیدو سره سم ولوید ، دوه ،درې ځلې لېت په لېت واوښت سر یې دقبلې خواته ولوید پر ټټر یې دوینو سره سره رودونه راروان شول اودابدې ژوند ارمان یې پوره شو.

ولسي ادبیات

عوض الدین «صدیقي»

د«قریشي» شعر
دخلوص اوسپېڅلتیا ژوندۍ نمونه

«قریشي» دولسي شاعرانو په منځ کې دخلوص اوسپېڅلتیا ژوندۍ نمونه ده، دهغه په شعر کې داسلام اوجهاد سره تعهد اووفا په جوته توګه ترنظر راځي، دقریشي شعر دیوه مؤمن اودردېدلي زړه آوازدی دهغه شعر زموږدټولنې ستونزو، ویرونو، ویاړونو اواتلولیو ریښتنی اوحقیقي انځورګري ده هغه چې زموږپه ټولنه کې کومې ستونزې ،دردونه غمونه اوویرونه لیدلي بیا یې دخپل شعر له لارې هغه منعکس کړي اوله خپلواوښکو سره یې دقلم اوښکې غبرګې کړېدي اوبیا چې کله یې په ټولنه کې پر ویاړونو، اتلولیو، خوشحالیو اوسربښندنو باندې سترګې لګېدلې هغه یې په ډېر صدق اوصفا سره دهمدې اتلولیو داتلانو اوسربښندونکو په ستایلو سره ستایلي د«قریشي» شعر دیوه متعهد اوارمان جن انسان فریاددی هغه له کشمیره ترفلسطینه اوله فلسطینه ترافغانستانه چې دمسلمانانو څه ویاړونه لیدلي، یا اورېدلي هغه یې دځان ویاړبللي اوسریې پرې هسك نیولی:

موږ مسلمانان یو په دنیا کې لوړنشان-
لرو
ډېر قوي ایمان لرو
ننګ لرو، غیرت لرو، وحدت لرو،-
ایمان لرو
ډېر قوي ایمان لرو
موږ مسلمانان یوهم اسلام زموږ-
شعاردی
داموافتخاردی
تندر په دشمن یو په تاریخ کې ښه-
بیان لرو
ډېر قوي ایمان لرو
داسې سربازان چې هدایت له مدینې-
لري.

لوړی جذبی لري
سیال موچیرته نشته په دنیا دغه-
اعلان لرو
ډیر قوي ایمان لرو

د«قریشي» صیب اصلي نوم محمد رضا دی هغه دغزني ولایت دقره باغ په ولسوالی کی دالحاج مولانا نورمحمد «قریشي» په کورکی سترگی غړولی ، دفاروقي‌نورالمدارس کی دلومړیوزده کړو وروسته دغزني له لیسی څخه دبکلوریا سند لاس ته راوړی ،

اوترهغې وروسته یی دشرعیاتو له پوهنځی څخه لیسانس اخیستی .

«قریشي» صیب ددیني تعلیماتو دزده کړی ترڅنگ دشعر سنگر هم خالي نه دی پری ایښی ، هغه اوس هم ددی ترڅنگ چی په وانه کی دیوی دیني مدرسي مسؤولیت په غاړه لري دمجاهدینوویاړ نی‌اوتلولي دشعر په ژبه بیانوی ،دقریشي صیب شعر ډیر روان اوبی الایشه دی ، دهغه په اشعارو کی زیاتره داصحابو دکارنامو ذکر هم راځی ښایي دایي پر شعرونو ددیني زده کړی داغیزی محصول وی چی دده اشعارو ته دنورو ولسي شاعرانو په پرتله یو خاص امتیازورکوی :
دمجاهد دتکبیر غږ پورته اسمان ته-
رسي

نبی سلطان ته رسي
دمدیني نبي سلطان گوري ، غمونه-
ټول دمسلمان گوري
دالله (ج) دالوی امتحان گوري
دافغاني ځوانانو غږ.عربستان ته رسي
نبی سلطان ته رسي
داسي ځوانانو ته سلام زما ، دغه-
سلام په احترام زما
دااحترام دی وی مدام زما
دتوری شرنگ یی له کابله، بدخشان-
ته رسي
نبی سلطان ته رسي

«قریشي» صیب که څه هم چی کم شعروایي خوښه شعر وایي دهغه په شعر کی داسلام اوجهاد سره تعهد دی هغه که دشعر له لاری دیرگنو دراپارولو هلی ځلی کړی نو هغوی یی بیا په ډاگ هم نه دی پریښی ، هغوی دراپارولو ترڅنگ دهدف په لورسوق کړی ، دقریشي صیب په شعرکی درد دی ، ویر دی ، زموږپه ویرونو ژړل دی اوزموږپر ویاړونو ویاړل دی .

هغه دخپلي شاعری اودهغی دابتدا اوپیل په باب وایي : زموږپه کورکی دپخوا څخه د«پنج گنج ، گلستان ، بوستان ، یوسف زلیخا او... دفارسي اشعارو کتابونه لوستل کیدل، دهغوی لوستلوماکی هماغه دځواني په لومړی سرکی یوه جذبه راوپاروله اوما په (۱۵) کلنی کی خپل لومړی ښنتو شعرووایه ، زما پلار اوتره هم

زيات اشعار ويلي چې اكثره يې تصوفي دي »

«قريشي» صيب زموږ دقهرمان ولس قرباني اوقهرماني په ډيره ښه توگه منعكس كړي هغه زموږ دميړنيو مجاهدينو قهرماني ستايلې اودهغوی دلارې دمستدام كيدو لپاره يې دخپل فن له لارې دعوت چلولي دي:

دآسمان څنډې تكې سرې دي ربه
دپښتنوخويندو نعرې دي ربه
دشهيدانو جوړ قطاردې
مؤمنه جگ شه نن دواردې
وايې نعرې دې مسلمانو ورونو
اې زړورو افغانانو ورونو
داشوروې كافر مرداركړې
له خپله ملكه يې هم فراركړې
غيرت درپاتې په ميراث دې وروره
په خپل تاريخ كې انگريزان ؤگوره
غيرت دكړې لكه پلاردې
مؤمنه جگ شه نن دې واردې

«قريشي » صيب ډير زيات اشعار ويلي چې خپل زياتره اشعاريې د(٢٠) څخه زياتو كستونو كې ثبت كړي چې څه يې دجهاد گر موموزچو كې اوڅه يې دمهاجرو په كيمپوكې خپاره كړي ، دقريشي صيب ددردونكي اشعار له ډېوې خوا دلوستونكي له سترگواوښكې څڅوي نو بيا دحماسي اشعاريه لوستلوسره يې په وجد اوجذبې هم راولي هغه دشعر ويل له ډير پخوا څخه پيل كړي چې دټولو اشعارو شمير يې د(٥٠٠) په خواوشا كې دي خوهغه وايي : «ما دشوروي دكرغيړنى كودتا څخه مخكې چې كوم اشعارويلي ؤ ، هغه اكثره خلقيانو يوړل چې په دې توگه يې زما دهلوځلو ثمره دخاورو سره خاورې كړه» قريشي صيب په خپلو اشعارو كې زموږ دمجاهدينو كارنامې په ډيره ښه اوسپيڅلې توگه ستايلې هغه چې كله ليدلي په سيمه كې كوم مجاهد ياقوماندان اتلولي كوې ، قهرماني لاس ته راوړې اوداسلام دبرياليتوب لپاره سر نذرانه كوې بيا دكومې رياپرته يې استقبال ته وردانگلي اوپه خاص خلوص يې دهغه قهرماني ستايلي راځې وگوروهغه دپكتيا داتل قوماندان جلال الدين «حقاني » مقام څومره ښه ستايي:

لمر دی«حقانی » چې كل جهان پرې منوردی
كل عالم خبردی

كفراوكمونيزم ته نيولـــــــي يي سنگـــردي
كل عالم خبردي
ډيرښه گړندي دي دجهاد عظيم كاروان دي
دي يي قوماندان دي
ځكه يي وهلي ددښـــمن په زړه خنـــجردي
كل عالم خبردي
ډيرلري مـــجاهد ربـــه تـــه يي لري برحاله
خدايه ذوالجلاله
ځكه ژونـــد يي ټولو مـــومنانو ته اخترديکل عالم خبردي

(الخ) ٠٠٠

له نجیب سره مجاهد افغان ...

دکر همدا اوس هم قلعج دی اوددښمن الوتکی استفاده نشی ورڅخه کولی .

دچکری ، محمد آغی دکابل جنوبی خواوته سختی جگړی پیښې شوی ، په دی لندو ورځو کی شپږ پوستی په للندر او (۱۲) پوستی دبابوس په دښته کی مجاهدینو نیولی سربیره پردی په لوگر کی ددښمن یو شمیر مؤتړ اوټانکونه هم تخریب شویدی ، په کابل باندی له پغمان ، کوه صافی اوچکری نه دمجاهدینو توغندو یی یرغلونه دوام لری ، دیوولسمی فرقی دخادرنیس جنرال احمد شاه همدا اوس دمجاهدینو په مرمیو وژل شوی دی .

دکابل غزنی سړك دوردگو په سیمه کی بندری ، په غزنی کی «۱۷۰» تنه عسکر مجاهدینو ژوندی نیولی هلته اوس هم سختی جگړی دوام لری اودښمن ښه وارخطا دی دلغمان والی جنرال مهتاب-الدین پر مهترلام دیوه درانده عملیات په ترځ کی ټپی شو کابل ته یوړل شو چې هلته مړ شوی دی.دجلال آباد په سرخرود کی دولتی مرکزونه دمجاهدینو ترسخت فشار لاندی دی ، دمزدوررژیم قواو له سروبی نه ددغی محاصری دکړی ماتولو لپاره دمرستی په غرض دی لوری ته یوڅه قوه راواستوله خو ناکامه بیرته په شا وتښتیده .

دخوست زورهوایی میدان دډیرو ویجاړوالوتکو له لاسه داستفادی ورنه ؤ دکابل درژیم پلویانو دهغه ترڅنگ بل هوایی ډگرجوړکړپه هغه کی هم تراوسه پنځه طیاری تخریب شویدی اوپه هفته کی یوه دوی الوتکی خامخا پکی له منځه ځی ، دښمن په مجاهدینو یو تعرض وکړخوتلفات یی وزغمل اوناکام په شا ولاړل .

دزابل مرکز «قلات» دمجاهدینوله خواترسختی محاصری لاندی دی کوم اکمالاتی اوکومکی کتارچی له کندهارنه ورته راروان ؤ په لاره کی دمجاهدینو ترمردانه گوزارونو لاندی ټوټی ټوټی شو ، څه یی وسوځول شول اوڅه په تیښته کندهار ته بیرته وتښتیدل.ټولی ځمکنی لاری په قلات بندی دی اودښمن په پراشوتو کی دقلات دمحاصره شوی مرکزاکمالات کوی .

دکندهاردهوایی میدان په پوستو دمجاهدینوبریدونه دوام لری.دشوروی له پریکړی نه تراوسه پوری دکندهارپه هوایی ډگردری الوتکی راغورځول شوی اوسوځیدلی.دهلمند په ولایت کی هم جگړه روانه ده کومه قوه چی دهغوی دمرستی لپاره ورتله په ریگستان کی دمجاهدینو لخوا تردرنو عملیاتو لاندی راغله ، په بادغیس ، هرات اوفراه کی هم سختی جگړی دوام لری دبادغیس شا وخوا پوستی ټولی دمجاهدینو په لاس فتحه شویدی له هرات نه بادغیس ته چی کوم پوځی کاروان روان ؤهغه په لاره کی مجاهدینو ځپلی دی .

نورکالونه به دیخنی په موسم کی مجاهدین اوقوماندانان دلته پیښورته راتلل،پوځی عملیات اوبریدونه به لږیدل خو سږکال دخدای (ج) په فضل دادی گوروچی دیخنی په موسم کی هم دمجاهدینو دوامداربریالی

بریدونه روان دی یو پربل پسی
ددښمن بوځی پوستی
اومرکزونه فتحه کوی همدا
اوس سختی جگړی دوام لری
مجاهدینو دنورو کالونو په
نسبت یو والی او اتحاد ته هم
ډیره پاملرنه کړی ده اوترډیره
حده یی اختلافات ختم شویدی
داتود جنگ اوبریالی عملیات
ښیی چی نجیب چی کومه ادعا
کوی هغه دروغ ده. نجیب ددی
ادعا کوی چی مجاهدین ،
قومانداناناوجهاد مشران له
ماسره توافق ته رسیدلی دی
خو دادروغ ده ځکه هغه دی
ټول یی وینو چی جگړه
لاترنورو وختونو توده روانه ده
که چا له هغه سره توافق
درلودلی بیا باید جگړه نه وای
نجیب به موفق ؤ جنگ به نه ؤ ،
خو اوس وینو چی نجیب
وارخطا دی او جگړی ښه
زورنیولی دی .

همدارنگه داهم باید ووایم
نجیب چی په دی وروستیو
وختونو کی ژنیو ته تللی اوبیا
له ځنو کسانو سره دخبرو
اوتوافق ادعا کوی دقومانداناناو
دشوری دریځ په دی هکله
دادی چی له نجیب سره
مجاهدافغان په هیڅ صورت
نشی کتلی اوهرڅوک چی
ورسره گوری هغه دجهاد
اوزموږدمسلمان ملت دښمن دی.

دالحاج حقانی صاحب له
څرگندونو وروسته قوماندان
انورخان په لنډ ډول وویل:
دغه کنفرانس دنجیب دادعا
په باب دایر شویدی،نجیب ادعا
کوی چی هغه له ځنو جهادی
مشرانو سره لیدلی
اودافغانستان دربړی دحل په
باب توافق ته سره رسیدلی .
دقوماندانانو شوری دغه عمل
حرام اومردود بولی اوهرڅوک
چی داکار کوی هغه
دافغانستان دمسلمان ملت
دښمن اوخاین دی.

همدارنگه انورخان
دقوماندانانو دشوری په باب
وویل چی دغه شوری ورځ
ترورځی پراخیږی او لویږی ،
دقوماندانانو دعوت جریان لری
هره ورځ یو دوه تنه نوی
قوماندانان مراجعه کوی،ترڅو
دشوری غړیتوب ترلاسه کړی .

وروسته بیا دمازدیگرلمونځ په
جماعت سره اداْ شو اوله لمانځه
نه وروسته دڅو دقیقو لپاره
خبریالانو ته وخت ورکړل شو
چی له حقانی صاحب نه
دشوری په باب پوښتنی وکړی.

یوه تن ژورنالست په
انگلیسی له الحاج حقانی

صاحب نه پوښتنه وکړه چې په کابل— اوشاوخواپوستوخوډحکمتیار صاحب په قومانده عملیات روان دي تاسو هغه دقوماندانانو دسرتاسري شوری افتخارات ولي بولي؟دوهم داچې دجهاد ډیر مشهورقوماندانان خو په پیښورکي دي نو هلته به جهاد څوك كوي ؟

حقاني صاحب ددغه خبریال په ځواب كي داسي وويل :

دحكمتيارصاحب عمليات مجاهدينو اودقوماندانانو له عملياتو نه بيل نه دي خودادحكمتيار صاحب دهغي لويي حملي اوسرتاسري عملياتو جريان هم نه دي چې هغه مخكي طرحه كړي وه ، هغه سرتاسري لويه حمله دموسم دسړوالي په وجه وځنډوله شوه خو حكمتيارصاحب چې كوم عمليات كول هغه يي ددغه قوماندانانو په مشوره اومرسته كول ، حكمتيار هيڅكله هم دنورو قوماندانانو له ارځښت اورول نه سترګي نشي پټولي اونه يي پټوي .

دسوال ددوهمي برخي په باب وايم چې لومړي زه دانه منم چې مهم قوماندانان په پيښورکي دي اوس افغانستان دڅو محدودوقوماندانانو سنګر نه دي دلته په پيښورکي به يو څو تنه قوماندانان وي،هغه هم له خپلو جبهاتو سره مستقيم مخابروي ارتباط لري،بل داچې دي قوماندانانو اوس په جبهو کي داسي پياوړي قوماندانان روزلي چې ښه جنګ اداره کولي شي .

صدام حسين خو کويټ ته نه ژ تللي خو قوماندانان اوپوځونه يي استولي وو ، اوس په افغانستان کي جګړه هم ديوه قوماندان په موجوديت اونه موجوديت پوري اړه نه لري.

يو بل خبريال بيا پوښتنه وکړه چې :

داسي ويل کيږي چې دخوست دفتحي مخنيوي تاسو کوي ځکه که خوست فتحه شي په تاسو به مرستي وذريږي ځکه دخوست دقواږ قوماندانانو تاسو ته دتسليمي پيغام هم دراستولي ژ خو تاسو (حقاني) نه ژ قبول کړي .

حقاني صاحب ددغه خبريال په ځواب کي وويل :

داخبره له عقل سره منافي ده چې ماته دښمن دتسليمي پيغام رااستولي خو ما منفي ځواب ورکړي داخبره حقيقت نه لري ځکه يو قوماندان مصرفونه کوي،شهادتونه اوقرباني ورکوي ترڅو يو ځاى تسليم کړي،نو بيا داخو دعقل منافي ده چې په کوم ځاى دومره فشارراغلي وي چې هغي دتسليمي غږ کوي اوموږيي دغه غوښتنه رد کړو دغه خبره دروغ ده،خوشي پروپاګند دی .

سلطان صديقي ديوي پاکستاني ورځپاڼي خبريال پوښتنه وکړه چې دقوماندانانو شوري چې له نجيب سره خبري اتري ردوي که دنجيب رژيم سقوط وکړي تاسو هغو ته کوم متبادل قيادت اوچوکاټ لري ؟

حقاني صاحب ځواب ورکړ: هو! لرو يي،خوځرنګه چې دماښام دلمانځه وخت ژ کنفرانس رنګ شو له همدي امله ځني پوښتني له موږسره بي ځوابه پاتي شوي،

راغلي ليكونه



د «منبع الجهاد» داداری په نوم دکوټی ځخه دپښتو ژبی پیاوړی لیکوال اوشاعر ولی محمد ولی، یولیك رالیږلی چی دلته یی کټ مټ خپرو:

دلوی خدای په نامه!

خپل دمینی سلامونه **د منبع الجهاد مجلې کارکوونکو ته** وړاندی کوم.

خدای دی وکړی چی جوړ، روغ اوخوشحاله به یاست.دویمه پلا ده چی ستاسو اخبارونه اومجله راځی ، په دی معیاری لیکنو دزړه له کومی تبریکی درته وایم .

دولسم کال دی چی دافغانستان تاریخی پیښلیك - دویم ټوك (۱۹۰-۱۹۶۳) اوبل خپلواك افغانستان (۱۹۹۰-۱۹۷۸)چی پکی دهیواد پر جغرافیایی اجتماعی ، اقتصادی ، زراعتی ،روغتیایی ، ښوونه ، صنعتی ، ترانسپورتی ، نظامی ، فرهنگی ، تجارتی ، مالی اوسیاسی وضع په تفصیل سره ځیړنه کوم اوس یی پاك نویسه کوم له بده مرغه ماخذ (REFFERENCES) می یا اردو کتابونه دی یا انگریزی ، ددوی په مقابل کی پښتو اوفارسی کتابونه دنشت برابردی نه پوهیږم چی نشته اوکه زه ځنی بی برخی یم.مطلب دادی چی یوه ورقه هم زه دځان دپاره غنیمت گنم اودغسی لیکوالو او نوښتګر یی یا په پیسو یا بی پیسو دراليږلوهیله لرم .

دوی میاشتی دمخه زمامشر کاکاحاجی محمد خان اودوه دکاکا ځوانان زامن چی شپاړس شپاړس جماعتونه یی (M.A) یی پاس کړی وو دکمونستانو له خواشهیدان شول اوموږتراوسه دفاتحی پر کمپلو ناست وو زړه می غوښت چی مضمون دروليږم خو دغم دلاسه نه یم ورخلاص . پر لوی ښښتن می سپارلی یی ولی مخمد ولی،پښتو اکیډمی تږغی رود کوټه

خوږاوقدرمن وروروښاغلی ولی محمد ولی!

متقابلاً دمجلی دکارکوونکو سلامونه هم ومنئ !

موږپه داسی حال کی ددین اووطن دښمنانو له لاسه ستاسی دکورنی اوخپلوانو په شهادت خپله .خواشینی ځرگندوواوځان درسره په دی سترغم کی شریك گڼو دلوی خدای (ج) په دربارکی شهیدانو ته دمغفرت،تاسی اوستاسی کورنی اوخپلو خپلوانو ته دصبر جمیل اواجر جزیل غوښتنه کوو.

اوداچی زموږدخپرونو ستاینه اوقلمی همکاری ژمنه موکړی کوو ډیر مننه

درته وایو، ستاسی قلمی همکاری ته سترګی په لاریو. په درنښت
" اداره"

همدارنګه محترم ورورتازه خان دصوابی دپرکی کیمپ څخه ، شاه محمد حق دوست له میرامشاه څخه ، نورولی خان کابل ، دمیرانشاه دمحمودیه مدرسی څخه اواخترجان جهادیار دمیرامشاه دسراج العلوم روحانیه له مدرسی څخه دمجلی اداری په نوم لیکونه رالیږلی،دي ورونو دلیکونو په پیل کی دمجلی دتوصیف اودمجلی دمضامینو اوښه صحافت دستاینی وروسته دوی ته دمجلی دنه رسیدو شکایت کړی اوغوښتلی چی موږته ددی په خاطر چی دمجلی له مخلصو لوستونکو څخه یوو ، باید مجلی په خپلو ادرسونو راولیږی.

موږدی ورونو ته ددی ترڅنګ چی دمجلی دلاښایست په هیله ددوی نظریاتو اوورانديزونو ته سترګی په لاریو ، ددی ډاډ ورکوو چی انشاءالله تردی وروسته به مجله ددوی پر آدرسونوورولیږو .

همدارنګه محترم ورونو نورولی خان کابل خیل دلیك سره جوخت څولنډی اواخترجان جهادیاریو شعر هم رالیږلی چی د «جهاد هنداره » په ادبی صفحه کی به یی خپورکړو .

دکمونېزم کاغذي زمرګوک...

کچکول په غاړه اچولی اوشتمنو هیوادونوته یی دخیرات دراتلوګو لپاره لیږلی دي بیا هم دخوراکی موادو اومالونو څخه دبدی استفادی رپوټونه ورکول کیږی .

دکی ، جی ، بی یوه جنرال الکزاندرکارابینوف ویلی دی : هغه خوراکی مواد چی دمرستی په توګه دغربی هیوادونو څخه شوروی ته رسیدلی دی اړو کسانو ته ورکړل شوی خوهغه ۱۰٦ ملیونه تنه خوراکی اونورمواد چی له بهر څخه په عادی اومعمولی توګه راغلی په بندرونو اوګدامونوکی بند ساتل شوی دی .

ده وویل : له ګدامونو اوداورګاډو په ستیشنونوکی پرتو موادو څخه دولتی مسوولین ناوړه استفاده کوی اوپه توروبازارونوکی یی په خوچنده ګران قیمت پلوری همداوجه ده چی په مغازوکی هیڅ هم نه پیداکیږی اودخلکو کتارونه ورځ په ورځ اوږدیږی .

هغه زیاته کړه : که څه هم اوس مواد ډیر شویدي خوبیده اداره اودموادو دتوزیع لپاره دښه نظم دنه درلودلو له کبله خلك تراوسه هم سرګردانه دي په ځینو سیمو کی هیڅ موادنه پیداکیږی پداسی حال کی چی په بل ځای کی بیا پریمانی وی .

همداړول دکی ، جی ، بی استخباراتی دستګاه پدی وروستیو وختو کی څرګنده کړه چی دغربی هیوادونو څخه راغلی خوراکی مواد په رسمی توګه توربازارته ایستل کیدل .

هغه زیاته کړه چی یواځی له یوه فارم څخه هره ورځ پنځه ټنه غوښه درسمی لوړرتبه مامورینو له خوا غلا کیدله .

اوس ګورباچوف راویښ شوی اودکی ، جی ،بی کارکوونکو اوپټوپولیسو ته یی امرکړیدی چی دمتقاعدو پټو پولیسو په مرسته داختلاس کوونکو اومحتکرینو څخه مخنیوی وکړی.

بنګله دیش دبحران ..

ترتسلط اوواکمنی لاندی راشی .

که داوسنیو پیښو په نتیجه کی (عوامی لیك) بیا راژوندی شو اوحسینه واجد واکمنۍ ته ورسیده نودادبنګله دیشی مسلمانانو نه بلکه دهندوستان کامیابی ده زموږهیله اودعاده چی دبنګله دیش نوی رئیس جمهوراوډیوځ سرلښکر دهیواد اسلامی تشخیص برقراروساتی چی په همدی پوری دبنګله دیش آزادی خپلواکی اودفاع منحصره ده .(والسلام)

سیاست ضد وحدت...

مذکورعملاً به صحنه تبعیضات وتعصبات مذهبی،نژادی ولسانی مبدل شد بلکه اقدامات وتحریکات بخاطردامن زدن به تعصبات وتبعیضات ملی ، مذهبی ولسانی عملاً بچشم میخورد.

این واقعات برهبری ورهنمایی مستقیم مشاورین روسی پیش میرفت . انکشاف تعصبات وتبعیضات ملی ولسانی درافغانستان میتوانست انها رادراجرای وظیفه شان موفق سازد اما درظاهر با تبلیغات پر سروصدا ازتساوی حقوق ملیت ها اقوام وقبایل ساکن کشوردادمیزدند وانرا نمونه ازخدمات رژیم به حقوق باشنده گان کشوربشمارمی لوردند .

هدف نهایی روسهاازسیاست ملیت ها درافغانستان محو کامل تمام نهاد های که میتوانست براساس ان وحدت ملی درکشورما تامین گردد بود،تابتوانندبا بهم انداختن مردم ما به اشغال وحشیانه شان برکشوراسلامی ما افغانستان ادامه دهند .

این سیاست تعمدی که نهاد وبنیاد ان روی خیانت به مردم افغانستان گذاشته شده بود همچون روسها ورژیم کمونستی دست نشانده شان درکابل قابل تردید ومحکوم میباشد .

زه دواحدقیادت...

داسی اقدام لاری جهادی مشران دی ته اړکړی چی واحد قیادت ومنی . دواحد قیادت درامنځ ته کولو لپاره بله لاردشرعی اصولو سره سم انتخابات دی خو په اوسنیو حالاتو کی چی زموږدملت زیات شمیر وګړی مهاجر دی ،څه پاکستان ،څه په ایران څه په عربی هیوادونو اوځنی غربی هیوادونو کی اوسیږی. مجاهدین له دښمن سره په جهاد بوخت دی اویوشمیر وګړی ددښمن ترتسلط لاندی سیمو کی اوسیږی دانتخاباتو عملی کول مشکل ښکاری .

زه په پای بیا هم دواحد قیادت لپاره دالارغوره ګنم چی دینی علماْ، دقوم مشران، قوماندانان اوپه دین مین روشنفکران سره راټول شی په جهادی مشرانو فشارراوړی کیدای شی چی داکار دسیاسي ډګر اوجهادی مشرانو دوحدت سبب وګرځی .

په اخرکی دعاکوم خدای (ج) دی وکړی زموږملت اوجهادی قیادت له دغی سختی مرحلی نه بریمن ووځی . ومن الله التوفیق

بی ځوابه . . .

جوړوی زه می دځان په باب شکمن یم چی ویښ یم که ویده ، اوس دخیالونو په دنیا ورګډیم اوکه نوی تری راوتلی یم ؟ سترګی موښم ، شاوخواته می ځیر شم نه پوهیږم ترکوم تأثیرلاندی راغلی یم ، لاندی پر تصویر څو څاڅکی دی فکر کوم دباران دی چی پورته وګورم کوټه ده اوچت دی ، پر ځان نه پوهیږم ، ژاړم نه خو لاندی ټک ټک نوررانه څاڅکی هم توئیږی او ورو ورو پر تصویر جذبیږی اوچی بیاْ تصویر ته ګورم لکه دمحمدالله نعمتی څیره چی په درياب کی ډوبیږی شی .

د اوسپنیز هوډ خاوند...

اوزما دوږو قربانۍ یې دخپل دین په خاطر قبوله کړه.

الحاج مولانا جلال الدین حقانی اوس هم دخپل بې مثاله قیادت سره دخوست په لومړیو مورچو کې ناست او د خپل جنګی قوت، اولوړ عزم ورځ په ورځ پیاوړی کېږي .

ابدي ژوندي

شهید عثمان غني

شهید عثمان غنی دمحمدخان زوی په قوم ځدران و.

نوموړی په ۱۳۴۶هـ ش کال دسرانی سلطان خیلو دلغوړی په کلی کی زیږیدلی و. دثوردخونړۍ کودتا وروسته یی اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت کړی اوپه ۱۳۵۹هـ ش کال یی دته خیلو په مدرسه کی زده کړه پیل کړه ، اوبیا یی په ۱۳۶۷هـ ش کال دبنو په الفتح لیسه کی ځان شامل کړ. دزده کړی ترڅنګ یی داسلامی اوایمانی جذبی له مخی په وسله وال جهاد کی عملی برخه هم اخیستله . په ډیرو جهادی عملیاتو کی یی له نورومجاهدینو سره یوځای پردښمن مرګونی ګوزارونه کړل اودسر اومال درانه تلفات یی ورواړول .

بالاخره دغه نومیالی مجاهد په۱/ ۵/ ۱۳۶۹نیټه دشهادت لوړمقام ته ورسید .(انالله وانا الیه راجعون)

شهید عمبر ګل

عمبرګل دغمین خان زوي په ۱۳۴۲هش کال دپکتیا ولایت دخوست په لویه ولسوالي دصبریو دابو خیلو په کلي زیږیدلي و.

نوموړي په ۱۳۶۱هـ ش کال دکمونستانو پر ضد وسله وال جهاد پیل کړ.

دغه نومیالي مجاهدجهاد په دوران کي په ډیرو جهادي عملیاتو کي برخه اخیستي چي دلته یي دڅوني په توګه دتورغره ،شلکا اوشیخ امیر دعملیاتو یادونه کوو ، بالاخره په ۱۳۶۹/۴/۲۷نیټه دشلکا پوستي باندي دعملیاتوپه جریان کي دشهادت لوړمقام ته ورسید (انا لله وانا الیه راجعون)

شهید میرباشي

شهید میرباشي دزارزوي دپکتیا ولایت دځمکنیو دولسوالي دحسن خیلو دکلي اوسیدونکي په قوم مقبل ؤ .

نوموړي په ١٣٦٤هـ ش کال کې په وسله وال جهاد پیل وکړ اوپه ډیره میړانه یې دپکتیا ولایت په بیلو بیلوسیمو کې دملحدینو پر ضد جهادي فعالیتونو کې برخه واخیستي اوهرځل یې دښمنانو ته دسر اومال درانه تلفات وراړول .

په ١٣٦٩/٤/٣١نیټه دسلمان فارسي غنډ دمجاهدینو په ډله کې شامل او ـــ

بالاخره په ١٣٦٩/٦/٣٠نیټه ددښمن دراکټ دمرمۍ په ذریعه دشهادت لوړمقام ته ورسید . «انا لله وانا الیه راجعون »



شهید میرخانم .

شهید میرخانم دجرنیل زوي ؤ چې دپکتیا ولایت دزوړکوټ دولسوالي دوریشمیني دکلي اوسیدونکي په قوم منګل ؤ .

نوموړي په ١٣٦٣هـ ش کال په وسله وال جهاد پیل وکړ اودجهاد په دوران کې یې په ډیرو جهادي عملیاتو کې برخه اخیستي اوهرځل یې ددین اووطن دښمنانو ته دسر اومال درانه تلفات وراړولي دي .

بالاخره دغه تکړه مجاهد په ١٣٦٩/٦/٥نیټه د٢١کالو په عمر دسید کرم په ولسوالۍ کې له جګړې څخه وروسته دشهادت لوړمقام ته ورسید .(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید سهیل محمد

شهید سهیل محمد دعطا محمد زوي دپکتیا ولایت دیعقوبي ولسوالۍ دډمبر دکلي اوسیدونکي په قوم صبري ؤ .

نوموړي په ١٣٦٦ هـ ش کال کې دکفر اوالحاد پر ضد په وسله وال جهاد پیل وکړ .

نوموړي دسلمان فارسي دغنډ له نومیالیو اوزړورو مجاهدینو څخه ؤ ، دجهاد په دوران کې یې په ډیرو جهادي فعالیتونو کې برخه اخیستي.

بالاخره دحق لارې دغه تکړه مجاهد په ١٣٦٨/٥/١٠نیټه دجلال آباد په فارم ٢ کې ددښمن دالوتکې دبم په ذریعه دشهادت لوړمقام ته ورسید .«انا لله وانا الیه راجعون»

شهید صاحب نور

شهید صاحب نوردفیض محمد زوي دپکتیکا ولایت. دارگون دولسوالي دتوري خیلو دکلي اوسیدونکي په قوم محدران ؤ .

نوموړي په ۱۳٦٤هـ ش کال کي دکمونستانو په مقابل کي په وسله وال جهاد پیل کړي ؤ .

دجهاد په دوران کي په ډیرو جهادي فعالیتونو کي برخه اخیستي او

په ۱۸/۱۲/۱۳٦۷نیټه دسلمان فارسي دغنډ دقهرمانو مجاهدینو په ډله کي شامل شو .

بالاخره ۲٤/۹/۱۳٦۸نیټه ددرملکي په سیمه کي ددښمن دماشینداري په ذریعه دشهادت لوړمقام ته ورسید . «انا لله وانا الیه راجعون »

شهید مظفر خان

شهید مظفرخان په ۱۳٤۳ هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست په لویه ولسوالي دیعقوبیو په کلي کي زیږیدلي دي .

نوموړي داقتصادي مشکلاتو په درلودلو سره بیا هم دلوړعزم خاوندؤ او په ۱۳٦۰هـ ش کال یي دکمونستي حکومت په مقابل کي په وسله وال جهاد پیل کړي

بالاخره دغه زړوراونومیالي مجاهد په ۱۳٦۸ هـ ش کال دتوري غاړي په سیمه کي په داسي حالت کي چي په دهریانو یي دهوان توپ (MATRE_3) په وسله ډزي کولي دکمونستانوله خوا په شهادت ورسید.یاددي ژوندي اوروح دي ښادوي. (انا لله وانا الیه راجعون)



شهید مومین

شهید مومین دظریف زوي په ۱۳٤۹هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست په لویه ولسوالي کي زیږیدلي دي .

نوموړي دقوماندان سنګین ترقوماندي لاندي وسله وال جهاد پیل کړي اودپکتیا ولایت په اکثرو جګړو کي یي روسانو اودهغوي مزدورانو (خلقیانو ، پرچمیانو) ته دسر اومال زیات تاوانونه اړولي دي .

بالاخره دغه زړوراونومیالي مجاهدپه (۱۳٦۹/۵/۷) نیټه ددین اووطن دښمنانو سره په یوه مخامخ جنګ کي دشهادت لوړمقام ته ورسید ، یاد دي ژوندي اوروح دي ښادوي .(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید عبدالقدوس

عبدالقدوس

دعبدالباقی زوی دلوګرولایت دمرکزدالیاس ځان قلا اوسیدونکی په قوم ستانکزی ؤ.

نوموړی په ۱۳۶۲هـ ش کال دکفر او الحاد پر ضد وسله وال جهاد پیل کړی ؤ.

دجهاد په دوران کی یی په ډیرو جهادی عملیاتو کی ګډون کړی اوددین اووطن دښمنانوته یې زیات ځاني اومالي تلفات وراړولي دي.

په ۱۳۶۹/۱/۱۵نیته دسلما ن فارسی (رض) غند دزړورو مجاهدینو په ډله کی شامل شو او په ۱۳۶۹/۱/۲۸نیته دتورغر په محاذ کی ددښمن دتوپ دګولۍ په ذریعه دشهادت لوړمقام ته ورسید

«انا لله وانا الیه راجعون»

شهید حبیب الرحمن

حبیب الرحمن

دملك صاحب ببرك زوی دوردګو ولایت دچك ولسوالۍ دنیك پایقول دغلام قلا اوسیدونکی په قوم وردګ ؤ.

نوموړی په ۱۳٤٦هـ ش کال دي فاني نړۍ ته سترګي غړولي دي په ۱۳٦۲ هـ ش کال یی عملاً په وسله وال جهاد کی برخه واخیسته.

دغه نومیالی مجاهد په ۱۳٦۸/۹/۷نیته دسلمان فارسی (رض) دغنډ په زړورومجاهدینوکي شامل شو او په ۱۳٦۸/۱۱/۲۲ نیته د(۲۳) کالو په عمر دېړي په سیمه کي دهاوان دمرمۍ دپارچې په وسیله دشهادت لوړمقام ته ورسید.

«انا لله وانا الیه راجعون»

شهید امان الله

دحق دلاري قرباني امان الله دعبدالله زوي دفاریاب ولایت داند خوي ولسوالي داند خوي په کلي کي زیږیدلي اوپه قوم ازبك ؤ.

نوموړي دکابل دملحد رژیم له خوا په زوراوجبر سره دعسکري کولو دپاره نیول شوي ؤ اوپه عسکري کي یې داستخکام وظیفه په غاړه درلوده، ترڅو دوخت په پیدا کولوسره دخپلو مجاهدینو ورونو سره په ٦۷/۷/۵ نیته یوځای شواو په ٦۸/۵/۲۸کال یې دسلمان فارسي (رض) په غنډ لهمجاهدینوسره یوځای وسله وال جهاد پیل کړ بالاخره دغه زړه وراونومیالي مجاهد دتوري چیني دفتحه کیدو وروسته دشهادت لوړمقام ته ورسید، یا دوي ژوندي اوروح دي ښاد وي.

(انا لله وانا الیه راجعون).

شهيد بخت مال الدين

بخت مال الدين دحاجي جلال زوي په ۱۳۴۵هـ ش کال دپکتيا ولايت دخوست په لويه ولسوالي دعلي شيرو په علاقه داري کي زيږيدلي ؤ.

نوموړي په ۱۳۵۸هـ ش کال دخپلي کورنۍ سره دپاکستان اسلامي خاوري ته مهاجر شوي اودهجرت څخه وروسته يي په وسله وال جهاد پيل کړ.

بالاخره دغه زړوراونوميالي مجاهد په ۱۳۶۹هـ ش کال ددهريانو له خوا دشهادت لوړمقام ته ورسيد ياد دي ژوندي اوروح دي ښاد وي .(انا لله وانا اليه راجعون)

شهيد عظيم خان

عظيم خان دحاجي سردارزوي په ۱۳۴۳هـ ش کال دپکتيا ولايت دخوست په لويه ولسوالي ، دعلي شيرو علاقه داري دتوراوبه په کلي کي زيږيدلي ؤ .

نوموړي په ۱۳۶۸هـ ش کال دخپلي کورنۍ سره دپاکستان اسلامي خاوري ته مهاجر شوي اودهجرت سره سم يي په وسله وال جهاد پيل وکړ.

بالاخره دغه زړوراونوميالي مجاهد په ۱۳۶۷هـ ش کال دثورپه مياشت دکوکرک بابا په پوسته باندي دعملياتو پروخت ددهريانو له خوا دشهادت لوړمقام ته ورسيد ياد دي ژوندي اوروح دي ښاد وي .

(انا لله وانا اليه راجعون) .

شهيد قومندان مومين خان

مومين خان دګلاب خان زوي په ۱۳۴۳هـ ش کال دپکتيا ولايت دخوست د لويې ولسوالۍ د ګدرانو دزېړوک په کلي کي زيږيدلي ؤ.

نوموړي دثوردتوري کودتا له کيدو سره سم دپاکستان اسلامي خاوري ته هجرت کړي اودهجرت څخه وروسته يي دخان محمد ګربزترقوماندي لاندي په وسله وال جهاد پيل کړ.

بالاخره دشهادت لوړمقام ته ورسيد. ياددي ژوندي اوروح دي ښادوي .

(انا لله وانا اليه راجعون)

شهید طالب العلم محمد

شهید محمد عالم دملاعمر خان زوي په ۱۳۴۸هـ ش کال دپکتیا ولایت دزرمت ولسوالي دملاکلا په کلي کي زیږیدلي اوپه قوم موزي ؤ.

نوموړي په ۱۳٦٤هـ شن کال دملحدینو پر ضد وسله وال جهاد پیل کړي په ۱۳٦٦هـ ش کال کي دانوارالعلوم په مدرسه کي شامل شوي اودديني زده کړوپه خوا کي یي دخپلي ایماني جذبي له مخي دپکتیاولایت په اکثرو جګړو کي ګډون کړي .

بالاخره دغه زړوراونومیالي مجاهد په۱۳٦۹هـ ش کال دمیزان په (۹) نیټه دخوست په لویه ولسوالي دفارم باغ په شاوخوا کي ددهریانو له خوا په شهادت ورسید ، یاد دي ژوندي اوروح دي ښادوي.

انا لله وانا الیه راجعون .

شهید جمال الدین

شهید جمال الدین دمحمد اسحاق زوي دبغلان ولایت دنهرین ولسوالۍ دتنګي تبقان دکلي اوسیدونکي په قوم ځدران ؤ .

نوموړي ددیني علومو زده کړه کوله چي په افغانستان کي دثورخونړۍ کودتا وشوه اوکمونستان قدرت ته ورسیدل نوزده کړه تري پاتي شوه .

په ۱۳٦۸هـ ش کال کي دسلمان فارسي دغنډ دمجاهدینو په ډله کي شامل شو ، په ډیرو جهادي عملیاتو کي یي برخه واخیسته بالاخره دحق دسنګر دغه نومیالي مجاهد په ۱۳٦۸هـ ش کال دتورغر په سیمه کي دشهادت لوړمقام ته ورسید . «انا لله وانا الیه راجعون»



شهید حبیب الرحمن

شهید حبیب دریدي ګل زوي دوردګ ولایت دچك ولسوالي داله خیلو دکلي اوسیدونکي په قوم وردګ و.

نوموړي په ۱۳٤۹ه ش. کال زیږیدلي او به ۱۳٦۳ه ش کال یي دکمونستانو او ملحدینو پرضد وسله وال جهاد پیل کړي ؤپه ۲۲/۱۰/۱۳٦۸نیټه ددرملکيږه سیمه کي له دښمن سره په جګړه کي د (۲۱)کالو په عمر دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

«اناالله وانااليه راجعون

شهید غلام محي الدین

شهید غلام محي الدین د لعل میر زوي دبغلان ولایت دپلخمري ولسوالي ددره کلان دکلي اوسیدونکي په قوم تاجك ؤ.

نوموړي په ١٣٦٤هـ ش کال کي دملحدینوپرضد په وسله وال جهاد کي عملاً برخه واخیسته.

په ١٤/٤/٢٣٦٧ نیته دسلمان فارسي «رض» دغنډ دزړورومجاهدینو په ډله کي شامل شو.

بالاخره دغه نومیالي مجاهد په ٢٢/١٠/٢٣٦٨ نیټه ددرملکه په سیمه کي له دښمن سره دیوي مخامخ جګړي په ترڅ کي د (٢٦) کلونو په عمر دماشیندار ډمرمۍ په ذریعه دشهادت لوړمقام ته ورسید.

«اناالله واناالیه راجعون»

شهیدعبدالجبار

شهیدعبدالجبار خان دمیرزاخان زوي د وردګودولایت دچك ولسوالۍ او دالمیردادعلاقداري دجلګي داحمدخیلو دکلي اوسیدونکي ؤ .

نوموړي په ١٣٦٥هـ ش کال ددین او وطن دددښمنانو پرضد وسله وال جهاد پیل کړي ؤ. په ٦/٢/١٣٦٩ نیټه د سلمان فارسي «رض» دمجاهد ینو په ډله کي شامل شو .

بالاخره دحقي لاري دغه نومیالي مجاهد په ٣/٤/١٣٦٩ نیټه ددښمن دهاوان په مرمۍ ولګید او دخداي (ج) درضاپه لارکي یي دشهادت لوړ مقام په برخه شو.

«اناالله واناالیه راجعون »



شهید میربادشاه

شهید میربادشاه دشاه بهرام زوي په قوم مسعود او وردګ ولایت دچك ولسوالیه دظریف... او سیدونکي ؤ.

نوموړي په ١٣٤٤ هـ ش کال دي فاني نړي ته سترګي غړولي وي لومړني زده کړه یي د ———— دبمبایي په ښوونځي کي سرته ورسوله او بیا دلوړي ثانوي زده کړي لپاره دخوشحال خان په لیسه کي شامل شو زده کړه یي لاسرته نه وه رسولي چي دثور خونړي کودتاوشوه خپله زده کړه یي پریښود ه .

اسلامي هیواد پاکستان ته یې هجرت وکړ . په ١٣/١٠/٦٨ نیټه د سلمان فارسي «رض» په غنډ کې شامل شو او بالاخره د دښمن سره په یو مخامخ جنګ کې د شهادت لوړ مقام ترلاسه کړ.

(انا لله واناالیه راجعون)

بسم الله الرحمن الرحیم

ارشاد نبوی ﷺ

ترجمه:

ابوسعید خدری رضی الله عنه روایت نموده که :

مردی گفت : ای رسول الله ! کدامیک از مردم بهتر است ؟

فرمود : مؤمنی که در راه خدا جهاد جانی و مالی می کند .

گفت : باز کدام ؟ فرمود : باز مردیکه دریکی از دره ها از مردم کناره گرفته و پروردگارش را عبادت کند . و در روایتی آمده که : از خداوند ترسیده و مردم را از شر خود در امان بدارد .

«بخاری ومسلم»



دحضرت سلمان فارسی (رض) دغنډ قوماندان دغنډ له مجاهدینو سره دکتنې په حال کې